شهامت

دولسم کال، لومړی، پرلپسې٦٩مه ګڼه، رمضان المکرم١٤٣٩هق، جون٢٠١٨م

د ايمان پلورونکو فتوا
او زموږ د عظمتونو تاريخ...

ناروغه ترکيه!
بيا د خپل پخواني برم په پل ...

- هغه امير چې په ديدن يې سيراب نه شو
- اسلامي امارت په پټو خبرو او مرموزو هڅو باور نه لري!
- د الخندق عملياتو نشراتي انعکاس
- د غني او طالب د اوربند ترمنځ توپير ...!!
- تازه اسرائيلي وحشت او د اسلامي کانفرانس بېړنی غونډه
- مذهبي فشار !!
- پیام مهم فتح ولسوالی پرچمن فراه

په کابل کې د ديني عالمانو په نامه
د غونډې په غبرګون د طالبانو موقف

د نيکمرغه کوچني اختر په مناسبت د عاليقدر امير المؤمنين
شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله)
د مبارکې پيغام

د ولسواليو لنډ مهاله نيول
د يوه تسليحاتي تکتيک په توکه

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دولسم کال، لومړی، پرلپسې ۶۹مه ګڼه، رمضان المکرم ۱۴۳۹هق، جون ۲۰۱۸ م

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

لطيف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحيد''
نعيم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبيب

بیـــه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

یــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

لــــړلیـــک

ګـڼـه	عـــنـــوان	مخ
1	سرليکنه..	۱
2	دکوچني اختر په مناسبت د اميرالمؤمنين شيخ هبة الله حفظه الله پيغام..	۳
3	د ولسواليو لنډمهاله نيول د يوه تسليحاتي تکتيک په توګه.................	۷
4	پيام مهم فتح ولسوالی پرچمن –فراه..	۹
5	اسلامي امارت په پټو او مرموزو هڅو باور نه لري!..............................	۱۱
6	هغه امير چې په ديدن يې سيراب نه شو..	۱۳
7	شهيد منصور ولې شهيد کړای شو!؟...	۱۷
8	دغني او طالب د اوربند ترمنځ توپير..	۱۹
9	په کابل کې دديني عالمانو په نامه دغونډې په غبرګون دطالبانو موقف....	۲۱
10	د اسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار.......................................	۲۴
11	مذهبي فشار.!..	۲۸
12	د الخندق عملياتو کامياب جريان او د نيکوليسن تاريخي دروغ..............	۲۹
13	په يوه طرفه او مرموزو فتواګانو مسئله نه حل کيږي...........................	۳۲
14	د علماو په نوم غونډه او سوله؟..	۳۴
15	د امريکا د سفارت فتوا د درباري ملايانو له خولې	۳۵
16	ګلورينې پانې	۳۶
17	ناروغه ترکيه! بيا د خپل پخواني برم په پل......................................	۳۸
18	داسلامي تاريخ په اړه يوه کتنه او يوه څيړه	۴۱
19	د الخندق عملياتو نشراتي انعکاس..	۴۴
۲۰	ولسي غميزې او په اړه يې دوه ګونی چلند...	۴۶
۲۱	اې د حقې لارې لارويه! واوره!..	۴۸
۲۲	که د طالب د توري شرنګ نه وي، پوهيږئ چې امريکايان به درباري.....	۵۰
۲۳	د ظالم حاکم په مخ کې حق ويل	۵۲
۲۴	تازه اسرائيلي وحشت او د اسلامي کانفرانس بېړنۍ غونډه	۵۴
۲۵	د امام ابوحنيفه زيرکتيا...	۵۹
۲۶	عالمان دين يا مجريان فرمان ترامب..	۶۰
۲۷	د علماو له نامه څخه غلطه استفاده / د سترګو ليدلی حال.....................	۶۲
۲۸	د طالبانو الخندق عمليات ولې تر توقع زيات بريالي دي ؟!...................	۶۵
۲۹	د طالبانو اوربند او څو خبرې	۶۳

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان
بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com



بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

د ایمـان پلورونـکو فتوا
او زموږ دعظمتونو تاریـخ...

د۱۳۹۷ل کال د غبرګولي په ۱۴مه دوشنبې په ورځ پلازمینه (کابـل) کـې د امریکـا پـه فرمـایش ددینـي علماوو په نوم یوشمیر جعلي علماوو دامریکا دسفارت لخوا ترتیـب کـړي پریکـړه لیـک تـه دشرعـي فتـوا ورکولو مجرمانه جسارت وکړ

چې له مخې یې: هیواد کې د صلیبي امریکااونورو یرغلګرو په خلاف روان جهاد ناجایز اعلان کړ.

دا فتوا په داسې وخت کې اعلانیږي چې دافغانستان زمکه اوبـره فضـاء دواړه امریکایـان کنټرولـوي ، ټول مهم هوایي ډګرونه او ستراتیژک نظامي مراکز مخامخ دامریکا لخـوا اداره کـیږي، دسـیاسي ، قضـائي، دفاعي او اقتصادي چارو واک مستقیماً د امریکا په لاس کې دی ،دامریکا دنامشروع یوځي شـتون لـه املـه هره ورځ دافغانستان په ښارونو، کلیو او باندو کې د شپینیو عملیاتو او وحشیانه بمباردونو له امله لسګونه وګړي چې زیاتره یې ماشومان، میرمنې او سړي دي په شهادت رسي

افسوس! دهغو ایمان پلورونکو او ضمیر پلورونکوپه حال چې دځو ناچله سیکو اخستلوپه بدل کـې یـې په دومره نه بښونکي جنایت لاس پوري کړ چې تورته، سپین؛ او سپین تـه پـه تـور ویلـو شرم یـا خجالـت همنه حسوي او د دي تازه مردودګام په پورته کولو یې د افغان ولس دتلپاتي عظمتونو او ننګونو پـه تـاریخ خاورې واچولې.

هو! همداسې ایمان پلورونکو اشخاصو دتاریخ په نیږدې هر دور کې خپلو شخصي ګټو وټو ته پر ملي او اجتماعي ګټو لومړیتوب ورکړی ، ملي مفاخر، دیني اقدار او اجتماعي ارزښتونه یې له شخصي اغراضو او هوسونوڅخه قربان کړي آن دازادو ولسونوازادۍ او دخپلواکو ملتونو خپلواکۍ یې هم پلورلي او دکفر دغلبې لپاره یې د اسلامي شریعت دقاطعو حکمونو تحریف اوتغیر هم ندی دریغ کړی چې په دې توګه یې اسلام او مسلمانان تل له نه جبرا نیدونکو زیانونو او ازمایښتونو سره مخ کړي.

وړاندې دکمونستي ښکېلاک اوتاراج دورې پخلاف چې په ټول هېواد کې مستې جهادي ولولې په غورځنګ راغلې په مقابل کې یې کمونستانو دشؤن اسلامي په نامه یو شمیر پردیپالان دعلماوو په رنګ او لباس کې کې راټول کړل اوپري جهاد یې ناروا اومجاهدین یې دشیطان ورونه اعلان کړل

نن بعینه په هم هغه شکل امریکا د خپلو ناکامیو اوروسواییو دتوجیه کولو لپاره یوشمیر بې ضمیره اشخاص دعلماوو په نامه راټول کړل څود جهاد اومجاهدینو پرضد یې پري پورته شرمونکې فتوا لاسلیک او اعلان کړه.

له نیکمرغه چې ددغو ایمان پلورونکو په مقابل کې دهېواد دعلماوو بشپړ او قاطع اکثریت د روان جهاد اومجاهدینو په پلوی او ننګه ولاړدي او د کابل دلویې جرګې په خیمه کې د راټول شویو بې ضمیره او کرغیړنو عالم نما څیرو دغه اسلام ضد او افغانیت دښمنه ګام په کلکو ټکیو کې رد اومحکوموي دافغانستان ، اسلام او تاریخ په وړاندې یې نه بښونکې جفا اوخیانت تعبیروي

داسمه ده چې افغانان ددیني علماوو او روحانیونو پریکړو ته له زړو نه درناوی لري، خو چې داسلامي شریعت د نصوصو او حکمونو سره په ټکر نه وي، د هیواد دجیدو علماوو په نظر دکابل وروستی ناستې پریکړه له علمي او شرعي پلوه هیڅ ډول شرعي،عقلي او منطقي اهمیت نلري اونه به خدای مکړه دغه غیر شرعي او غیر علمي فتوا په هېواد کې په روان جهاد کوم منفي تاثیر ولري.

بل هردشعور خاوند ته ښکاره ده چې دافغان ولس دټولو اوسنیو بدمرغیو او ناخوالو عامل دامریکا پوځي شتون دی، څو چې امریکا له افغانستانه ځواکونه و نه باسي ترهغه پورې دسولې تمه عبث ده.

که امریکا واقعاً سولې ته درناوی ولري باید پخپله جارحانه تکلاره له سره بیا کتنه وکړي او د واقعي سولې راتلو لپاره له افغانستانه دخپلو عسکرو ویستلو په لارو چارو غور وکړي اودافغانانو ترمنځ نور په یو اوبل عنوان دنفرتونو تخم دشیندلو لاس واخلي.

د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت

د عالیقدر امیرالمؤمنین

شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

د مبارکی پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

إن الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له، ومن یضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له، وأشهد أن سیدنا ونبینا محمداً عبده ورسوله، صلی الله علیه وسلم، وعلی آله وأصحابه، ومن سار علی نهجه وتمسك بسنته إلی یوم الدین. وبعد!

قال الله تعالی: وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا (22) الاحزاب.

محترمو مسلمانانو، مؤمنو هیوادوالو او مجاهدینو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له هر څه نه مخکې، د نیکمرغه کوچني اختر مبارکي درته وړاندې کوم.

اختر مو مبارک شه! الله تعالی مو روژې، عبادات او ټول حسنه اعمال قبول وګرځوه. آمین

د اختر د خوښیو پدې شیبو کې درته د وروستیو جهادي فتوحاتو مبارکي وایم. د الخندق عملیاتو له پیل راپدیخوا د هیواد په مختلفو سیمو کې د ګڼ شمیر ولسوالیو مراکز او پراخې سیمې د مجاهدینو لخوا فتحه شوي دي. لله الحمد، الله تعالی د اسلامي امارت مجاهدینو ته د دښمن د یرغلونو په مقابل کې ثبات او استقامت ورنصیب کړی او د یرغلګرې امریکې له ظلم او وحشت نه ډکه ستراتیژي یې ناکامه کړې ده. الله تعالی دې د مؤمن ولس او مجاهدینو کوښښونه قرباني او د ټولو شهیدانو شهادتونه قبول کړي، زخمیانو ته دې الله تعالی عاجله شفاء ورنصیب او محبوسو مجاهدینو ته دې الله تعالی دنجات او آزادۍ اسباب برابر کړي. آمین یا رب العلمین

مسلمانانو وروڼو او خویندو!

د یرغلګرو په مقابل کې زموږ جهاد ، د دین، عقل او بشري قوانینو په ټولو معیارونو برابر او ثابت دی. زموږ د مرام خلاصه دا ده چې زموږ مسلمان ولس باید له خپلې اسلامي عقیدې سره سم د اسلامي نظام تر سیوري لاندې

آزاد ژوند وکړي خو د وخت جابر امريکايي طاغوت او ملګري يې غواړي چې په موږ باندې خپله نظريه وتپي، زموږ هيواد د يوې پوځي اډې په حيث تر اشغال لاندې ولري او له موږ څخه د ژوند اساسي حق(آزادي) سلب کړي.

امريکايي يرغلګر زموږ د هيوادوالو د ځپلو په برخه کې له هيڅ ظلم او قساوت څخه دريغ نه کوي، زموږ په کليو، ښارونو، جوماتونو، مدرسو او نورو مراسمو باندې بمباري کوي، عام ولسي وګړي وژني، د کورونو پرېښودلو ته يې اړباسي او په زرګونو افغانان په زندانونو کې په وحشتناکو شکنجو ځوروي. قضايي مصئونيت يې هم ځانته ورکړی چې څوک يې پوښتنه هم ونکړي شي. له دې علاوه غواړي په هيواد کې نوې فتنې،بداخلاقي، تعصبات او جنجالونه راپيدا کړي، د هيواد غني ذخاير مو لوټ کړي، د خپلو استعماري اهدافو لپاره دلته نوې جنګي ډلې جوړوي او هڅه کوي زموږ هيواد د ټولې سيمې او ګاونډ يانو په وړاندې د يوه مخالف سنګر په حيث وکاروي. که د امريکايي اشغالګرو دغه خطرناکه پاليسي عملي کيدوته پرېښودل شي، نو ټوله سيمه، په ځانګړي ډول زموږ هيواد او ولس به په داسې مشکلاتو او دښمنيو کې را ګير کړي چې بيا به يې د خلاصون لاره نه وي.

له دې ټولو بد مرغيو څخه د نجات يوازينۍ لاره دا ده چې امريکايي او نور اشغالګر پوځونه زموږ له هيواده ووځي، اسلامي، خپلواک او افغان شموله نظام حاکم شي، زموږ جهاد په همدې هدف پيل شوی او همدې مرام ته د رسيدو لپاره مو د مسلح جهاد سره سره د تفاهم او مذاکراتو دروازه هم پرانيستې پريښې ده، چې د اسلامي امارت سياسي دفتر په همدې برخه کې د امارت د يوازنۍ مرجع په توګه فعاليت لري.

که امريکايي چارواکي واقعا د افغانستان د قضيې په سوله ايز حل باور لري بايد مستقيما د مذاکراتو ميز ته راشي تر څو د اشغال دغه غميزه چې لوی زيان يې د افغانستان او امريکا ولسونو ته رسيږي، د خبرو له لارې حل شي.

دامريکايي چارواکو لويه اشتباه داده چې په هره موضوع کي له سرزوري نه کار اخلي خو زور هرځای نتيجه نه ور کوي.

موږ د يو مسلمان ملت په حيث حق لرو چې په هره ممکنه لاره وي اشغالګر له خپل ملک څخه وباسو. که پرون مو د انګليسي يرغل اوبيا شوروي اتحاد د يرغل په وړاندې جهاد مشروع او برحق و نن مو د امريکايي اشغال په وړاندې هم جهاد هماغه ډول مشروع او برحق دی. هيڅ دليل نشته چې د پرون اشغال رد کړو او د نن اشغال ته سر ټيټ کړو.

دنړۍ او افغانستان علماءکرامو ته مې خصوصي پيغام دادی چې امريکا او ملګرو يې په نورو ټولو برخوکي تقريبا ماتې خوړلې، اوس کوښښ کوي چې دعلماءکرامو له نامه نه دځان په ګټه استفاده وکړي. دغوی حيثيت او بې داغه تاريخ داغداره کړي،دخپل مؤمن ولس په زړونو او ذهنونو کي يې ځای او وقار ورختم کړي ،نوبايد چې علماءکرام ډير ورته متوجه او ځيرک واوسي چې خدای مکړه په يوه اوبل هيواد کي د دوی له ناستو ولاړو اوغونډو نه داسي استفاده و نه کړي چې د اسلامي خاوري له اشغال نه توجه په بل لوري واړوي او په قران اوحديث ثابت مقدس جهاد خپلمنځي جګړه تعبير کړي.

افغان مجاهد ولسه !

دا چې يرغلګر دښمن له تاسو سره د مقابلې په هرسنګر کې له ماتې سره مخامخ دی نو يواځې د خپلې تبليغاتي ميډيا په مټ يې د مجاهدينو خلاف خپله

پروپاګنډه توده ساتلې ، هغوي کله مجاهدینو ته ترهګر وايي او کله يې هم برحق دفاعي مقاومت نورو جهتونو ته منسو بوي ، خو حقیقت دا دی چې مجاهدین ستاسي وروڼه او زامن دي، ستاسي د دین او خاوري مدافعین دي. نو که دښمن پلوه رسنۍ هر څه وايي تاسو ته خو حقیقت د لمر په شان واضح او هرڅه دسر په سترګو وینئ. تاسو د دښمن په تبلیغاتو باور مه کوئ بلکې پر خپلو حواسو او درک اعتماد وکړئ. د اسلامي امارت مجاهدین یوازې همدا غواړي چې تاسو د قرآن کریم په هداياتو منور ژوند ولرئ، له معیاري تعلیم، شرعي نظام، خپلواکۍ، وقار، سرلوړۍ او سوله ییز ژوند څخه برخمن شئ او راتلونکي نسلونه مو د کفري اشغال له تباه کوونکو اغیزو څخه خوندي پاتې شي. موږ ديني او عصري زده کړې د ټولو افغانانو او افغاني ټولنې د کامیابي لپاره اړينې بولو.

د الله تعالی په نصرت سره مو تر خپل واک لاندې ساحو کې مثالي امن تامین کړی او د خپل توان او امکاناتو په اندازه مو د ولس د هوساینې، تعلیم او پرمختګ په برخه کې اقدامات کړي. د راتلونکې په اړه هم هیوادوالو ته ډاډ ورکوو چې ان شاءالله د هیواد راتلونکی به روښانه او له سولې او رفاه سره مل وي.

د دې لپاره چې زموږ ولس په ځان بسیا شي، خلکو ته کار پیدا شي، محلي اقتصاد وغوړيږي او خلکو ته په خپل وطن کې د حلالې روزي ګټلو امکانات میسر شي، موږ ټولو شتمنو هیوادوالو، تجارانو او کاروباري وروڼو ته دعوت ورکوو چې په ټول افغانستان په تیره بیا د مجاهدینو تر واک لاندې ساحو کې،زراعت او مالداري ته وده ورکړي، فابریکې او کارځايونه جوړ کړي، اسلامي امارت به له دوی سره هر راز مرسته وکړي.

د اسلامي امارت په اند، د ملکي تلفاتو موضوع له ډیرو مهمو او اساسي موضوعاتو څخه ده. خپل ولس ته ډاډ ورکوو چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره موږ خپل ټول وس کړی او بيا يې هم کوو.

په اسلام کې د بې ګناه مسلمان قتل له شرک وروسته دوهمهستره ګناه ده، هیڅ د ایمان خاوند نه غواړي چې داسې ګناه ترسره کړي .زموږ مجاهدین چې د الله تعالی د رضا لپاره يې د جهاد سترې ژوند پر ځان منلی کله به هم داسې کار ته زړه ښه نه کړي چې هغه د الله تعالی د سخت نارضایت سبب ګرځي. خو په دې برخه کې حقیقت دا دی چې د ملکي وژنو ډیری غمیزې خپله د اشغالګرو او یا د هغو ډلو لخوا په مرموز او قصدي ډول رامنځته کیږي چې د اشغال تر سیوري لاندې د جهادي مقاومت د کمزوري کولو او بدنامولو لپاره را پیداشوي او د هغوی لخوا اکمالیږي. نو ولس باید متوجه وي، د هرې پیښې ماهیت او کیفیت ته دې ژور فکر وکړي او د دښمن په تبلیغاتو پسې دې نه ځي.

د دښمن په لیکو کې ولاړو عسکرو، ملکي او پوځي منسوبینو او ټولو کارمندانو ته مو پیغام دا دی چې تاسو د همدې خاورې او ولس بچیان یاست، پلرونه او نیکونه مو ټول مسلمان او د قرآن او اسلام پیروان تېر شوي، تاسو ته په هیڅ دلیل جایزه نه ده چې د خپل مجاهد ولس خلاف د هغو اشغالګرو تر قومنده لاندې وجنګیږئ چې زموږ د اسلام او قرآن سرسخته دښمنان دي، زموږ هیواد يې اشغال کړی او زموږ په ولس ظلمونه کوي.

له تاسو سره زموږ مخالفت یوازې په همدې ټکي دی، که تاسو د اشغالګرو له ملګرتیا لاس واخلئ، زموږ وروڼه یاست، مجاهدین لکه څرنګه چې د هیواد په لراو بر کې هره ورځ له دښمنه را جلا کیدونکو عسکرو ته هر کلی وايي، د جنګي اسیرانو ساتنه او تداوي کوي ، تاسو ته هم

د سر او مال امن درکوي. نو تاسو هم د خپل دنیوي او اخروي نجات لپاره اقدام وکړئ او مخکې له دې چې د امریکایانو په ملګرتیا کې ووژل شئ د اشغالګرو له صف څخه ځانونه رابېل کړئ.

د امریکایي حکومت لخوا بیت المقدس ښار ته د سفارت انتقال هغه اقدام دی چې له اسلام، اسلامي امت او اسلامي شعائرو سره یې د امریکایي چارواکو دښمني نوره هم څرګنده کړه، موږ دغه اقدام په کلکو ټکو غندو د مسلما نانو د لومړۍ قبلې (الاقصی) قضیه د اسلامي امت قضیه ګڼو او بیت المقدس ښار د اسلامي نړۍ نه بیلیدونکې برخه بولو.

په پای کې مو مجاهدینو او سیمه ییزو مسؤلینو ته پیغام دا دی چې خپل مسؤلیتونه هغه که نظامي وي او یا هم ملکي، په ډیر جدیت او اخلاص سره ترسره کړي.

د هیواد ټولې هغه سیمې چې د مجاهدینو اداري پکښې فعالې دي، د مجاهدینو لپاره یوه لویه ازموینه ده چې آیا اوس له خپلو شعارونو او مدعا سره سم د ولس خدمت او د اسلامي عدالت تعمیل کوي او که نه؟

موږ تاسو هر یو الله تعالی ته مسؤل یو، له هر چا څخه به د هغه د مسؤلیت او تر لاس لاندې رعیت په اړه پوښتنه کیږي. الله تعالی خبیر او په هر څه عالم دی، باید چې معامله مو له الله تعالی سره وي او خاص د الله تعالی د رضا په خاطر د الله تعالی د مخلوق خدمت په ښه طریقه سره انجام کړو. له خلکو سره ښه رویه، نرم اخلاق، تواضع او حلم باید خپل عادت جوړ کړو. نبي کریم علیه الصلاة والسلام حضرت معاذ ابن جبل (رض) ته فرمایلي:

إتق الله حیثما کنت، إتبع السیئة الحسنة تمحها و خالق الناس بخلق حسن. رواه ترمذي وقال: حدیث حسن.

ترجمه : ویریږه دالله څخه هرچیرته چې یې، د بدي وروسته نیکي وکړه چې هغه محوه کړي اوپه ښو اخلاقو له خلکو سره معامله کوه.

ټول مسئولین باید دولس خدمت او درعیت حقوق ور ته رسول خپل مسئولیت وګڼي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته، فالإمام راع وهو مسئول عن رعیته، والرجل راع في أهله وهو مسئول عن رعیته" [رواه البخاري، ومسلم]

هر یو له تاسو څخه شپون او ساتونکی دی ،او له هر ساتونکي څخه به د هغه د رعیت په اړه پوښتنه کېږي .

امام څارونکی او دخپل رعیت مسؤل دی ، یو سړی د خپل کور څارونکی او ساتونکی دی ، او له هغه څخه به د خپل کور د رعیت په اړه پوښتنه کېږي

په پای کې یو ځل بیا د نیکمرغه کوچني اختر مبارکي درته وایم، له ټولو مجاهدینو او عام ولس څخه مې غوښتنه ده چې د کلي او ګاونډ غریبان، یتیمان، کونډې او بې وسه مسلمانان او د محبوسینو کورنۍ د اختر په خوښیو کې هیر نه کړي، له هغوی سره مرسته وکړي، تر څو هغوی هم اختر ولمانځي او د خوښیو له دې فرصت نه محروم پاته نه شي.

والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

د اسلامي امارت زعیم

امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوی هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

۲۷ رمضان المبارک ۱۴۳۹ هـ ق

۱۳۷۹/۳/۲۲ هـ ش

12/6/2018 م



د ولسواليو لنډ مهاله نيول

د يوه تسليحاتي تکتيک په توګه

شاهد (غزنيوال)

د سږني کال د الخندق عملياتو له پيل سره سم مجاهدينو د هيواد په بيلابيلو سيمو کې متعدد شمير ولسوالۍ، سيمې او پوځي مرکزونه د دښمن له ځواکونو څخه ونيول.

د دغو فتوحاتو لړۍ له شمال زون څخه پيل تر مرکز غزني او بيا جنوب غرب حوزې فراه ولايت پورې په ډيره چټکۍ سره ورسيده.

د ولسواليو او پوځي مراکزو فتح کول بر سيره پردې چې په پوځي لحاظ د مجاهدينو مورال ډير ورسره لوړيږي د مجاهدينو د پوځي اکمال او تسليحاتي تجهيز يوه غوره تکتيک هم دی.

ځکه مجاهدين له دې پرته چې له دښمن څخه د غنيمتونو له لارې خپل تسليحاتي اکمال وکړي بله د تجهيزهيڅ منبع نه لري.

همدا وجه ده چې مجاهدين د ولسواليو او پوځي سيمو فتح کول د يوه منظم عملياتي پلان له مخې د خپل تسليحاتي تجهيز په غرض تر سره کوي.

هغـوی چـې د هیـواد پـه هـره سـیمه کـې د پـوځي او لوجیستیکي موادو لـه کمښـت سره مـخ وي هلتـه د دښـمن پرشـته مرکزونـو د محـاصرې کـړی تنگـه او بـالاخره بریـد وکړي.

له دغه ډول بریدونو څخه یې د دښمن پر ځپلـو عـلاوه دا مقصـد هـم وي چـې د دښـمن لـه غنـائمو څخـه خپـل تسلیحاتي اکمال وکړي.

ښایي له ډیرو سره دا پوښتنه مطرح وي چې مجاهـدین ولې فقط د یوې دوو ورځو لپاره یوه ولسوالی، یا یـو پـوځي مرکز او یا هم یوه سیمه نیسي او د دښمن د متقابـل بریـد پـه ترڅ کې بیرته ور پریږدي.

د دغې پوښـتنې پـه ځـواب کـې بایـد وویـل شي چـې مجاهدین دا سیمې هلته د پاتې کیدو او یا په دائمـي ډول لـه ځان سره ساتلو په غرض نـه نیسيـ؛ بلکـې د هغـوی اصـلي هدف هلته شته غنائم تر لاسه کول او دښمن ته خپل پـوځي زور ورښکاره کول دي.

ځکه دښمن هم چې کلـه هغـه سیمې بیرتـه نیسيـ پـه خپل زور او وړتیا سره یې نشـوای نیـولی؛ بلکـې د یرغلگـرو امریکایانو د هوایي ملاتړ په مټ یې نیسي.

مجاهدین په دغه غلچکي برید کې له یوې خوا دښمن ته دا ثابته کړي چې په یادې سیمي کـې سـتاسي موجودیـت ستاسي د خپل توان محصول نه، بلکې د یرغلگـرو د الوتکـو د بمونو محصول دی او له بلـې خـوا لـه هغـوي څخـه د تـر لاسـه کړیـو غنـائمو پـه مـټ پـه سیمه کـې د نـورو مـوثرو عملیاتي پلانونو لپاره ځان اکمال کړي.

د بیلگې په ډول د فراه په وروسـتیو عملیـاتو کـې چـې مجاهدینو د یوې ورځې لپاره د فـراه مرکـز تـر خپلـې ولکـې لاندې راوست په پوځي لحاظ یـې لـه دښـمن څخـه دومـره پوځي اکمالات غنیمت کړل چې کولای شي په یـاد ولایـت کې یو کال د امریکایانو او د هغوی د ملاتړو مقابله ورباندې وکړي.

دا هسي تبلیغاتي ادعاوې نه؛ بلکې هغـه واقعیتونـه دي چې هم دښمن ورباندې اعـتراف کـړی دي او هـم د هیـواد پوځي کار پوهانو وخت نـا وخـت د مجاهـدینو (طالبـانو) د دې تکتیک په اړه خپلې ارزونې لرلې دي.

د بیلگـې پـه توگـه پـوځي کـارپوه جـنرال غـرزي خواخوږی له مسیر ورځپاڼې سره په مرکه کې وایي:

((طالبـان د دې لپـاره چـې ځانونـه تجهیـز کـړي د ولسوالیو او پوستو پر نیولو تمرکز کوي او پـه دې چـاره کـې بریالي هم دي.

نوموړي زیاتوي: ((طالبانو یوازې د فراه له مرکز څخـه د میلیونونه ډالرو په ارزښت تجهیزات تر لاسه کـړل، دوی دا تجهیزات بېرته د افغان ځواکونـو پـر ضـد کـاروي او پـه دې سره جگړه لا زیاته پېچلې کېږي))

د غرزي په خبره د ولسوالیو لنډ مهالی سـقوط او بېرتـه نیول د وسله والو طالبانو له تجهیز پرته بله هېڅ مانـا نـه شي لرلی.

خلاصه داچې د مجاهدینو لخوا د ولسوالیو لنـډ مهالـه نیول تر اوسه پوري د الخندق عملیاتو د یـوه جنگـي تکتیـک په حیث د دغو عملیاتو پـه تسـلیحاتي اکـمال کـې ښـه رول لرلی دی.

ښـایي د همـدې جنگـي تکتیـک لـه لارې مجاهـدین وتوانیږي چې د الخندق عملیاتو په دوهمـه عملیـاتي مرحلـه کې د ډیرو ولایتونو د مراکزو فتح کولو ته ځان ورسوي.

پیام مهم فتح ولسوالی پرچمن فراه

ولسوالی پرچمن فراه لله الحمد بدون هیچگونه تلفات، به کنترول مجاهدین امارت اسلامی در آمد چیزیکه در نوع خود خبری بس مهم، مسرت بخش و روحیه افزاست بالخصوص برای فرزندان دلیر اسلام که در این شب و روزهای گرم و پر فیض ماه مبارک رمضان، ساحهء عملیات ها و پیشرفت های نظامی خود را در جای جای کشور گسترش داده و فراخ نموده اند؛ و با خلق حماسه های کم نظیر و فتوحات ارزشمند، چشم و دل امت اسلامی را خنک و خوشحال می کنند؛ اما شاید با جرئت بتوان گفت فتح ولسوالی پرچمن در نوع خود کم نظیر بوده و پیام مهمی را به اداره کابل و حامیان خارجی آن انعکاس داد و آن اینکه امارت اسلامی افغانستان با پالیسی خیرخواهانهء عفو و بخشش خود زمینه یکجا شدن آنهایی که ضمیرشان تا هنوز زنده و کسانی که در صف اداره کابل منیب و علاقهء پیوستن به نظام اسلامی را دارند مساعد ساخته و عملا نشان داده اند که با تسلیم شوندگان رویه بسیار نیک اسلامی و انسانی داشته و آنگاه که کسانی از صف دشمن به صف شان می پیوندد چنان با خون گرمی و محبت استقبال شان می کنند که (تسلیم شوندگان) در عمر خود شاهد چنین قدردانی و سپاس نبوده اند.

بماند اینکه مجاهدین با فتح ولسوالی پرچمن فراه به چه تجهیزات مهم نظامی دست یافته و اینکه با آزادی این ولسوالی که از موقعیت استراتیژیکی بسیار خوبی برخوردار است ساحهء مبارزه شان را تا کجا گسترش داده و اینکه چگونه توانسته اند افراد قدرتمند یک ولسوالی تحت حاکمیت اداره کابل را با دل و جان به یکباره با مجاهدین یکجا کنند؛ ما اما در این مجال مختصر به نکات مهم و برجسته و قابل تامل فتح این ولسوالی اشاره کرده و توضیح میدهیم پیام مهمی که از فتح این ولسوالی به دنیا مخابره شد چه بود.

بطور خلاصه فتح ولسوالی پرچمن ولایت فراه، حاوی پیام ارزشمندی است که چند نکته را برملا ساخت که بطور فشرده عرض می شود:

الف: تاثیر پیام عفو مجاهدین

پیام عفو که به اشکال مختلف از طریق رسانه های خبری مجاهدین و توسط کمسیون جلب و جذب و سایر ارگان های مربوطه دست به دست شد که از حقیقت حال مجاهدین و دلسوزی شان نسبت به فریب خورده های اداره کابل خبر می داد؛ این پیام تاثیر فوق العاده در زندگی سربازان حکومت داشته و بیش از پیش آنها را مشتاق و امیدوار پیوستن با مجاهدین کرد، و در وجودشان ایجاد انگیزه نمود که (به جای هدف گرفتن برادران مجاهد خود) باید دشمن اصلی را هدف بگیرند که همانا امریکا و همپیمانان آن است.

ب: سرخوردگی سربازان از رژیم

چیز دیگری که سبب شد و می شود مثل ولسوالی پرچمن، افراد در حال وظیفه دشمن به سوی مجاهدین جذب شود همانا سرخوردگی سربازان رژیم از اداره‌ء کابل است؛ چراکه (موظفین اداره کابل) کم و بیش به این حقیقت رسیده و یا می رسند که در صف اداره کابل چیزی جز جنگیدن برای منافع امریکا و کسانی که به سود امریکا هستند؛ هیچ فایده به خود، خانواده، خاک و آخرت خود رسانده نمی توانند و آنگاه که کشته و یا مجروح و معلول می شوند اداره بی صاحب کابل آنها را فراموش کرده و دگر هیچ یادی از آنها نمی کند، نیز از پول معاشات آنها دزدی می شود، گوشتهای فاسد به خوردشان داده می شود و مثل نوکر درجه یک از آنها کار می کشند و شب و روز عرق می ریزند ولی دست آخر آن عرق ریزی شان به جای آنکه در راه خدا و آزادی سرزمین شان باشد در راه امریکا و نوکران درجه یک امریکاست این چیز از عوامل مهم سرخوردگی و دلشکستگی شدید سربازان رژیم نسبت به اداره مرکزی شده و برای نجات جان خود و آینده مجبور اند دست بکشند و یا با افتخار در صف برادران مجاهد خود شامل شوند.

ج: دروغ رسانه ای

یکی دیگر از عوامل رجوع سربازان رژیم به سوی مجاهدین (که در فتح پرچمن این پیام داده شد) اینست که سربازان رژیم مثل سایر ملت حق طلب و حقیقت جو از دروغهای شاخدار و مکرر اداره کابل و مخصوصا راپورهای خیلی جعلی و دروغین آن که توسط سخنگویان رسمی رژیم در ارگان های مختلف ارایه می شود خسته شده و سربازان رژیم را عصبانی و علیه اداره کابل شورانده است؛ مثلا وقتی می بینند ده ها عسکر هم رزم شان در پیش چشم شان کشته می شود یا صدها فامیل عسکرها بی کس و بی سرپرست می شوند ارگان های مختلف رژیم یا هیچ توجه نمی کنند یا اگر هم میکنند راپورهای غلط و دروغین به نشر می رسانند، صرف یک تبلیغات است که دشمن می کند و یک واقعیت است که ملت می بیند؛ امروزه خوشبختانه حتی عساکر رژیم به دروغهای اداره کابل پی برده و تشنه‌ء پیوستن به مجاهدین بوده و یا به دنبال راه فرار اند.

همچنین وقتی سربازها خودشان و یا از طریق ملت آگاهی می یابند که مجاهدین بدون وابستگی به هیچ جهت خارجی به مبارزه برحق شان ادامه می دهد و تجهیزات که در اختیار دارند بدون آنکه از کدام کشور خارجی باشد و بلکه همان تجهیزات کهنه یا فرسوده و یا تجهیزات مدرن و پیشرفته‌ء است که به همت خود از نیروهای دولتی به غنیمت گرفته اند با دانستن این حقیقت نیز بسیار متاثر می شوند.

د: ظلم و بربریت امریکا

از دیگر عوامل تاثیر گذار در تصرف و فتح ولسوالی پرچمن می توان به ظلمها و وحشتهای امریکا و ناتو در افغانستان اشاره کرد که روز به روز متاسفانه شدید و شدیدتر می شود حتی در بسیاری مناطق به بارها دیده یا شنیده شده که بالای خود عساکر رژیم نیز (امریکایی ها) بمباران می کنند و خون عسکر برایشان مفت معلوم می شود؛ ولی آن عسکر بیچاره چنان در خدمت امریکا و جنرالان آنها مصروف نگاه داشته شده که هر جائیکه امریکایی ها می روند عسکرهای افغان باید آنها را اسکورت کرده و پیشمرگه شان شود و هر جائیکه خطر جان امریکایی ها را تهدید کند باید عسکرها برای شان جان فدایی کنند و غلامان درجه یک امریکا بچه های با غیرت افغان را به پابوسی و چاپلوسی خارجی ها وادار کرده اند؛ چون بعضی عسکرها و قوماندان ها وجدان دارند و انسانیت سرشان می شود طغیان کرده و بالاخره با درک حقیقت به نیروهای مجاهدین می پیوندند تا حداقل بجای آنکه نوکر بی چشم و گوش امریکا شوند برادری عزیز برای برادر مجاهد خود باشند.

به امید بیداری سرتاسری

اسلامي امارت

په پټو خبرو او مرموزو هڅو باور نه لري!

عبید-عزیز

په افغانستان کې دامریکایي قواوو قوماندان (نیکولسن) په داسې حال کې چې ټول جنګي نیرنګونه اووحشتونه یې اوبه شوي او دغروراوتکبرسته یې میړنیوافغانانو ورماته کړه اوس یې دتیښتي په شیبوکې ویلي چې له طالبانوسره یې پټې اوداپردې ترشاخبرې دوام لري.

داسلامي امارت ویندوی ښاغلي ذبیح الله مجاهدرسنیوته په یوه لیږل شوي سپیناوي کې د نیکولسن ورستی ادعا بې بنسټه بللي وئیلي دي چې اسلامي امارت دامریکایانو په شمول له هیڅ کوم جهت سره پټې اوداپردې ترشاخبرې اومذاکرات نلري اونه اسلامي امارت په پټو خبرو او مرموزو حرکتونو باورلري، دمجاهدصاحب په وینااسلامي امارت دمذاکراتواوتماس ځای معلوم اوسیاسي مرکچیان یې ښکاره دي چې په قطرهیوادکې میشت اوفعالیت لري.

جنرال نیکولسن چې دپنتاګون لپاره ترټولوجنرالانومجرب، ځیرک اوپه عین حال کې وحشي-بریښیده اوټرامپ هم دخپلې ستراتیژۍ دپلي کولولپاره نوموړی په افغانستان کې دامریکایي قواوو دمشرۍ په دنده پرېښود اوامریکایي میډیااوسیمه یزوتبلیغاتي لوډسپکرونوهم دنیکولسن دځلولولپاره زیات پروپاګندبادکړخودالله تعالی حکمت ګوره لکه نورامریکایي جنرالان چې دتیرو۱۷ کلونوپه اوږدوکې یویوپه افغاني میرانه اوتوره له پښبووغورځول شول اومړه ستونه له افغانستان څخه پنټاګون ته ورستانه شول؛ په ډیرافتخاراوویاړویلای شوچې جنرال نیکولسن هم په داسې یوه حالت کې له دندې لیرې اوله ذلیل برخلیک سره مخ شوچې اسلامي امارت په سلوکې ۸۰ برخه هیوادپه ولکه اوسلطه کې لري، ولسونه ترپخوازیات داسلامي امارت مرسته اوتعاون کوي، دسیمي اوګاونډپه ګډون دنړی اکثریت ذهنیت په دې خبره ولاړ اوچورلیږي چې اسلامي امارت پوځي اوسیاسي طاقت اومثبت سیاست لري اوپه عین حال کې امریکانورداتوان اوصلاحیت له لاسه ورکړی چې طالبان یااسلامي امارت کمزوری اوپه زورخپله کومه برنامه اوپروژه پرې ومني.

نونیکولسن دپوځي اوسیاسي مایوسی اوشکست په یوه بداونه جبرانیدونکي حالت کې له افغانستان کې روان دی چې هیڅ کومه لاسته راوړنه له ځان سره نلري؛ نواوس دغه مختوری اودزرګونوافغانانوقاتل پرته لدې چې په پرسوده خبرواوبې معناتبلیغاتوترهغوچې نوموړی امریکاته رسیږي اذهان اخلال کړي بل کوم نیرنګ اوفریب په لاس کې نلري

حقیقت دادی چې نیکولسن اوامریکایانو په افغانستان کې د افغانانوپه لاس دالله تعالی په نصرت کلکه ماتې وخوړه او په ټوله نړۍ کې دافغانستان دجګړې له امله رسوا شول، نود خپلې ماتې د پټولو او ځان ته د ختو د پوزې

اینبـــودلو لپـــاره اړدي چـــې دســـولې اومذاکراتوپـــه نامـــه شـــیطاني دامونـــه اودسیسي خپرې اوترڅه وختـه ژونـدی وســاتي پــه یولړهیوادونــوکې غونــډې اوناســتې جــوړې کــړي اویوڅوکرایــه شـــوي اشـــخاص اوډلې تــپلې دیتــه وگـــمارې چـــې دســـولې غولـــونکې شــعارونه تــاوده وســاتي اوهــم یوڅــو تجریــد شـــوي اوپریـــوتي څیـــرې دطالبانوپه نامه رامخـې تـه کـړي چـې گواکې له هغوئ سره دسولې خبرې اومذاکرات روان دي

خوداسلام دغه ابدي دښمنان دې پوه وي چې اسـلامي امـارت اوس لـه دغوتولوبحرانونو اوکشمکشـونو داللـه پاک په خاص عنایـت اودخپل برحـق مسیراوپاکې داعي په برکت راوتلی هم یې دجگړې په میدان کـې دامریکـایې زبرځـواک او دهغـو دغلامـانو ژامـې ورکـړې کـړې هــم یــې دسیاســت اودیپلوماسی پـه ډگـر دهغـوئ گـردې دسیسي اوشـوم پلانونـه پـه نطفـه کـې خنثـی کـړي چـې پـه دې ورســتیوکې داندونیزیاپــه هیــوادکې پــه امریکــایي طرحه اوپلان جوړه افغان دښمنه ناسته چې گام په گام وننگـول شـوه ژونـدی مثال اوڅرگندثبوت یې دی.

په روژه کې د ښـې روغتیا لرلو لـپاره دغه لارښــوونې عمـلي کړئ

لکه څنگه چې د روژې په راتلو سره د خلکو د خوړو وختونه هـم تغیر خـوري، نـو پـه دې سره د بدن روغتیایي سیستم تغیر خوري چې په کوچنۍ غلطۍ انسان د ناروغۍ ښکار کیږي.

ویل کیږي چې د خوړو وختونو بدلیدلو سره په میتابولزم کې تغیر راځي، چې له کبله یې اکثره صحتمند کسان ناروغه کیږي، او له روژې څخه معنوي او مـادي خونـد نـه شي پورته کولای.

که غواړئ په روژه کې صحتمند اووسئ او روغتیا مو ښه وي، نو په لاندینیو لارښوونو عمل وکړئ چې هم به مو ورسره روغتیا ښه وي او هم به مو د بدن انرژي پوره وي.

په روژه کې د تندې مخنیوي لپاره په پشلمي کې لومړۍ اوبه څښـل ضرور دي، ددې سره پـه خـوړو کـې مسـتې ورزیـاتې کـړئ، او ددې برسېره د هیـل یـا لاییچـي دانـې استعمال وکړئ، په دې سره هم د ورځې په اوږدو کې د تندې مخه نیولی شئ.

روژه کې د ماسپښین نه وروسته لږه اندازه ارام وکړئ، ځکه چې د ماسپښـین خـوب له بدن نه ستړیا ختموي، همدا ډول کوښښ وکړئ چې زیات وخت گرمئ ته تېـر نـه کړئ.

که غواړئ روژه کې هم چست او چالاکه اووسئ، نو پروتین خوړو ته توجو ورکړئ، پـه پشلمي او روژه ماتي کې د پروتینو څخه ډک خوراک وکړئ او له غوړو خوراکونو ځان وژغورئ.

روژه کې د ترخو خوراکونو څخه ځان وساتئ، ترخه خوراکونـه معـده کـې تیزابیـت او سوزش رامنځته کوي، د روژه ماتي پر وخت مو معده بلکل خالي وي او په تشه معده ترخه خواړه خوړل معده له منځه وړي، پکار ده چې د روژه مـاتي پـر وخـت لـه ترخـو خوړو څخه ډډه وکړئ.

د خرما استعمال د پشلمي او روژه ماتي پر وخت ستاسې بـدن تـه پـوره او سمدلاسـه انرژي ورکوي.

هیڅکله هم له پشلمي پرته د روژې نیولو کوښښ مه کوئ، په پشلمي نه کولو سره مو د بدن دفاعي سیستم کمزوری کیږي او د کوچنۍ ناروغۍ مخه هم نشي نیولای.

د روژه ماتي پر وخت لږ خوراک وکړئ، روژه په خرما یا اوبو ماته کړئ، او نـور خـواړه له مونځ کولو وروسته وکړئ، ځکه چې ټوله ورځ لـه تشې معـدې سمدلاسـه وروسـته ډېر خوراک کول هم د ناروغۍ لامل کیږي.

که مو بوزه کې د ورزش کولو عادت وي، نو په روژه کې هم دغه عادت جاري ساتئ، که چیرې د ورزش وخت نه وي نو لس یا پنځلس دقیقې چټک قدم اخلئ.

هغه امیر چې
په دیدن یې سیراب نه شو

قاري حبیب

د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د شعبان میاشتې په ۱۴ مه نیټه چې د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال د جوزا له لومړۍ سره سمون خوري، یوه دردوونکې پېښه رامنځته شوه. د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب د امریکایي طاغوت په یوه ډرون توغندیز برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انا لله و انا الیه راجعون

شهید امیرالمؤمنین تقبله الله زموږ لپاره کوم عادي څوک نه و، هغه زموږ شرعي امیر و، لاس په لاس مو ورسره په جهاد او شریعت ته په التزام بیعت کړی و. د نوموړي تر مشرۍ لاندې د مرګ او ژوند په بیه د جهاد او مبارزې میدان ته کوز شوي و. دده هر امر مو د ځان لپاره واجب باله، او دده په اطاعت او د فرامینو په امتثال کې مو د الله تعالی رضا لټوله.

خو دا به د تقدیر پرېکړه وه چې هغه ویاړمن، متشرع، ثابت او غیرتمند امیر یې له موږ څخه واخیست. موږ لا د هغه امیر په امارت تنده نه وه ماته کړې، چې هغه الله تعالی ځان ته وروباله. هغه ته رب تعالی د شهادت ویاړمن سعادت ورپه نصیب کړ، هغه سعادت چې ډېر لږ به د زعماؤو په نصیب کېږي. نحسبه کذالک والله حسیبه

ځرنګه چې د زمان او مکان شرایط ډېر سخت او حساس دي، د الله تعالی دښمنان ډېر زیات او د جهادي رهبرانو هر حرکت ته متوجه دي، نو ځکه منصور صاحب هم اړ و چې ډېر په عامه غونډو او له مجاهدینو سره په مجالسو کې ځرګند نه شي. خو له دې سره سره هم د الله تعالی شکرګذار یم چې د مجاهدینو د هغه شهید امیر د لیدلو سعادت یې دوه ځله رانصیب کړی دی. هوکې، یوازې دوه ځله. چې موږ یې د لیدلو شرف حاصل کړ مګر په بیا بیا مجالست او خواله یې سیراب نه شوو.

لومړی ځل د ۱۴۳٦ هـ ق کال د صفر المظفر د میاشتې په ۲۴ مه نیټه وه، هغه وخت چې لا د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات خبره نه وه اعلان شوې او شهید منصور صاحب تقبله الله د امارت د نا اعلان شوي مشر په حیث دنده اجراء کوله نوموړي غوښتل د فرهنګي کمیسیون له کارکوونکو سره له نږدې وګوري د هغوی کارونو وارزوي، پیشنهادات او خبرې یې واوري او مخامخ ورسره د زړه خواله وکړي.

غرمې ته له څه وخت پاته و چې منصور صاحب د فرهنګي کمیسیون د ملګرو مجلس ته تشریف راووړ، فرهنګي مجاهدین یې د احترام په خاطر ولاړ شول، له هر ملګري سره یې په غېږ روغبړ وکړه، د روغبړ له پای ته رسېدو وروسته دفرهنګي کمیسیون محترم رئیس جناب متقي صاحب مجلس پیل کړ لومړی یې هر ملګری

ورتــه معــرفي کــړ، او بيــاېې لنــډې افتتاحيه خبرې يې وکړې.

وروسته د ملګرو د انتظار موافق جناب ملا اختر محمد منصور صاحب خپلې خبرې په حمد او صلاة سره پيل کړې. چې مايي ځيني برخې په کاغذ راسره ياداشت کړې چې غواړم دلته يې له تاسو سره هم شريکې کړم.

جناب منصور صاحب په پيل کې له فرهنګي او قلمي مجاهدينو منننه او قــدرداني وکــړه او دفرهنګـــي کميســيون کارنــامې يــې وســتايلې، نومــوړي وويــل: للــه الحمــد زمــوږ مطبوعاتي او نشراتي کارونه لـه نظامي جهادی فعاليتونه سره غبرګ او څنګ په څنګ روان دي، دا ستاسو دمشقاتو او اخلاص برکت دی چې دا شعبه پـه ډيـره ښـه طريقـه فعالـه ده، دامـارت مشرـتابه ستاســو د هريــوه ملګــري د مخلصانه او دقيق کـار قـدرداني کـوي او له الله تعالی څخه درتـه پـوره پـوره اجرونه غواړي.

نومـوړي وويـل: مـوږ پـوهيږو او نړيـوال هـم پـوهيږي چـې داسـلامي امارت نشراتي فعاليت د امکاناتو پـه نسبت ډير پراخ او سريع دی، تاسو هر يو په خپل کاري بخش کې داسلامي امـارت نماينـده ياسـت او بايـد دغـه عهده په ښه توګه ترسره کړئ.

لله الحمد د فرهنګـي کميسـيون په رأس کې ټول اهـل کسـان دي، چـې زمـــوږ وربانـــدې اعـــتماد دی او د فرهنګـي کميسـيون دمشرـانو اهليـت ددې سبب دی چې موږ له دې جهتـه بيخي مطمئن يو، له همدې امله مو پـه تاسوډيره پوښتنه نه ده کړې.

جناب منصور صاحب زياته کـړه: په فرهنګي او نشراتي کارونو کـې بايـد ډير دقيق واوسو، خپلې رسمي پاليسۍ تـه مـو بايـد هميشـه پـام وي او بايـد وربانډې پوه واوسو، نن سبا حالت ډير سخت او هميشه بدليـدونکي دي چـې لـه مـوږ نـه ډيـر دقـت او هوښـياري غواړي.

نومـــوړي لـــه دې وورســـته د يوشـمير موضـوعاتو پـه اړه لکـه روان جهاد، له القاعده تنظيم سره د رابطې، د ښـځو حقــوق او تعلـيم، د ســولې مذاکرات او يوشـمير نـورو موضـوعاتو په اړه داسلامي امـارت رسـمي پاليسـۍ بيــان کــړې، چــې دملګــرو د قناعــت سـبب شـوې، نومـوړي لـه دنيـا سره د تعامل په اړه زياته کړه.

دنيا يا نړيوال حکومتونه څکه لـه موږ سره توافق ته نه رسيږي، چې زموږ او ددوی تــرمنځ پـــه اساســـياتو او ارزښتونو کې ډير تفاوت دی، اوسنۍ نړۍ له دين او دينداری څخه بـيلارې شـوي ده، او شريعـت تـه هـيڅ عمـلي اعتناء نلري، پـه داسـې حـال کـې چـې موږ شريعت ترټولو لوړ ارزښت بولـو او دهمدې لپاره مبارزه کوو، دنيا له مـوږ غواړي چې له بعضې شيانو ورتيرشو لـه ځينـو بـه دوی راتيـر شي، دوی شـايد راتيـــر شي ځکـــه ددوی ارزښـــتونه خودسـاخته دي، چـې خپلـه يـې جـوړ کړي او په خپـل يـې فسخ کـولای هـم شي اما زموږ ارزښتونه خو اسماني دي، موږ هيڅداسې شی نلرو چـې تـر هغـه تير شو، مثلا دوی وايي لـه حـدودو، د ښځو له حجـاب او سـتر ياداسـې نـورو اسلامي ارزښتونو راتير شئ، خو آيا موږ لـه دې شـيانو تيريـدلای شـو؟ ځـواب واضح دی چـې نـه. څکـه همـدا زمـوږ دين دی په همدې مکلف يـو دا شـيان موږ ته الله تعالی ټـاکلي چـې مـوږ يـې منسوخ کولای نه شو.

نړيوال وايـي چـې امـارت سخت دريځـه دی، بايـد ووايـم چـې امـارت سخت دريځه نـه دی، مـوږ يـوازې پـه دين ټينګي منګـولې لګـولې خـو داچـې نړيوال له دين څخه پردي شوي نو موږ ورته سخت دريځه ښکارو.

باید ووایم چې د فتنو په دې دور کې همدا په دین اعتصام ددې باعث شوی چې موږ په نړۍ کې یوازې شو، موږ ددنیا په اعتبار یوازې یو مګر دالله تعالی په نزد یوازې نه یو، ځکه الله تعالی له موږ سره دی، پریږده که دنیا راسره غاړه نه وړي خو موږ به په الله تعالی تکیه کوو، ځیني خلک وایي ستاسو ځواک دومره نه دی چې وطن ونیسئ باید ووایم چې موږ د وطن په نیولو مکلف نه یو بلکې د عقیدې په ساتلو او پاللو مکلف یو.

په افغانستان کې روان جنګ زموږ یو ضرورت دی، هیڅوک له مستۍ جنګ نه کوي هرچا ته ارامي خوند ورکوي، خو زموږ هیواد ته کفار راغلي دي، زموږ هیواد یې اشغال کړی او اسلامي نظام یې رانړولی دی، دوی زموږ په مفکوره کارلري، زموږ نسل راګمراه کوي او د داسې کفري فعالیتونو په وړاندې په موږ جهاد فرض عین دی.

جناب منصور صاحب نورې هم خورا په زړه پورې څرګندونې وکړې، نوموړی په سره سینه ژور غږېده او دمسائلو په اړه یې د مشرتابه دریځ خورا واضح بیاناوو، د نوموړي له خبرو وروسته د فرهنګي کمیسیون مرستیال مرحوم حقاني صاحب او ورپسې داسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد صاحب خبرې پیل کړې او بیا د مجلس هر ملګري ته د خبرو نوبت ورکړل شو ترڅو که د امارت د پالیسۍ، کړنو او فعالیتونو په اړه کوم نظر، پیشنهاد یا اعتراض لري په ازاده فضاء کې یې مطرح کړي.

د دې مجلس په جریان کې د جناب منصور صاحب په لاس کې قلم او کتابچه وه چې د هر ملګري خبره یې یاداشتوله او بیا به یې که ځواب یا وضاحت غوښت په ډېر خوږه ژبه یې ورته ځواب وایه. دا مجلس دا برخه ځکه ډېره جالبه وه چې د بیان پوره ازادي وه او د عمري حاکمیت یوه ژوندۍ بیلګه چې د مجس هر عادي ګډونوال کولای شوای خپل انتقاد یا وړاندیز په پوره جرأت سره د خپل امیر په وړاندې ووایي او د منصور صاحب لخوا یې هم په ویړه ټنده هرکلی کیده او واضح ځوابونه ورته ویل کیدل.

د مجلس په وروستۍ برخه کې منصور صاحب یو ځل بیا لنډې خبرې وکړې چې ما له ځان سره داسې یاداشت کړي دي.

منصور صاحب وویل: اسلامي امارت زموږ او تاسو ګډ کور دی، کوښښ به کوو چې دا کور محفوظ وساتو او څوک یې رانه کنډو نه کړي، له تبعیض او تعصب نه باید ځان وساتو، خپل منځي اتحاد، اطاعت، تقوا، اخلاص او داعمالو اصلاح ته باید ډېر متوجه واوسو، ځیني ملګري له تقوا څخه دا معنی اخلي چې یوازې په پیسو او مالي چارو کې له حرامو ځان وساتي، خونه، تقوا باید په هرڅه کې ولرو، له خپلو ملګرو سره په چلندکې، په خپل جهادي کار او ټولو کړنو کې باید تقوا ولرو.

د دې په ځای چې دبل په عیبونو پسې وګرځو باید خپل عیب ته متوجه واوسو، داسلامي امارت پالیسۍ یا ځیني کړنې که درته ناسمې ښکاري په وړاندې یې په ټېو سترګو اقدام مه کوئ لړترلږه یوځل ځان ته موضوع معلوموئ او وضاحت غواړئ.

د اسلامي امارت نائب په پای کې له ملګرو د خصوصي دعاګانو غوښتنه وکړه نوموړي وویل سخت او درونډ مسؤلیت ورلغاړې دی او ټول ملګري باید ورته د استقامت او اصلاح دعاګانې وکړي.

له شهید أمیرالمؤمنین منصور صاحب تقبله الله سره دوهم ځل لیدل مې د ۱۳۹۴ لمریز کال د اسد د میاشتې په اتمه نیټه په هغه ورځ و چې نوموړی رسما د اسلامي امارت د زعیم أمیر المؤمنین په حیث وټاکل شو. په دې ورځ د اسلامي امارت د مسؤلینو اومشرانو مجاهدینو د بیعت یو لویه غونډه جوړه شوې وه، زه هم دې غونډې ته ورغلم، د اسلامي امارت د استخباراتو د اداري امنیتي کسانو فوق العاده حفاظتي ترتیبات نیولي و، چې غونډې ته ورغلم د شیخ عبدالحکیم صاحب بیان شروع و، ورپسې د ملا اختر محمد منصور صاحب مرستیال او اوسني امیرالمؤمنین شیخ هبت الله صاحب عالمانه وینا وکړه، د مرحوم ملا صاحب په ژوند او کارنامو وغږېد او له نوي امیر سره د بیعت خبره یې یاده کړه.

وروسته مجلس ته ملا اختر محمد منصور صاحب تشریف راووړ، او له لږ دمې وروسته یې خپله وینا پیل کړه، نوموړي دا ځل هم خورا جذابه او اغیزناکه وینا وکړه چې وروسته د نوموړي د لومړني رسمي بیان په حیث په غږیز شکل په رسنیو کې هم خپره شوه.

نوموړي د مرحوم ملاصاحب د مناقبو د ذکر تر څنګ د امارت په اوسني وضعیت رڼا واچوله، په جهادي عزم یې ټینګار وکړ او ویې ویل چې موږ له شریعت پرته بل مسیر نلرو، ژوند او مرګ به مو ټول په شریعت وي، دموکراسي نه په کې ځايیږي. له وینا وروسته له جناب امیر سره د بیعت سلسله پیل شوه، د امارت مسؤلو مجاهدینو او مشرانو په پوره شوق او ولولو ورسره بیعت وکړ چې په دې ترخکې ما هم ورسره په پوره شوق او اخلاص لاس په لاس بیعت وکړ.

د بیعت په کولو سره مې له زړه څخه هغه بوج یو دم سپک شو چې د اسلامي امارت د مؤسس امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات د درانه غم له امله پیدا شوی و، د مازدیګر لمونځ مو د جناب منصور صاحب په امامت اداء کړ او چې بهر راووتلم نو موسم خورا خوندور و، نرى نرى باران ورېدو او د ټولو مجاهدینو په سترګو کې ځلا او په شونډو موسکا په نښېدو وه، د موټرو د دریدو له ځایه مې خپل موټر سایکل را روان کړ چې دغه مهال دمجلس ځای ته بیا رانږدې شوم جناب منصور صاحب مې یو ځل بیا ولید چې په موټر کې سپور او روان و، همدا مې د هغه تاریخي زعیم وروستی ځل لیدل شول چې څیره یې راسره اوس هم د ذهن په تخته منقوشه پاته ده.

اوس چې جناب امیر محترم منصور صاحب زموږ په منځ کې نشته او د شهادت په وینو رنګین د خپل رب لقاء ته ورغلی، له الله تعالی څخه ورته د شهادت قبولیت غواړم. ویاړ په داسې امیر چې شهادت ته اماده شو مګر د کفارو، منافقینو او د هغوی د محلي لاس پوڅو هیڅ ډول، زور، زر، زاریو او تزویر یې په عزم او اراده کوم اغیز ونکړ بلکې تر پایه خپل سپیڅلي دریځ ته پایبند پاته شو.

رحمه الله تعالی

د شهيد منصور د شهادت د دويم تلين په مناسبت..

شهيد منصور ولې شهيد کړای شو؟!

احمد مختار

بنا يي پورتنی سرليک درنو لوستونکو ته هيښوونکی وي خو که ليکنه تر پایه ولولې بيا به د ليکل شوي سرليک په اړه استفهام ورته بې ځايه نه وي.

شهيد ملا اخترمحمد منصور رحمه الله د طالبانو د تأسيسي مشر ملا محمد عمر (مجاهد) د ژوند په مهال په جهادي فعاليتونو کې يو مؤثر او مبتکر شخصيت و.

دا هم د جهادي مقاومت د مطرحو او بانفوذه علماوو په مشوره د شهيد منصور رحمه الله يو ابتکار و چې د امير المؤمنين د وفات تاريخ يې د ډېرو جهادي مصالحو د تحقق په خاطر تر يوه وخت پورې مخفي او د امريکايانو او نورو اشغالگرو په خلاف يې جهادي مقاومت په پرياله ډول جاري وساته.

د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد) رحمه الله د وفات تر اعلان وروسته چې د دښمن په ډېرو خطرناکو دسيسو د امارت په ليکو کې د گوډې رامنځته کولو هڅې پيل شوې شهيد منصور د هغو د له منځه وړلو لپاره يو لړ جدي ابتکارات په کار واچول او و يې کړای شول چې په ډېر کم وخت کې د دښمن دا خطر ناکه حربه بې اثره او شنډه کړي.

شهيد منصور وکړای شول د امارت د تأسيسي اعضاوو په ځان راټولو سره جهادي مقاومت په هغه مسير رهبري کړي کوم چې د ده سلف او جهادي پيشوا ملامحمد عمر (مجاهد) ورته ترسيم کړی و.

دا چې ثبات او استقامت د جهاد او مبارزې د لارې يو بنسټيز اصل دی نو شهيد منصور دغه اصل ته په توجه او اهتمام سره د مقاومت راتلونکي جهادي او سياسي ستراتيژي بې له هيڅ کم او کاسته د خپل پخواني مشر په جوړې شوې ستراتيژۍ باندې عيار کړه.

د شهيد منصور د برياليتوب بل رمز د نوموړي له لوري د مقاومت افاقي کول و، افاقي په دې معنی چې د هغه د برياليتوب لپاره يې په سياسي او ديپلوماتيک لحاظ ډېر مؤثر گامونه واخيستل.

شهيد منصور د خپل جهادي بصيرت په مټ دا درک کړې وه چې امريکايان د خپل اشغال او نامشروع واکمنۍ لپاره د افغانستان او سيمې په کچه داسې تخريبي پلانونه لري چې هغه د دوی په خلاف د منطقوي او حتی نړيوال حساسيت لامل گرځيدلي او له دغه حساسيت څخه د امريکايي اشغال په خلاف استفاده کول يو جهادي مصلحت او د افغانانو لپاره يو ښه فرصت دی.

سره له دې چې شهيد منصور د طالبانو د مشر تابه په حيث تر سخت امنيتي رقابت او څارنې لاندې و خو بيا هم نوموړی وکړای شول چې شخصا مختلفو هيوادونو ته سفرونه وکړي او د افغانستان د گاونډ مهم هيوادونه په

افغانستان کې د امریکایي یرغلګرو په خلاف د مقاومت پر مشروعیت، او شمولیت قانع کړي.

ملا اختر محمد منصور د مقاومت د مشرتابه او د یوه فوق العاده نوښتګراو بیباکه دیپلومات په حیث یو زیات شمیر هغه منطقوي هیوادونه چې مستقیما د امریکایي ایتلاف برخه او پر افغانستان د هغوی د اشغال ملاتړي وو پر دې قانع کړل چې په افغانستان کې له امریکایي موجودیت نه د هغوی حمایت شخصا د هغوی او په مجموع کې د ټول منطقوي ثبات لپاره خطرناک دی.

هماغه و چې د شهید منصور د دغو خلاقانه دیپلوماتیکو هڅو په نتیجه کې هغه اجماع چې امریکایانو د ملګرو ملتونو د امنیت شورى د پریکړې په پلمه د افغانستان په اشغال کې جوړه کړې وه له منځه یو وړه او د ده د خاصو هڅو په پایله کې د امنیت د شورى دائمي او د ویټو حق لرونکی اعضاء له طالبانو سره د تماس جوړلو او تفاهم په لټه کې شول.

د شهید منصور دې نوښتګرانه اقدام امریکایان، ناټو او د هغوی پوځي ایتلافیان د پوځي مقابلې ترڅنګ په یولړ دیپلوماتیکه مقابله کې هم راګیر کړل.

څکه د دغو هڅو په نتیجه کې د طالبانو استازي وتوانیدل په مختلفو هیوادونو کې په یوشمیر نړیوالو غونډو کې ګډون وکړي او هلته د خپلې قضیې په اړه عیني واقعیتونه نړیوالو ته څرګند او تشریح کړي.

حتی ځیني هیوادونه حاضر شول طالبانو ته په خپلو هیوادونو کې سیاسي نماینده ګي وي ورکړي.

د افغانستان د اشغال په اړه د شهید منصور لخوا د نړیوالې اجماع له منځه وړل هغه خطر ناک اقدام و چې د نوموړي د شهادت او سربایللو په بیه ورته تمام شو.

امریکایان او ناټو وپوهیدل چې که نورهم شهید منصور د طالبانو په قیادت کې پاتي کیږي نو بنایي د خپل مقاومت د مشروعیت او په پوځي او سیاسي لحاظ د هغه په پرمختګ کې داسې ابتکارات په کار واچوي چې بیا به د هغوی له منځه وړل او شنډول مونږ له یوې نړیوالې افتضاح سره مخ کوي.

هماغه و چې د شهید منصور د له منځه وړلو لپاره مستقیما امریکایان لاس په کار شول.

سره له دې چې د شهید منصور رحمه الله د قیادت موده ډیره محدوده، خو تر سره کړي پوځي او سیاسي اقدامات یې دومره زیات او موثر وو چې دښمن ته نور د یوې لحظې لپاره هم په طالب قیادت کې د دغسې۔ محرک، فعال، مسلط او مبتکر شخص شتون د زغملو وړ نه و.

شهید منصور هم د خپلو سیاسي او پوځي تحرکاتو خطورت درک کاو مګر د هغه جهادي سربښندنه، توکل، اخلاص او د الله په نصرت اعتماد هغه څه و چې نوموړی یې له دغو ټولو یقیني خطرونو بې پرواکړی و.

شهید منصور د خپل هیواد له د آزادي او په هغه کې د اسلامي حاکمیت له ټینګښت سره بې سارې مینه لرله، همدا وجه وه چې هغه په دې لاره کې داسې جدي ګامونه واخیستل چې هیواد یې تر ډیره له بهرني اشغال څخه د آزادۍ درشل ته ور نیږدي خو خپل ستړی صورت یې په دې لاره کې په اور وسوځاوه....

روح دې خوشاله، او ترشا پاته نیمګړی آرمان دې د هیواد په بشپړې خپلواکي سره الله ور پوره کړي.

در مسلخ عشق جُزنکو را نکُشد... روباه صفتان زشت خورا نکُشد

گر عاشق صادقي زکُشتن مگریز... مُردارشد هرآنکو را نکُشد...

د غني او طالب د اوربند ترمنځ توپير ...!!

○ موسی فرهاد

خلک خوشحاله دي چې طالبانو د درو او حکومت د نهو ورځو لپاره یو لوریز یو لوریز اوربند اعلان کړی، دوی فکر کوي، چې ګوندي دا اوربندونه د جنګ ځپلي هیواد لپاره لومړی د آزادی او بیا د دایمي سولي او ټیکاو پیلامه شي.

حقیقت دا دی چې نه درې ورځې اوږده موده ده او نه 9 ورځې. مګر چون زمونږ هیوادوال جنګ جګړو، نا امنیو، یرغلونو، بریدونو، چاپو، انفجارونو، بونګنو، نا انصافیو، زندانونو، رشوتونو، تکفیر کولو، او نورو ډول ډول کردو او ناکردو دومره ځپلی او ځورولي چې اوس د یوې شیبې ډزبندیز ته هم دومره خوښي ښیي لکه جنګ جهاني چې یې په ژوند کې د تل لپاره پای موندلي وي.

رښتیا چې جل وهلی سراب ته هم منډې وهي ، الله دې وکړي چې زمونږ د ځوریدلو هیوادوالو دا کاذبه او مؤقته خوښي په ریښتیني او تلپاتي هغي بدله شي.

راځم اصلي خبري ته، چې توپیر څه دی د دوو اوربندونو ترمیان؟ که څه هم د حکومت موده خورا زیاته ده ، پوره 9 ورځې به هیوادوال بیغمه وي، د عسکرو له لاسه به نه د مدرسي او جومات د ورانولو او نه د کلینیک او بازار د لوټولو خبر اوري ، نه به په کورونو کې د شپې له مخې د عسکرو د ورلویدلو ویره محسوسوي. نه به یې د طالب د خپلوی په تور څوک پلچرخي او بګرام ته کشوي، نه به د اربکیانو له لاسه د ناموسونو له بې عزتې څخه په ویره کې وي، نه به د ځانګړو ځواکونو په نوم امریکایی ملیشې د شپې مهال خلک پخپلو کورونو کې بې پوښتني او ګرویږني تر تیغ تیروي، او نه به د ړندو هوانونو له لاسه د مرګ او ژوبلي له ګواښ سره مخ وي.

لنډه دا هغه څه چې د یو افغان انسان خپل فطري، بشري، افغاني او اسلامي حق دی؛ هغه به فقط د 9 ورځو لپاره د یو ستر احسان په بدله کې ورته ورکول شي.

نور به نه د زندانونو درنې دروازې پرانیستل شي، ترڅو د وطن د آزادی په جرم هتکړی شوي ځوانان د خپلو میندو خویندو او ماشومانو سره یوځای شي او نه به یې د ارګ او سپیدار له مانیو څخه د تخفیف، انصاف او سهولت فرمانونه صادریږي.

بس تش د چینلونو د سرټکو او ټاک شوز لپاره به د یوې غوره سټوري په بڼه اوږي را اوړي. لسمه ورځ به بیرته هغه نیکلسن او هغه به یې بمبار او چاپې، هغه به یې

ځانګړي افغان مليشې او هغه به يې ځنګلي او وحشي کړني.

اما برعکس د طالبانو اوربند که څه هم لږه موده فقط درې ورځې ده ، خو له ځان سره هغه څه لري چې د کاذبې خوښۍ پرځای خلکو ته څه نا څه ريښتيني خوښۍ هم وربښي. که له يوې خوا طالبان خلکو ته ډاډ ورکوي چې نور به يې پردښمن د شهادت غوښتونکي بريد او انفجار په ټس کې هيوادوال نه اغيزمن کيږي، دا راز به له کور او کلي فرار عسکرجان هم په ډاډه زړه خپل ټاټوبي ته راتللای شي، د اختر د خوښيو په تجمعاتو کې به وسلوال طالب له ګډون نه ځان لري ساتي، ترڅو يې دښمن په پلمه د کروز او بم خوراک نکړي.

خو له بلې خوا يې ترټولو ستر د رحم زيری دا ورکړی چې ورسره بندي عسکر به هم له طالب زندان نه آزادوي ، که څوک يو نيم پاتې شي هغوی ته به له کورنيو سره د ليدلو او په زنداند کې د آسانتياوو ورکولو ژمنه هرو مرو ورپوره کوي. دا هغه څه دي چې د طالب اوربند له حکومتي هغه نه ممتاز ګرځوي.

پکار خو دا وو چې حکومتي واکمنو خپل منصب ته په کتو، د بګرام، پلچرخي او نورو زندانيانو د خلاصون زيری هم پر ولس لورولای وای ، ځکه د يو ولس له واکمن څخه خو د ولس دا هيله حق په جانب ده ، د حقوقي او اخلاقي نزاکت تقاضا ده ، د بشري خواخوږۍ يو ثبوت دی، دا بېله خبره ده چې د خپل دين او هيواد د آزادۍ د لاري جنګيالي د يرغلګرو په غوښتنه زندانونو ته اچول د تاريخ د ترټولو ستره نامردي ده.

خو دلته موضوع له هغه اړخه نه پلټو، چې ورته اشاره وشوه، فقط د کابل حکومت نه هيله دا کيدله او کيږي چې خپل اعلان شوي اوربند ته د علامتي او نمايشي- اوربند پرځای د څه ناڅه ريښتيني اوربند بڼه ورکړي، کوم کار چې طالب لوري وکړای شو او په دې امتياز سره يې له حکومت نه د ممتاز نمبري يووړي.

د تعجب ځای دی، د افغانستان په تاريخ کې به اشرف غني لومړنی کس وي چې د کمونيستي دور له واکمنو وروسته يې دا ريکارډ جوړ کړی چې د خپلې واکمنۍ له پيله تر دې دمه يې د طالب او مجاهد په نوم هيڅ کوم بندي ته په ځانګړو ورځو کې د ازادۍ يو وړوکی فرمان هم نه دی صادر کړی، او نه يې د تخفيف او يا سهولت کومه معامله ورسره کړې، چې دا د هغه انتهايي قساوتِ قلبي رابښيي.

مګر بيا هم وخت تېر نه دی که اوس هم غني دا خپلې څوکۍ او منصب ته په کتو پر زړه زور وکړي د اشغالګرو پرځای پر وطنوالو رحم وکړي، او د بنديانو د آزادولو، له هغوی سره په زندان کې د سهولتونو او په دوسيو کې د تخفيف کولو معامله ترسره کړي؛ زه فکر کوم چې له نيکنامۍ پرته به بل هيڅ تاوان ورته ونکړي. او زما باور دی چې همدا نقطه به د افغان غميزې د اختتام آغاز ګرځي.

او که دا اقدام د غني له لاسه ونشي نو هسې-تش په نوم اعلانونه خو ده مخکې هم ډېر کړي چې چا نه ورباندې غوږ ګرولی او نه يې له نقصان پرته هيوادوالو ته څه ورکړي.

پای!....

په کابل کې د ديني عالمانو په نامه

د غونډې په غبرګون د طالبانو موقف



د طالبانو په کابل کې د نن ورځې غونډه په نامه د ديني عالمانو بللې او په اړه يې خپل موقف څرګند کړی دی.

د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد په دې اړه نن ټکی اسيا ته په يوه راليږلې خبرپاڼه کې ويلي چې بهرني اشغالګران هڅه کوي چې له داسې غونډو څخه د خپلو اشغالګرانه توطئو د سرته رسولو په لار کې استفاده وکړي:

په کابل کې د ديني عالمانو په نامه د غونډې په غبرګون کې د اسلامي امارت دوياند توضيحي څرګندونې

ديني علماء کرام او مشائخ په اسلامي ټولنه کې له خورا ستر مقام څخه برخمن دي او درووند مسؤليت لري، لکه څنګه چې په پخوانيو امتونو کې پيغمبرانو عليهم السلام د بشري ټولنو درهبرۍ دنده په غاړه درلوده، د خاتم النبيين صلی الله عليه وسلم څخه وروسته دغه دنده برحقو ديني علماء کرامو ته په ميراث رسيدلې ده، له همدې امله خو دتاريخ په مختلفو پړاوونو کې ديني علماء کرام دامت د سوکالۍ او سرلوړۍ لپاره دجهاد، علم، ارشاد، اصلاح، دعوت او نورو ټولو ډګرونو مخکښان پاته شوي او په سختو حالاتو کې يې د امت بيړۍ ته نجات ورکړی دی.

زموږ په هيواد او سيمه د راغليو پرديو يرغلونو او ابتلاوو په ټولو مرحلو کې ديني علماء کرام هميشه د خپلو مؤمنو اولسونو تر څنګ دريدلي، د خپلې ټولنې له ديني ارزښتونو، متدين فکر، وياړلي فرهنګ او اسلامي تشخص څخه يې دفاع کړې او د اشغالګرو ټولې دسيسې يې ناکامې کړې دي.

که موږ د وروستيو پيړيو تاريخ په دقت سره وګورو زموږ په هيواد او ګاونډيو هيوادونو د انګريزي استعمار د راتګ په مهال که په افغانستان کې د ملا مشک عالم، حضرت نور المشائخ مجددي، مولانا نجم الدين اخندزاده او نورو علماء کرامو په شان مبارزين له کفري اشغال سره په مقابله بوخت ول د هند او اوسني پاکستان په سيمه د

مولانا شیخ الهند محمود الحسن صاحب، مولانا عبیدالله سندي صاحب او د وریښمین رومال د د تحریک د نورو مشهورو مبارزینو په شان مجاهد علماء کرام د انګریزي استعمار په وړاندې په جهاد او مقابله بوخت ول او په دې لاره کې یې د زندان او هجرت په شمول قسماقسم کړاوونه وزغمل.

په همدې ډول په افغانستان د شوروي یرغل په مهال هم علماء کرامو د خپل مؤمن ملت د نجات او کمونیستي کفر د شړلو لپاره ډیرې قربانۍ ورکړې او په افغانستان د امریکایي یرغل په مقابل کې جهاد چې د هیواد سلګونو علماء کرامو په شرعي فتوی پیل شوی، بیا هم د علماء کرامو او طالبانو رول په کې بارز دی چې د خپل مؤمن او په استقلال مین اولس د دفاع لپاره جهاد کوي او د اسلامي نظام د حاکمیت ارمان ته ژمن دي.

دا چې دیني علماء کرام د اسلامي ټولنو په دفاع کې تر ټولو مهم او اساسي رول لري، د اسلام دښمنان هم دې ټکي ته متوجه دي نو ځکه همیشه هڅه کوي چې له دیني عالمانو څخه د خپلو اشغالګرانه توطئو د سرته رسولو په لار کې استفاده وکړي.

دا چې د امریکا ضد جهاد په اوولس کلنه مرحله کې زموږ اولس د خورا ډیرو قربانیو په برکت اشغالګر پوځیان دې ته آماده کړي چې نور په جګړه کې شکست ومني او له هیواده تیښتې ته اماده شي، نو له بریا څخه مایوسو اشغالګرو اوس یو شمیر نور دسائس په کار اچولي تر څو زموږ د مؤمن او په آزادۍ مین اولس د استقلال غږ خاموش او د درنو قربانیو ثمره یې ضائع کړي.

د امریکایي اشغالګرو ځواکونو مشر جنرال جان نیکولسن د ۲۰۱۸ میلادي کال د مارچ میاشتې په ۱۸ مه نیټه په کابل کې د یوه خبري کانفرانس په مهال وویل چې امریکا پلان لري په روان کال کې په طالبانو مختلف فشارونه وارد کړي. نوموړي زیاته کړه موږ غواړو په طالبانو پوځي، سیاسي، ټولنیز او حتی مذهبي فشارونه راوړو، د مذهبي فشارونو نه مطلب دا دی چې د افغانستان او ځینو نورو هیوادونو د دیني عالمانو په نامه فرمایشي ـ غونډې به جوړېږي او په دې غونډو کې به د طالبانو په ضد فتوی صادره شي او له ولس کلن جهاد وروسته به د هغوی د مبارزې مشروعیت له دیني اړخه چیلنج کړي.

په همدې سلسله کې د امریکایانو د پلان له مخې د دیني عالمانو لومړۍ غونډه د روان میلادي کال د می په ۱۱ مه نیټه د اندونیزیا په بوګور ښارکې ترسره شوه او دا دی نن دغسې یوه نمایشي غونډه په کابل کې ترسره شوه.

د افغانستان اسلامي امارت د دیني عالمانو د غونډو په عنوان دغه پروسه یوه سوچه امریکایي اسلام دښمنه پروسه بولي، چې د پلان، اکمال او عملي کولو ټولې چارې یې د امریکایي اشغالګرو لخوا رهبري کیږي، امریکایان غواړي د دغو غونډو په توسط خپل ظالمانه پوځي اشغال ته جواز پیدا او دیني رنګ ورکړي او په وړاندې یې د افغان مؤمن اولس پیل شوی جهاد مردود ثابت کړي.

موږ په دې ایمان او باور لرو چې حق حق دی او هیڅوک یې د باطلولو توان او طاقت نلري. زموږ برحق جهاد د اسلامي امارت د بشپړ حاکمیت په وخت کې د سلګونو علماء کرامو د شرعي فتوی په اساس او د ملت په ملاتړ پیل شوی او دا دی د بریا تر منزله رسیدونکی دی.

امریکایان لکه څنګه یې چې پوځي، سیاسي او تبلیغاتي هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې الله تعالی به یې دغه وروستۍ دسیسه هم له شکست او رسوایي سره مخامخ کړي، الله تعالی فرمایي: یریدون لیطفئوا نورالله بأفواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون. الصف ۸

په کابل کې د نن ورځې عالمانو په اصطلاح فتوا مخکې له وخت تیاره کړل شوي وه صرف راټولو شوو ملایانو ته بې له دې چې د هغوی نظر واخیستل شي یا یې اقلا مشوره ورسره وشي له ستیج څخه واورول شوه چې هیڅکله شرعي دلیل نه شي جوړیدای.

د کابل غونډه کې اکثره عوام الناس د عالمانو په نامه کښینول شوي وو چې هسې د غونډې د کثرت هڅه په کې شوې وه.

د غونډې د ویناوالو خبرې په دې چورلیدې چې ګواکې روان جنګ د مسلمامانو ترمنځ نزاع ده او دوی یې ترمنځ د سولې هڅه کوي، په داسې حال کې چې روان جهاد امریکایي اشغال په ضد پیل شوی او اشغالګر قوتونه په خپل قوت سره لا هم په افغانستان کې موجود دي او په افغانانو باندې یې د جانکیري په لاس جوړ شوی نظام تپلی دی، هغه کار چې هر اشغالګر یې په نورو هیوادونو کې د مداخلو په نتیجه کې کوي.

اوسنی جهاد د امریکایي محاربو کفارو په ضد دفاعي جهاد دی، د امریکایانو په صف کې له دریدلیو په نامه مسلمانانو سره هم د ګڼو شرعي نصوصو له مخې جهاد فرض بلل کیږي.

موږ دیني عالمانو ته وایو چې د برحق جهاد د نامشروع بللو په دې حساسه موضوع کې دې په خپل دنیوي او اخروي عاقبت وویریږي. تاریخ شاهد دی کوم دیني عالمان چې د خپل علم سپکاوی یې کړی او د شیطان له پیروانو سره همکار شوي دي الله تعالی په دنیا او اخرت دواړو کې شرمنده کړي دي. قران کریم موږ ته د موسی علیه السلام په زمانه کې د یوه دیني عالم بلعم باعورا حکایت کوي: بلعم باعورا د خپل وخت لوی دیني عالم او د کراماتو څښتن و، کله چې موسی علیه السلام غوښتل بیت المقدس او شام ته خپل دیني حاکمیت پراخ کړي او دا سیمې له باطلو او جابرو حاکمانو ازادي کړي، نو د دې ځای حاکمانو د موسی علیه السلام د لښکر د شکست او ماتولو لپاره هڅه وکړه دغه دیني عالم یې د وخت د پیغمبر پر خلاف استخدام کړ، دوی بلعم بن باعوراء په مال او شهواتو سره تطمیع او دې ته اماده کړ چې د موسی علیه السلام لښکر ته ښېرا وکړي، خو وروسته الله تعالی د ده ښیرا په دعاء بدله کړه او دغه د باطل په دام کې ګیر عالم یې رسوا او تر قیامته عبرت وګرځاوه.

په کابل کې راټول په اصطلاح دیني عالمان باید له دې قرآني حکایت څخه پند واخلي او پر ځان رحم وکړي، امریکا د دې وخت ستر فرعوني طاغوت دی چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې د مسلمانانو حقوق غصب کړي او مظالم ترسره کوي. له دغه طاغوت سره ملګرتیا عظیمه ګناه او لوی انحراف دی چې الله تعالی دې زموږ دیني علماء کرام ترې وساتي.

په پای کې یو ځل بیا له دیني علماء کرامو څخه احترامانه هیله کوو چې د دښمن په استخباراتي غونډو او منډو کې د شرکت په ځای باید له خپل اولس او مجاهدینو سره همکار شي تر څو الله تعالی د اشغال فتنه ورکه او د مسلمان اولس عزت او استقلال را معاد کړي.

ذبیح الله مجاهد داسلامي امارت ویندوی

دريم دريځ:

داسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار

د اسلامي نړۍ مفکر او ثقه عالم مولاناسيد ابو الحسن علي ندوي

ژباړه: ابوظهير

راځئ ګورو دريم دريځ څه دی، هغه متوازن او صحيح دريځ؛ چې اسلامي نړۍ ته دغربي تهذيب په اړه يې غوره کول پکار دي، هغه دريځ چې داسلاميت او مغربيت ترمنځ په روان کشمکش کې دمسلمانانو له تشخصه دفاع کولی شي

داسلامي نړۍ دريځ تعينول ترهغه وخته ناشونی دی څو چې داسلامي امت له مزاج او په دنيا کې دهغه دحيثيت اومنصب څخه خبر شوي نه يو؛ او بيا ددې ژوند په اړه او د هغه د لرليد څخه آګاه شوي نه يو، کوم چې تهذيبونه زيږوي، ټولنې او تمدنونه تشکيلوي

داسلامي امت مقام! او دهغه دعوت:

اسلامي امت دوروستي ديني پيغام څښتن او حامل دی اوهمدا پيغام يې په ټولو کړو وړو، اعمالواو په حرکاتو و سکناتو باندې حاوي دی اودهغه (امت) منصب قيادت و رهبرې ده او دنړۍ څارنه او احتساب دی، قرآن پاک په قوي څواک او صراحت سره دا اعلان کړی:

کُنتُم خَيرَ أُمَّةٍ أُخرِجَت لِنَاسِ تَأمُرُونَ بِالمعروفِ وَتَنهَونَ عَنِ المُنكرِ وتُؤمِنُونَ بِااللهِ (الاعمران)

(اي دايماني دعوت پيروانو!) تاسو پر ټولو امتونوغوره يئ، د خلکو (دارشاد و اصلاح) لپاره ايستل شوي يئ؛ تاسو په نيکيو حکم کونکي او له بديو منع کونکي يئ؛ او په الله تعالی سهي ايمان راوړئ

بل ځای وايي:

وَكَذلِک جَعَلنَكُم أُمَّةً وسَطاً لِتَكُونُوا شُهَداءَ عَلى النّاسِ (البقره)

همداسې موږ تاسو يو منځنی امت ګرځولي يئ! څو ددنيا پر خلکو ګواهي ورکړئ

نو دا سوال هم نه پيدا کيږي چې ددې امت ځای دقافلې په وروستي او دشاګردانوصف کې ګرځول شوی او دنورو قومونو پر مرسته ژوندی پاتې دی چې دقيادت، رهبريت دامرو نهي او دذهني او فکري ازادۍ پرځای په تقليد او نقل په اطاعتاو وسله

کیښودو راضي او ډاډه دی، ددي امت دصحیح دریځ مثال دهغه شریف قوي الاراده، ازاد ضمیر لرونکی شخص سره ورکول کیږي، څوک چې داړتیا او احتیاج پر مهال د نورو خلکوڅخه پخپله اراده او خوښه هر هغه څیز اخلي کوم چې دده دحالت سره برابر او شخصیت او خپلواکي یې نه مجروحوي اوهر هغه څېز نه اخلي او غورځوي یې کوم چې دده دشخصیت او حیثیت سره برابر نه وي یا دا چې دی کمزوری کوي هم دا وجه ده چې دغه قوم دبل هر قوم دشعائرو، امتیازاتو له خپلولو منع شوی

ځېرنه: علامه (حسین بن محمد عبدالله) طیبي (م ۷۴۳ه) پخپل کتاب الکاشف عن حقایق السنن المحمدیة (شرح مشکوة المصابیح) کې د [من تشبه بقوم فهوا منهم] حدیث په تشریح کې لیکلي: دا حدیث اخلاقو، شکل و صورت اوشعار درېواړوته عام دی، لیکن داچې شعارتر نوروښکاره او څرګند زیات دی په دې وجه دې باب کې راوړی، ملاعلي قاري (م۱۰۱۴ه) مرقات کې لیکلي: دلته دشعایر څخه تشبه مرا د ده، ځکه په صوري اخلاقو کې دتشبه تصورنه راځي او دمعنوي اخلاقو لپاره تشبه نه؛ تخلّق لفظ کارول کیږي په دې وجه ددینه مراد دیو قوم یاملت ملي خصائص او علامات دي (۴ټوک ۴۳۱مخ)

داقوم (اسلامي امت) دژوندانه لپاره یو متعین هدف لري، له ده سره دنړۍ لپاره یو مکمل دعوت شته، دده تهذیب و کلتور، دده جهود او عمل او دده هرډول کړنې او نشاط دعقیدې، مقاصدو او پیغام تابع دي دده په اند: علم دعلم لپاره! طاقت دطاقت لپاره!

او اتحاد داتحاد لپاره! هیڅ ارزښت نلري پر انسان او کائناتو باندې دبري لپاره، دفلکي او طبعي ځواکونو تسخیر (که دخپل قوت یا دخپلو علمي فتوحاتو داظهار لپاره وي) دده په اند: دلهو ولعب یا دحدنه دزیات انانیت پرته بل هیڅ ندی، قرآن مجید دده جذبات او میلانات په دي ایت سره پخپأ قابو کې راولي:

تِلکَ الدّارُ الاخرةُ نَجعَلُهَا لِلذِینَ لَایُرِیدُونَ عُلُوًافِی الاَرضِ ولَافسادًاوَالعَاقِبةُ لِلمُتقِین (القصص ـ ۸۳)

دا عالم اخرت موږ دهغو خلکو لپاره خاص کړی څوک چې په دنیا کې نه ځان لوی ګرځول غواړي اونه فساد کوي، غوره نتیجه نیکانوته ورکول کیږي

ځواکمن، خبیر، صالح او مصلح مسلمان!

دضرورت ترحده دبشریت دفایدې اوښوموخو لپاره اسلام دژوند، کائناتو اوعلم په لاره کې زیار او زحمتونه ګالل جایز بولي، بلکې په اړه یې ډېرځلي ترغیب هم ورکوي، په دې وجه الله تعالی دځواکمن، باخبر، هوښیار، صالح او مصلح مومن مثال ورکړی، چې هغه هم کائناتي اومادي ځواکونه مسخر ګرځوي اوهم داسبابو او وسائلو ذخایر خوندي کوي او ددي ترڅنګ پرلپسې لګیاوي دخپلو فتوحاتواوعملیاتو دائره پراخوي، خو ددي باوجود دخپل ځواک، سلطنت او د رهبریت په ځوانۍ او مستۍ کې هم په ظاهري اسبابو دتصرف مندلو وروسته بیاهم پخپل رب ایمان لري او وړاندې یې خپل سر ښکته کوي، په اخرت باندي یقین لري او هم دهغه لپاره زیار باسي، پخپلو کمزوریو اعتراف کوي د بشریت پر کمزورو قومونو

مهربان او هروخت دحق ملاتړی او ملګری وي او هم خپل ټول زیارونه، صلا حیتونه، خپل ټول وسائل او ذخایر دالله تعالی دکلمې دسرلوړۍ سره صرف کوي، په هغه سیرت او کردارسره موافق درومي دکوم استازیتوب چې سلیمان بن داود علیهما السلام، ذوالقرنین، راشدینو خلفاوو او اسلامي ایمه وو پخپلو، خپلو زمانو کې ترسره کړی

ژوند، داخرت عبوري مرحله!

ددنیاوي ژوند په باره کې دهغه موقف او پالیسې داده چې ترټولو لوړهدف، دترقۍ او کامیابۍ معراج یې نه ګڼي، یوه داسې عبورې مرحله یې انګیري چې ورڅخه پوریوتل دهرانسان لپاره اړین دي دهغه په اند دنیاوي ژوند دلویې کامیابۍ، دلافاني او خوښیوډک ژوندلپاره یوه زریعه او ووسیله دی په قرآن مجید کې ددې دنیا بې ثباتي او داخرت په مقابله کې یې نا حقیقیتوب بیان شوی چې په خورا ښکاره او قوت سره وایي:

فَمَا مَتَاعُ الحَیوةِ الدُنیا فِی الاخِرَةِ اِلا قَلِیل

(پس په یادولرئ) ددنیا دژوند سامان داخرت په مقابله کې هیڅ هم ندی مګر لږ.

بل ځای ارشاد دی:

وَاِنّ الـدّارَ الاخـرةِ لَهِـیَ الحَیَـوانُ لوکـانو یعلمـون (العنکبوت ـ ۶۴) او اصل ژوند داخرت دی، که دوی ته ددي علم وای نوداسې به یې نه کول

بل ځای ارشاد دی:

اِعلَمُوا اَنّمَـا الحیـوةُ الـدُّنیا لَعِـبٌ وَلَهـوٌ وَزِینـةٌ وَتَفَاخُرٌ بَینکُم وتکاثُرٌ فی الاموال والاولاد کمثل غیث اعجب الکفار نباته ثم یهیج فتراهُ مصفرا ثم یکونُ حُطاماً وفِی الاخرة عذاب شدید ومغفرة من الله ورضوان وما الحیوة الدنیا الا متاع الغرور (الحدید ـ ۲۰)

تاسي ښه پوشئ (چې داخرت په مقابل کې) دنیاوي ژوند لهو ولعب او (ظاهري) زینت او پخپل منځ کې پریوبل باندې فخرکول، او په مالونو او اولادونو کې دیوبل نه زیات ښودل دي لکه باران چې پیدا وار یې دقهان ته ښه معلومیږي بیا چې هغه وچ شي او زیړ ښکاریږي، بیا ریزه ریزه کېږي، داخرت (کیفیت هم دادی چې پکې) عذاب سخت دی او دخدای له لوري مغفرت او رضامندي ده او دنیاوي ژوند محض د دوکې اسباب دي

الله تعالی ډیرڅرګند دنیا داخرت لپاره پل او دعمل یوفرصت ګرځولی ارشاد دی:

اِنَا جَعلنَا مَا عَلَی الارضِ زِینَةً لَهَا لِنبلُوَاهُم اَیُّهُم اَحسَنُ عَملا الکهف

دزمکې په مخ چې هرڅه هم دي، داموږ دزمکې دښکلا سبب ګرځولي، او ددي لپاره چې خلک په ازمایښت کې واچوو، چې څوک داسې دی چې دهغه کار ترټولو ډیرغوره دی

په بله موقع کې راځي:

الذی خلق الموت والحیوة لیبلُوَا کُم اَیُّکُم اَحسَنُ عَمَلا وَهُوَا العَزِیزُ الغَفُور (الملک ـ ۲)

چاچې مرګ او ژند پیدا کړي څو تاسي وازمايي چې په تاسو کې کوم شخص په عمل کې ډیربنه دی او هغه زبردست ښونکی دی

وايي اخرت ډیر غوره او زیات پایښت لرونکی حقیقت دی:

وما الحیوة الدنیا الا لعب ولهو وللَدار الاخرةُ خیر للذین یتقون افلاتعقلون (الانعام ـ ۳۲)

او ددنیا ژوند هیڅ هم ندی مګر (یوډول) لوبه او تماشه او کوم چې متقیان دي نو یقیناً دهغوی لپاره داخرت کور غوره دی (افسوس په تاسو) ایا تاسو (په دومره خبره) هم نه پوهیږئ

وما أُوتِیتُم من شئ فمتاع الحیوة الدنیا وزینتها وما عند الله خیرو وابقی افلاتعقلون (القصص ـ ۶۰) اوکوم څه چې تاسوته درکړل شوي هغه محض (دڅو ورځیني) دنیاوي ژوند متاع او دهمدي ځای زینت دی اوکوم (اجر وثواب) چې دالله تعالی سره شته هغه په ځلونو ددینه غوره دی او ډیر باقي پاتي کیدونکی دی ایا تاسو (په دي توپیر) نه پوهیږئ

دهغو خلکو غندنه کوي څوک چې دې فاني، عارضي، ناقصي او دعیبونو ډکي دنیاته په تلپاتي. لازوال، لوی، له هرډول ککړتیاوو، ناروغیو او تاوانو څخه پاک او له هرې اندیښنې ازاد او له هرخطر لري اخرت باندې ترجیح ورکوي قران پاک وايي:

ان الذین لا یرجون لقاء نا ورضوا بالحیوة الدنیا وطمأنوا بها والذین هم عن ایتنا غفلون اولئک مأوهم النار بما کانوا یکسبون (یونس ـ ۸۱۷) کوم خلک (چې دمرګ وروسته) له موږ سره دمیلاویدو تمه نلري یواځي ددنیا په ژوند راضي دي او په دي حالت ډاډمن دي اوکوم خلک چې زموږ دنشانیو څخه غافل دي نو دداسې خلکو وروستی تم ځای دوزخ دی داسبب دهغه کسب دی کوم چې یې (د خپلو عملونو په زریعه) کړی

بل ځای ارشاد دی:

من کان یریدُ الحیوة الدُنیا وزینتها نُوَفِّ اِلیهم اعمالهم فیها وهم فیها لایبخسون أُلئک الذین لیس لهم فی الاخزة اِلا النار وحبط ما صنعوا فیها وبطل ماکانوا یعملون (هود ـ ۱۵، ۱۶)

څوک چې (یواځي) ددنیاوي ژوند او دهغه زینتونه غواړي نو (زموږ تاکلی قانون دادی چې) دده دکوښښ او عمل نتایج به پوره پوره ورکول کیږي داسې نه کیږي چې په دنیا کې به دهغه سره کمی وکړای شي (خو په یاد ولرئ) ده هغه خلک دي چې دهغوی لپاره داخرت په ژوند کې د دوزخ داور نه سیوا به هیڅ نه وي، هرهغه څه چې هغوی دلته ودان کړي ټول به برباد شي او چې هرڅه کوي هغه ټول فنا کیدونکي دی

نوربیا...

مذهبي فشار!!

عابد

شاید دغه اصطلاح مو مخکې نه وي اورېدلې اونه په کوم مذهب او دین کې ورته څه جواز او روایت پیداشي .

هو ! دغه اصطلاح نوې او دیویشتم قرن دمتمدنو قوتونو ایجاد او پرمختګ دی، هغوی چې دمنسوخ دین پیروان دي او په خپل دین کې تحریف دومره عادت کړي او دایې له فکره وتلې چې دمسلمانانو په دین کې تحریف دومره ځای هم نه لري چې یواځې همدا اصطلاح پکې وکارول شي او کارول یې په خپله دبطلان کرښه په ځان راکاږي .

د ۲۰۱۸ م کال دمارچ په (۱۹) مه دامریکایي قواوو قوماندان جنرال نیکولسن خپلو کرلو تخمونو ته په تمه خورا په بریمن انداز خبریالانو ته ویناکوله ویې ویل "سږ په ۲۰۱۸ م کال کې به پرطالبانو د یولړ دیپلوماتیکو او ټولنیزو فشارونو ترڅنګ د ډېر مؤثر مذهبي فشار شاهدان هم یو او هغوی به دهمدغه مذهبي فشار له امله دېته اړ کړو چې دکابل له ادارې سره مذاکرات وکړي"

هماغه وو چې څه موده وروسته په اندونیزیاکې دعلماوو په نامه غونډه ترتیب شوه خو خورا ناکامه او کاملاً دهغه څه پرضد شوه چې دوی یې تمه درلوده، دادی دلویې جرګې په تالارکې ددغه فشار دویمه غونډه هم ترتیب شوه، خولکه چې ښکاري فشار یې په ګزک بدل شو اوبیرته دغونډې په منتظمینو یې جانبي عوارضو اغېز وکړ ، له هرلوري پرې نیوکې کیږي او ورځ په ورځ یې په دې اړه غدرونه او دوکې افشاکیږي .

دمذهبي فشاروسیلې نه یواځې داچې متوقع امیدونه قطع کړل، بلکې برعکس یې یوبل پټ راز راڅرګند کړ او په اشغالګرو یې خپله بې وسي او عجز هم ومانه چې له خپلو ټولو شته وسایلو سره سره یې بالآخره مذهبي فشار ته پنا راوړه چې دا په واز کومي په جګړه کې له بریا ناهیلي اوپه ماته اعتراف دی .

دېرځله زمونږ دګردي میزونو په بحثونو کې هم زمونږ سیاسیون همدا خبره کوي او آخرکار په دې خبره ودرېږي چې دطالب جګړه عقیدوي جګړه ده ترڅو چې ددوی مبارزه په ورته دیني دلایلو ونه ننګول شي، ګرانه ده چې په بل ډول یې مخه ونیول شي .

ښه! چې جګړه عقیدوي جګړه ده، نو ښکاره ده چې طالب به هم دڅوکۍ اوقدرت لپاره نه جنګیږي مدعا به یې دیني صبغه لري او غوښتنه به یې ددین داحکامو پلي کېدل وي، بیا نو هغه کوم باعث اولامل دی چې تردې غوښتنې فوق دی، هغه غوښتنه چې یواځې دطالب غوښتنه نه! بلکې دولس غوښتنه ده چې مسلمان ولس دی او دادومره عمر کړاوونه یې یواځې ددین لپاره په ځان منلي، نوبیا ولې په لوی لاس دلاس غوټه په خوله خلاصه شي او دخلکو له رأیې سره جفا وشي او په داسې نومونو مصروف کړای شي چې هیڅ لاسته راوړنه ونه لري

دمذهبي فشار اصطلاح په هغه صورت کې سمه او مؤثریت لرلای شي چې دواړه لوري د حقانیت په اعتبار یو برابر وي، دلته خو یولوری حق اوبل باطل دی، حق لوری هیځکله په باطلو کلمو نه شي مغلوبېدلی، بلکې دباطل دمغلوبېدو نښې بلل کیږي او بس .

دالخنـدق عملـیاتو کامـیاب جـریان
او د نکلیسن تاریخي دروغ

حسن مومند

د افغانستان داسلامي امارت له لورې داپریـل پـه ۲۵ مې نېټې دالخندق په نـوم داعـلان شـویو نویـو پسـرلنیو عملیـاتو پیـل او تـردې دمـه دوام دواړه دتېـرو کلونـو دپسرلنیو اعـلان شـویو عملیـاتو پـه پرتلـه ډېـر گـرم، ډېـر بریـالي، ډېـر پرامیـد او دکـورني او بهـرني دښـمن لپـاره ډېرورخطا کونکي دي ځکه خو لـوي شـیطان ټرمـپ خپلـو عسکري مشرانو ته خپلـه غصـه ښـکاره کـوي؛ ښـه پـه وازه خوله خپل شکست مني او ښه په روښانه ټکو اعتراف کوي چې په افغانستان کې یې دمجاهدینو په مقابل کـې جنـگ دبایللو پرلور روان دی.

دا چې تش لاسو افغانانو دنړۍ دترټولـو سـتر مـادي طاقت پرضد تر ۱۷ کلونو پورې جنـگ روان وساتلای شـو؛ ددښمن ترغیب او ترهیـب او ددښـمن لـه لـورې لـه حـده زیاتو ظلمونو او وحشتونو دجنگ نه تېرېـدو او دښـمن تـه تسلیمېدو ته تیار نکړل او دا جنگ دامریکا دتاریخ ترټولـو اوږد تـاواني جنـگ وگرځېـد، دنـړۍ دټولـو پوهـانو او پـه ځانگړې ډول دعسکري چارو د ماهرینو پـه اندهمـدا ددې ستر غاصب ځواک شکست او دافغانانو دپاره سـتره فتحـه ده.

خو دخوښۍ ځای دا دی چـې خـبره یـواځې داوږدې مودې لپاره جنـگ تـه دوام ورکولـو او دښـمن تـه دسر نـه ښکته کولو نده بلکې زموږ هر راتلونکي کال دتېرپـه پرتلـه له ددښمن په مقابل کـې زیـات سـوبمن او هیلـه بښـونکی وي.

دټرمپ دنوي اعلان شوې جنگي سـتراتېژۍ پـه تـرڅ کې پـه افغانسـتان کـې هـوایي برېـدونو او چـاپو ډېـر زور واخست او وحشت له خپلـو ټولـو حـدودو واوښـت اوددې وحشت په نتیجه کې عامو افغانـانو تـه ډېـره سـتره مـرگ ژوبله ورسېده خو ددښـمن دې لـوی او بـې مثلـه وحشـت دافغانانو احساس لامضبوط، حوصلې یې لالوېې؛ دکورني او بهرني دښمن پرضد په کرکه کې یې لاډېر والی راوست نـو مجاهدینو په ډېر عالي مورال او بلندو عزایمو دالخندق په

نوم په نومول شوي نوي پسرلني عمليات پيل کړل چې الحمدلله دډېرو سترو سوبو سره يو ځای پرمخ روان دي او دښمن يې دډېرې زياتې ورخطايي سره مخامخ کړيدی.

دهېواد په جنوبي، شمالي شرقي او مرکزي ولايتونو کې ګڼې ولسوالۍ او فراخې سيمې داسلامي امارت دمجاهدينو ترواک لاندې راغلې؛ ستر عسکري مرکزونه فتحه شول او په يوې يوې حملې کې ددښمن په لسګونو پوستې له منځه ولاړې او په تېرې څه دپاسه يوې مياشت کې مجاهدينو دومره وسلې، مهمات او فوځي نقليه وسايل ترلاسه کړل چې ترټول کال به ددښمن پرضد دکارولو لپاره کافي شي.

دالخندق عملياتو تېزوالي او دهېواد ټولو برخو ته وسعت هسې ددوه درې ورځو نمايشي خبره نه وه بلکې بې له تعطله اوس هم ښه په جوش او جزبې دوام لري او دګڼو ولايتونو واليان دخپلو يو شمېر ولسواليو په باره کې وايې چې دسقوط دجدي خطر سره مخامخ دي او دومره ځواک نه لري چې دطالبانو مقابله پرې وکړي.

دراتلونکو ولسمشريزو انتخاباتو لپاره دنوم ليکنې پروسه دکابل لاسپوڅې ادارې لپاره ډېره اهمه پروسه ده چې په هرقيمت يې کاميابول غوښتل خو دې عملياتو دښمن دومره دسترې وېرې سره مخامخ کړی چې په ولسواليو کې خو ددې نوم ليکنې لپاره ددفتر خلاصولو تصور هم نه شي کېدای دګڼو ولايتونو په مرکزونو کې چې دفترونه خلاص شوي وو له وېرې بېرته وتړل شول.

ورخطا لاسپوڅې ادارې لا له وړاندې اسلامي امارت ته دسولې خواستونه کول او دا ځل خو يې بې قيد وشرطه مذاکراتو غولونکې نارې هم پورته کړې ترڅو دپسرلنيو عملياتو دسختو ګوزارونو نه ځان وساتي خو اسلامي امارت چې د بې واکه او بې اختياره ادارې سره په مذاکراتو کې ګټه نه ليدله نو رد يې کړې چې ورسره لاسپوڅې اداره ډېره ناهيلې شوه.

دناهيلۍ او شکست په همدې عالم کې اوس په افغانستان کې دامريکايي او ناټو ځواکونو قوماندان جنرال نکلسن چې په لنډو ورځو کې ديو ناکام قومندان په صفت دافغانستان نه تلونکی دی په کابل کې دخپل دفتر څخه په پېنټاګان کې خبريالانو ته دا تاريخي دروغ وويل چې دطالبانو سره دسولې پټې خبرې روانې دي؛ طالبانو کې هم اوس دجنګ ختمولو تلوسه راپيده شويده او داسې برېښي چې دطالبانو ډېر مهم مشران به دسولې خبرو ته غاړه کېږدي؛ دسولې لپاره په روانو دغو پټو هڅو کې غيرواضحه نړيوال سازمانو نه بهرني هېوادونه او افغانستان سره علاقه لرونکي خلک شامل دي.

اسلامي امارت چې پرافغانستان دحملې نه لا وړاندې دخبرو اترو او دمذاکراتو له لارې دستونزې دحل خبره کړې وه نن هم په خپل دغې معقول موقف ولاړ دی او خپل دا موقف يې نړۍ ته ښه په جرأت ښکاره کړيدی او دد ې لپاره چې نړۍ دخپل دريځ نه خبره؛ په اړينو مسائلو ورسره وغږېږي او دغرب دمنفي تبليغاتو حقيقت نړۍ ته روښانه کړي په قطر کې يې دفتر خلاص کړيدی؛ داسلامي امارت مشرانوکې دجنګ ختمولو تلوسه څه نن نده راپيده شوی بلکې له پيل نه دلته دجنګ خلاف وو؛ جنګ چې له ځان سره سترځاني اومالي تاوانونه لري ولې به يې طالبان په خپل هېوادکې وغواړي؟ داخوامريکايان ووچې دجنګ اوافغانستان داشغالولوپرته يې بل هيڅ نه منل؛ په افغانستان يې جنګ مسلط کړ نو دخپل دين، ځان، عزت اوخاورې نه ددفاع او ازادۍ په موخه اسلامي امارت هم مجبوراًجنګ ته لاس کړ.

مذاکرات داسې څه ندي چې اسلامي امارت ورنه کلي انکار کوي ترڅو ځنې مشران په پټه ددې هڅې

وکړي؛ نه دامارت غړي خپلواهدافو ته بې وفادي او نه دې ته اړتیا لري چې په پټه دا کاروکړي.

هو! اسلامي امارت دمذاکراتو په نوم نه دښمن ته تسلیمېږي؛ نه پدې نوم په هېواد او بهرنۍ کې ځان بدناموي؛ نه ددښمن په پلمو د خپل ۱۷ کلن جهاد له برياو تېرېږي او نه هم خپل وخت ضایع کوي نو ځکه یواځې دخپلواک اړخ سره خبرو ته تیاری ښايي او دمذاکراتو لپاره شرطونه هم وړاندې کوي.

جنرال نکلسن چې په افغانستان کې دامریکا او ناټو دقواوو دمشرۍ نه دیو داسې ناکام قوماندان په صفت فارغېدونکی دی چې هیڅ لاسته راوړنه نه لري په تلو تلو کې هڅه کوي چې خپله یوڅه لاسته راوړنه ښکاره کړي خو دده له بده مرغه چې هڅه يې ځکه ناکامه ده چې نړۍ څه داسې ړنده نده چې په مجهولو خبرو اعتماد وکړي؛ هغه ویلي دي څني غیرواضحه نړیوال سازمانونه؛ بهرني دولتونه او افغانستان سره علاقه لرونکي خلک دا هڅې کوي.

که ورنه وپوښتل شي چې دا څوک دي نو نوم يې نه شي اخیستلی.

امریکايي جنرالان باید پدې پوه شي چې نوریې دافغانستان جګړې کې دروغ نه چلېږي؛ پخپله دامریکا ولسمشر يې هم نور په دروغو باور نه کوي نو ځکه ټرمپ د تېرې میاشتې په ۱۹مې نېټې په سپینې ماڼۍ کې دافغانستان دمسئلې په اړه جوړې غونډې ته دوینا پر مهال ویلي چې امریکا په افغانستان کې جګړه بایلي؛ ټرمپ په غونډه کې ددغه هېواد په نظامي جنرالانو سختې نیوکې کړیدي چې دافغانستان جګړه يې دبایللو په حال کې کړیده؛ ټرمپ دجنرال نکلسن دلرې کولو غوښتنه کړیده او ویلې يې دي چې دجګړې په ګټلو ندی بریالی شوی؛ ټرمپ دافغانستان نقشې ته اشاره کړې او ویلې يې دي چې طالبان ورځ تربلې سیمې لاندې کوي او جګړه دبایللو په حال کې ده.

ټرمپ پرځای اعتراف کړیدی خو باید په روښانوټکو يې منلی وای چې دلته یواځې جنرال نکلسن نه بلکې ټوله ناټو اوامریکا ناکامه ده؛ د الخندق نویو پیل شویو عملیاتو په برکت به ټرمپ دا اعتراف هم وکړي.

ښه دا ده چې ژر يې وکړي ترڅو د تېښتې مصئونه لار له لاسه ورنه کړي؛ ګینې بیا به دمصئونې لارې غوښتونکی وي خو نه به ورکول کېږي.

په یوطرفه او مرموزو فتواګانو مسئله نه حل کیږي

عبدالسلام ضعیف

نه مې غوښتل څه ولیکم، خو دا چې سکوت په رضا باندې دلالت کوي؛ له همدې کبله غواړم د علماوو په وروستۍ غونډې یو څه لیکم.

تیر کال په انټرکانټیننټل هوټل کې د سولې شورى لخوا د افغانستان د مختلفو ولایتونو څخه علماء راغوښتل سوي وه، ما ته هم په ډیر اصرار سره دعوت راکول سوی و، او راته ویل سوي او ګرنټي سوي وه، چې د ټول هیواد په کچه خپلواک، بې طرفه، مخور او جید علماء راغوښتل سوي دي، تر څو د هیواد روانو حالاتو ته یوه معقوله او د حل لاره پیدا کړي.

دا ما ته خورا مهمه وه چې که رشتیا هم داسي علماء کرامو ته موقع ورکول سي چې بې طرفه، د اعتماد وړ، په هیواد کې منلي او مطرح علماء وي کیدلای سي یوه ښه معقوله لاره وړاندیز کړي، چې هم د هیواد استقلال او خپلواکي ته پکښې کتل سوې وي او هم د خلکو عزت، وقار، درناوی او د مسئلې حل پکښې نغښتی وي.

خو کله چې د هوټل سره نږدې د تلاشي ځای ته ودریدم ځیني علماء بیرته را ووتل، ما ورڅخه پوښتنه وکړه ولي بیرته راووتلاست؟ هغوی وویل چې موږ ته ویل سوي وه چې علماء به راځي خو اوس اکثره حکومتي امامان دي نو موږ پکښې ګډون نه کوو. خدای سته زه هم زړه نازړه سوم، خو چون ما ته د خبرو وخت راکول سوی وه، د وعدې مطابق ورغلم.

کله چې تالارته داخل سولم رشتیا هم وضعیت هسې نه وه لکه موږ ته چې ویل سوې وه، که څه هم د تالار تشه په خلکو ډکه سوې وه خو د مجلس اکثر ګډونوال د سولې شورى او د اوقافو سره تړلي کسان وه، دګوتو په شمیر یو څه کسان داسي په کښې وه چې د حکومت په چوکاټ کې به یې کار نه کاوه.

کله چې زما د خبرو نوبت راغی نو د یوه افغان په توګه مې وړاندیز وکړی، چې نن‌ی مجلس باید یوازې تر مشورې پورې محدود سي؛ ځکه چې دلته راغلي کسان چې زه ورته په کامله مانا احترام لرم خو دا حقیقت دی چې ډیری یې بې طرفه نه دي، اکثره په یوه او بل نامه حکومتي کسان بلل کیږي او رسمي دندې لري، په کوم فکر چې زه دعوت سوی او راغلی یم هغسې نه دي.

هلته ما د خپل وړاندیز لپاره درې دلیله وویل:

اول: که دغه کسان وفتوی ورکولو ته وهڅول سي نو د دوی فتوی به یوطرفه وي، یو طرفه قضاوت نه په عدالت ولاړ وي او نه هغه بل طرف ته د قبول وړ وي او نه هم روانو حالاتو ته ګټه رسوي.

دویم: که غواړئ چې علماء کرام په راتلونکې کې د سولې په اړه مثبت رول ولوبوي نو معتدل موقف دې غوره کړي، مستقل او بې طرفانه دریځ دې وساتي.

دریم: چون دلته یرغلګر طرف چې امریکایان دي حضور لري، د ټولو ستونزو مبدء هم دوی دي، همدا

بنيادي ستونزه ده. نو د دوی د وتلو او مهال ویش پرته، د هغوی په حضور کې هره فتوی چلنج کیږي او دا به یوازي دا نه چې بې عمله پاته کیږي بلکه د علماء کرامو حیثیت، موقف او د دوی شخصي امنیت ته به سخت تاوان ورسوي.

په اخر کې مي دا هم وویل چې د سولي شوری کسان دې هم د دوی په مشوره سره اکتفا وکړي، د فتوی کوشش دې پریږدي، دا کار ګټه نه لري، او ځیني نوري سیاسی خبري هم وي.

ښکاره خبره وه چې زما خبري په ځینو کسانو باندې بدې او ترخي ولګیدلي، دا یو تریخ حقیقت وه. که څه هم داسي کړني د سولي پروژې ته موقته ګټه رسوي، مګر دا یو حقیقت وو او دی چې داسي هڅي دا نه چې د سولي پروسې ته ګټه نه کوي بلکه تاوان کوي او د سولي د سفر لاره نوره هم اوږدوي.

اوس هم چې تیره ورځ د لویې جرګې په خیمه کې کومه فتوی صادره سوه، تر هغه هم ډیري باریکي لري او ډیره کمزوري ده. په تیر مجلس کې یو څه بې طرفه کسان په دې فکر ورغلي وه، چې دا به رشتیا هم د خپلواکو او بې طرفه علماء کرامو مجلس وي، اوس به په هغه کچه هم نه وي. دویم دا چې هلته خلکو ته د خبرو وخت ورکول سوې وه او په ژوندۍ بڼه خبري نشرکیدلی، مطبوعات او شنونکي موجودوه، اوس داسي نه وه، ترڅو چې لیکلی شی مطبوعاتو ته راوتی څوک خبر هم نه وه.

دا چې په هره طریقه سره وي، وي به، کابل به د خپل موقف د مشروعیت لپاره هره هڅه چې د دوی په ګټه وي کوي به یې، امریکا هم خپل د مسؤلیت څخه تیښته کوي، یا دا چې هغوی د خپلو ظلمونو ځواب او د عسکري حضور د بشپړ وتلو لپاره د حقیقت سره ځان نه مخامخ کوي او دا دروند او نه پورته کیدونکی مسؤلیت د کابل اداري په اوږو باندې وراچوي. کابل اداره هم د دې تلاښ کوي چې خپل ځان ته د ملت د نمائنده حکومت په توګه مشروعیت ورکړي، د د ې کوشش کوي چې طالبان او د طالبانو مشروعیت ترسوال لاندې راولي. د سولي په نامه هڅي تراوسه پوري په همدغه محور راګرځي.

زما په نظر چې دا هر څه تراوسه د جنګ د ستراتیژۍ اړخ دی، او دا هغه څه دي چې نه د مرض درمل کولای سي، نه حقیقت مغلوبه کولای سي او نه سوبه او سوله چې د ټولو هیوادوالو ورکه او ارمان دی راوستلای سي.

ښه به دا وي چې په داسي فورمول باندې کار وسي چې هم د روان حالت څخه د وتلو لار پیدا کړل سي او هم د هیواد خپلواکي په کې تضمین سوي وي. په داسي یوطرفه، غیرتحقیقي او مرموزو فتواګانو باندې نه څوک عمل کوي، نه څوک ورباندې محکوم کیږي، نه مسئله حل کوي او نه ورباندې هیواد جوړیږي، هسي د جنګ دوام، د وینوتویول، د وخت او فرصتونو ضائع کول دي.

په ځانګړي توګه ملایانو ته:

د علماوو په نامه که هرڅوک وي باید د نورو علماء کرامو حیثیت ته وګوري، عالم باید داسي کردار اداء کړي چې د الله او ملت په وړاندې مسؤل وي، د امریکا یرغل، ظالمانه کړني، د خلکو او ملتونو خپلواکی غصبول، په ټوله اسلامي نړۍ کې دسیسي جوړول، ورور په ورور، مسلمان په مسلمان وژل، د اسلامي نړۍ په زیرمو او شتمنیو خیټه اچول، زموږ په ګران هیواد کې د تروروست په نامه د لکونو انسانانو څخه د ژوند اخیستل، دیني شرائع توهینول، د خلکو په کورونو چاپي وهل، بېګناه افغانان په ګوانتانامو، بګرام او نورو زندانونو کې بندې کول، د خلکو تحقیرول، د فساد ترویجول او اوس هم د دغه لړۍ دوام او بالآخره د مسلمانانو دویمه قبله اقصی ویهودو ته سپارل... دا ټوله مو بحث نه کړه او نه مو د هغه په اړه تصمیم ونیوی!! عجیبه ده تاسو به هم د الله په وړاندې کوم جواب ولرئ؟؟

دعلماوو په نوم غونډه او سوله؟

■ ليكوال او شنونكى اميد "خُرم"

د افغانستان روانه جگړه چې اتلس كاله يې په پوره كېدو دي لمړی شروع يې امريكا او ملاتړو يې د افغانستان په اشغال سره وكړه د جگړې له شروع تر نن پورې يې زرگونه افغانان په شهادت ورسول چې د امريكا او متحدينو په وړاندې يې ولس غبرگون وښود او په وړاندې يې د انگليس, روس , په څير ودرېدل ترڅنگ يې علماوو هم خپل رسالت ادا كړ د امريكايانو روان ظلم او د افغان حكومتونو چوپتيا او يواځې غندل يې تر ټولو ستر ظلم ياد كړ.

او په وړاندې يې خلک جگړې كولو ته وهڅول د علماوو دريځ سره افغانان د بهرنيانو په وړاندې كلک ودرېدل. چې بهرنيانو هم د علماوو تاثيرات په ولس او جگړه كې تر ځار لاندې لرل.

ځكه يې نو په مساجدو او مدارسو چې د اسلام دمقدس دين قوي فكري سنگرونه دي په ظالمانه توگه بمبار كړل چې په ترڅ كې يې زرگونه مساجد او مدارس ونړول علما او عام افغانان يې په بې رحمی سره شهيدان كړه.

د نظامي جگړې ترڅنگ بهرنيانو د علماوو نقش ته په كتو سره ځينې بې ضميره علما هم د پيسو او نورو امكاناتو په مقابل كې د ځان په گټه وپيرل ترڅو هر وخت د خپل دايمي شتون لپاره گټې ترې پورته كا چې د بېلگې په توگه د علماوو ننۍ غونډه درته وړاندې كوم چې په ترڅ كې يې علماوو خپل اصلي رسالت پرېښود او د امريكا په گټه يې پرېكړه وكړه نه د افغان حكومت, عامو افغانانو او طالبانو په گټه ځكه علماوو اشغال او اشغالگر ونه غندل د جگړې دروند پېټی چې د بهرنيانو په اوږو ده په ښكاره له پامه وغورځاوه او د جگړې پړه يې په افغانانو واچوله كه هغه طالبان دي او كه افغان حكومت.

دا يې ونه ويل چې دا ناروا جگړه امريكايانو شروع كړې او دا ناروا كرنه بايد د هغوی د بربنډې مداخلې د پای په صورت كې جبران شي او بايد خپل نظامي حضور په افغانستان كې صفر كړئ.

بلكې برعكس افغانان يې په يو ډول په غيرعلني توگه نړيوالو ته جگړه مار او شر خوښي معرفي كړل او جگړه يې يواځې په افغان حكومت او طالبانو وتپله چې هيڅ راز توجيه نلري.

كه علما د حق نه نه وای تير شوي دا به يې ويلي وه چې كله افغانستان باندې د امريكا لخوا يرغل وشو د وخت افغان حكومت ړنگ شو د افغانانو زيات شمير ملكي او نظامي وسايل د ډاياک او DDRپه نوم له منځه يوړل شول ترڅو خپلو وسايلو ته د پلور بازار ومومي د دې عمل غندنه به يې كړې وه د خسارې غوښتونكي به ترې شوي وه

د پېغو وژنو , زندانو , ترور , او وحشت د بنديدو غوښتونكي به له امريكا شوي وه او دا كرني به يې نا روا بللې وې خو افسوس د دې علماوو په حال چې حق يې پټ كړ او د جگړې په اصلي عامل چې امريكايان دي په شتون او ظلم يې چوپ خوله پاتې شول.

د حشر په ورځ به ټول افغانان ددې علماوو په گريوان كې لاسونه اچوي او د دې ظلم پوښتنه به ترې كوي.

ځكه علماوو په دې كرنې سره سوله له منځه يوړه او د جگړې د دوام لامل شول.

په دې ټول افغانان پوهيږي چې دا جگړه امريكايانو شروع كړې او ترهغه د ختميدو امكان نلري ترڅو چې بهرنيان دلته شتون ولري.

نو داسې درباري علماوو ته په كار ده چې نور ځان ونه شرموي او د حق د پټولو نه لاس واخلي كه نه په اخروي عذاب تر هرچا ښه پوه دي.

اشغال وغندي او سوله وغواړي نه داسې چې اشغال تائيد كړي او سوله وغواړي په دې ډول سوله راتګ خوب او خيال ده

د امریکا د سفارت فتوا

د درباري ملایانو له خولې

لیکوال بدر ځلاند

د امریکا په سفارت کې د نیکولسن له لوري څو میاشتي مخکې لیکل شوي فتوا چې یوځل یې اندونیزیا ته ولیږله خو چا قبوله نکړه پرون یې بیا په کابل کې څو حرامخواره د مور پلار او استاذانو او علم ازار وهلي د ډالرو په زور ورته راټول کړل او پرې امضاء یې کړله په لاندې ډول وه

لومړی: د افغانستان اسلامي جمهوریت ۹۹ سلنه خلک مسلمانان دي او اساسي قانون یې د سیمې په کچه تر ټولو ډیر اسلامي ده، نو بناء پر وړاندې یې وسلواله مبارزه او د جهاد تر نامه لاندې هر راز کړنې هیڅ شرعي جواز نه لري

خو دایې ونه ویل چې د ۹۹ فیصدو په منځ کې چې په لسګونو زره یرغلګر یهودیان وي دهغو کافرو سره جنګ څنګه ده

دوهم: روانه جګړه چې ورځ تر بلې سختیږي، په دې جګړې سره هیڅ راز ګټه مرتبه نه ده، باید حکومت او طالبان یاده جګړه ودروي او د ولسمشر د سولې وړاندیز ته په کتلو سره سوله وشي خو دایې ونه ویل چې د دوی کوم رنګ ګټه مطلب ده چې هغه نه ده مرتبه شوې

درېم: انتحار او انفجار په اسلام کې هیڅ شرعي اساس نه لري، نو په همدې وجه د وسلوالو له لوري ځانمرګي بریدونه او انفجارات کول په قطعي توګه حرام دي

خو دایې ونه ویل چې په احادیثو کې خو رښتیا هم بارود نه دي ذکر شوي خو دامریکایانو له لوري سل رنګه بمونه په مسلمانانو استعمالول په اسلام کې څنګه ارزوي ایا افغانان ددوی دبمونو د باران لاندې غلي ارام ورته کیني که څه وکړي

څلورم: سوله الهي امر ده، هر څوک چې سوله نه کوي د خدای او رسول له اوامرو سرغړونه کوي

خو دایې ونه ویل چې کوم وخت چې بوش د ځمکې او هوا له لارې کروز توغندي او فاسفورس بمونه وروول په افغانانو بیل کړل هغه وخت د دوی په کتابونو کې دا مسئلې ولې نه ښکاریدلې چې نن یې په کې ولیدلې؟

پنځم: افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده، باید د هر قسم دیني او اخلاقي مفاسدو مخنیوی وشي، کوم چې د ځوانانو د بې لارۍ سبب ګرځي

خو دایې ونه ویل چې دحکومتي لوړ پوړو چارواکو ترمنځ یو پر بل جنسي تیري کول او په وطن ساتونکو دسپیو غوښې خوړل څه حکم لري؟

شپږم: د مسلمانانو تر منځ هر قسم قومي، ژبني تعصب او نفاق د اسلامي دین له اساساتو سره تغایر لري او تر سره کونکي یې د سزا وړ ګڼل کیږي

خو دا یې ونه ویل چې هغه خراسانیان چې په ارګ او وزارتونو او پارلمان کې د من افغان نیستم چیغې وهي او په حکومت کې لوړې چوکۍ هم ورکړل شوي دهغو لپاره ددوی په کتابونو کې کومه سزا شته؟ او ایا دا کارونه تعصب او قوم پرستي بلل کیږي او که نه؟

اووم: د جهاد حکم کول یواځې د اسلامي دولت د حاکم تر امر پورې تړاو لري، هر څوک د جهاد امر نشي-صادرولای

خو دایې ونه ویل چې اسلامي دولت کوم دولت ته ویل کیږي او ایا د هغه یهودي تابعیت لرونکي مشر امر هم د جهاد لپاره شرط ده چې اسلام جهاد فرض عین ورسره بللی وي او که نه؟

اختر ته!

عقابي جانان

خوشحالي راوړه اختره، نېکمرغي راوړه اختره
زمونږ خفه او زخمي زړو ته، تسلي راوړه اختره
ژوند مو ټول غمجن غمجن دی خوشحالي ده مروره

راته سور اور خپل وطن دی آزادي ده مروره
مالګه نشې زمونږ پرهر ته دوائي راوړه اختره

جېل خانې د وحشت ماتې کړه بنديان راوله کور ته
د سنګر نه بې درکه ورک بچيان راوله مور ته
ببر سرو يتيمانو ته کالي راوړه اختره

يتيمان ټول په خندا کړه مظلومان ټول په خندا کړه
زوربېدلې کړېدلې انسانان ټول په خندا کړه
هر مغرور، ظالم ته تندر اسماني راوړه اختره

په بې وزلو مهربان شه، زخمي زړو ته يې درمان شه
شهيدانو وه کورو ته ډېر په مينه ور روان شه
د شهيد طالب لورکۍ ته سره بنګړي راوړه اختره

د سنګر خوږو ملګرو ته مې ورو‌ړه دا پيغام
د اختر مبارکي او زما د مينې ډک سلام
"عُقابي جانان" ته هم مبارکې راوړه اختره

له ناکاره تر ناکاره!

سيد احسان الهام

له ناګاره تر ناګاره حق پرست دي
ته يې وساتې باداره! حق پرست دي

د قلم په ژبه هرظالم ته ګواښ کړي
حقه چيغه يې تر داره حق پرست دي

تابه وژني- تابه وژني - تابه وژني
دا زلمي نه مري ښاماره حق پرست دي

حق ستايل يې فطرتا زړونوکي ژوند کړي
حق ويل کوي بېخاره حق پرست دي

همېشه به وي محفوظ له هره غمه
چې د پاك الله له ډاره حق پرست دي

له هراته او بيا آن تر ننګرهاره
له آمو تر کندهاره حق پرست دي

له ملتيا يې ډډه ونکړې الهامه!
يارا نه يې مزېداره حق پرست دي

غزل

#محمدعلي عمري

بدبخته خلک په سړی باندې ملنډي وهي
ځان ځنی ورک وی په ژوندی باندې ملنډي وهي

هره نشه یی وی عادت ورځخه دریغ نه کوي
ښکاریږی دا چی په مرگی باندې ملنډي وهي

چی یی په جیب کی نه پیسي وي نه یی کور کی څه وي
خلک په داسې خوارکي باندې ملنډي وهي

دچا له زړه نه چی بهار دمینی کوچ کړئ وي
هغه به خود په تورپیکی باندي ملنډي وهي

زموږ دښمن دئ ورته نوم به ددوست نه ورکوو
آن که زموږ دکوځی سپی باندې ملنډي وهي

ورته یی پته دایمان او غیرت ولگیده
اوس له ناکامه په زمری باندې ملنډي وهي

دسپی لکی به شی هرڅوک به یی له ځانه شړي
خیر که نن په عمری باندی ملنډي وهي

خاورې ایرې شي

ابراهیم صیاد

پاڼې پاڼې شي خزان خاورې ایرې شي
ښکلي ژر لکه ګلان خاورې ایرې شي

انقلاب چې کوم وطن کې جنم اخلي
بې حسابه انسانان خاورې ایرې شي

د غمیو قدر نشته په دې ښار کې
په دښتونو بیابان خاورې ایرې شي

دغه خاوره کې بیا یو په دوه زیاتیږي
که هر څو مره اتلان خاورې ایرې شي

د تاریخ پاڼې د هغو خلکو یاد کړي
چې د تورو په میدان خاورې ایرې شي

ازادي به یې په وینو سینګار وکړي
چې تنکي ځوانان خاورې ایرې شي

ډیر سرونه دي خو هغه قیمتي دي
چې په دین او په قرآن خاورې ایرې شي

مرګی حق دی خو صیاد یې داسې غواړي
چې په لوی افغانستان خاورې ایرې شي

ناروغه ترکیه!

بیا د خپل پخواني برم په پل ...

ارمان

هو! اوسنی حالت ښکاره دی، دهر هېواد ،دهر ولس اودهر واکمن کردار ښکاره دی، کوم څوک چې په کومه خوا میلان لري هغوی هم معلوم دي، په دې دهرچا غوږونه خلاص او سترګې یې بیرته دي چې نن سبا سعودي عربستان څه کوي؟ ایران په کومه درومي ؟ امریکا یې نور کوم شوم او شیطاني عزایم لري؟ داسرایل غاصب رژیم نورکوم پلانونه لري؟ هندوستان څه کوي؟ ، ترکیه په کوم موقف کېده؟ پاکستان په کوم جهت کې ولاړبریښي؟ په افغانستان کې څه روان دي؟ په مصر او لیبیا کې څه پیښ شول؟ په شام اویمن کې څه تیریږي؟

بل دامریکا په مشرۍ په اسلامي هېوادو او مسلمانانو پرلپسې یرغلونه او جنګونه تپل شو د پخوانیو صلیبي جنګونو لړۍ بولي او څوک یې دوسایلو او شتمنیو قبضه کولو جنګ بولي او څوک ورته داقتصادي پروژه جنګ وایي، تریو ځایه داټولي انګیرنې پخپل ځای سمې او پرځای دي ،خوورته یومخ د رښتیا نسبت هم نشي کیدای، په دې ټولو برخو میډیا مجلسونه هم جوړوي، په اړه یې پروګرامونه او ګردي میزونه هم جوړوي، په اړه یې نړۍ د مختلفو خلکو سره مرکې هم کوي خو یوشمیر داسې مسائل شته چې دهغو په اړه میډیا دخبرو ، تبصرو او معلوماتو د خپرولو څخه ډډه کوي ، کوښښ کوي چې دهغو په اړه څوک په اسانه معلومات ترلاسه نکړي چې دلته دمثال په ډول دایوه بیلګه راوړو او ترپایه ورباندې رڼا اچوو

هغه د۱۹۲۳ زکال یو جبري تړون دی، په۱۹۲۲ز کال کې لومړی نړیوال جنګ د اتحادي هېوادو(برتانیې، فرانسې او جرمني) په بري سره پای ته ورسید ،یا په بل سپیناوي اتحادي هېوادونه دعثماني خلافت په ړنګولو اوپه ټوټوټوویشلوکې کامیاب شول ،هغوی یوکال وروسته یعنې په ۱۹۲۳ زکې بالجبر ترکیه دیو داسې ظالمانه تړون منلو او لاسلیکولو ته چې له امله یې ترننه اسلامي نړۍ او په خاصه توګه ترکان د اوسپنې نینې چیچي.

په ۱۹۲۳زکې دعثماني خلافت خلیفه محمد سادس وحید الدین نومیده،هغه برتانیې ،فرانسې او جرمني جبراً دیوې جبري معاهدې لاسلیکولو ته اړکړ، کومه چې د۱۹۲۳ز کال څخه پیل او په ۲۰۲۳زکال کې پای ته رسي،دهغې له مخې دعثماني خلیفه ټولې

شخصي شتمنۍ شمنۍ کنګل او ضبط کړې او د۱۹۲۳ز څخه تر ۲۰۲۳ز پورې یې ورته سل کلنه موده وټاکله چې په دغه موده کې به یاد تړون پخپل ځای پاتي وي او د۲۰۲۳زکال وروسته به پای ته رسي

ښکاره ده عثماني خلافت دنړۍ په درې براعظمونو وا ک لاره او د اوسنۍ نړۍ ګڼ شمیر هیوادو یې ترببرغ لاندي چې په هیوادو کې ارمنیا، بلغاریه، قبرص، یونان، شام، اردن، فسلطین، عراق، مصر، ججاز، مکه ، مدینه، رومانیه ، ایران اونورراځي، که کوم دښمن به دمسلمانانوپه ضد دکوم ګام پورته کولواراده کوله نوسل ځله به یې سوچ کاوه؛ ځکه عثماني خلافت هغه مهال یوستر نړیوال ځواک و، دمسلمانانو دښمنان تري په ډار کې وو

اوس هرڅومره ۲۰۲۳ زکال رانیږدي کیږي هومره نړیوال استعماري ځواکونه کوښښ کوي چې دغه تړون او دپای ته رسیدو کال یې دنړیوالو او په تیره له ترکانو پټ کاندي ځکه میډیا یې په باب چوپه خوله ده، که دا دکفري نړۍ دګټو لپاره مهم وای نوپه ټوله نړۍ کې به یې په اړه یو زوږ اوشور راپورته وو خو داچې دمسلمانانو په ګټه دی او دکفري هیوادو په تاوان ځکه وربانـدې چوپه خوله دي او نه یې یادوي

د یاد تړون له مخې برتانیې او متحدینو یې دا لاندې لاسته راوړنې ترلاسه کړې :

۱ـ دعثماني خلافت ړنګول، له شک پرته عثماني خلافت دټولې کفري نړۍ په سترګو کې ازغی و، په کراتو مراتو یې دهغه دلمنځه وړلو لپاره سازشونه او جنګونه وکړل خو هر وار دشکست سره مخ کیدل اخر وار په ۲۰۲۲ ز کال کې دلومړي نړیوال جنګ دګټلو وروسته یې په ۲۳ زکې د سل لپاره دعثماني خلیفه وحید الدین سره دخلافت ړنګولو جبري تړون وکړ

۲ـ دعثماني خلیفه ټولې ذاتي شتمنۍ او هستې او نیستې قبضه کول ۳ـ عثمانیان حبراً دیته ً اړ کول چې تر درې براعظمونو غځیدلې واکمنۍ څخه لاس په سر شي ۴ـ په درې ګونوبراعظمونو کې دعثماني خلافت له ټولو شتمنیو او املا کو تیر شي.

۵ـ د یوه عثماني خلافت له ګیډې یې شاو خوا څلویښت مستقل هېوادونه جوړ کړل ۶ـ ترکیه چې دعثماني خلافت پلازمینه یا دار الخلیفه وه په سیکولرترکیه یې ونوموله داسلام او ترکیې ترمنځ یې عملاً بیلتون راوست

۷ـ ترکیه چې دپیټرولو څخه مال مال هیواد دی، په یاد تړون کې د اتحادي هېوادونو لخوا وربانـدې بندیز ولګول شو چې بهر ته به خپل تیل نه صادروي

۸ـ دترکیې یو خورا لوی ساحل (باسفورس) چې دسویز کنال اوومره اهمیت او ارزښت لري او یوه مهمه سمندري لار ده اتحادي هېوادو جبراً قبضه او نړیوال ملکیت یې اعلان کړ او په ترکیه بندیز ولګاوه چې هغه به دباسفورس سمندرګي څخه له تیریدونکیو کښتیو څخه مالیه یا حق العبور نه اخلي.

په عثماني خلیفه ددې شرایطو لاسلیکولووروسته یې دتړون موده تر سل کلوپورې وغځوله چې دسل کالو پوره کیدو وروسته به په ۲۰۲۳ زکال کې یادتړون پای ته رسي

عثماني خلافت په ۱۲۹۹ز کې رامنځته او تر ۱۹۲۲ زکال یې دتاریخ ترټول اوږد حکومت وکړ، هغوی (عثمانیان) دیو لړ تیروتنو او نیمګړتیا وو لرلو سربیره بیا هم وجود یې د اسلامي نړۍ لپاره د یولوی نعمت

څخه کم نه و، دعثماني خلافت په شتون کې اسرایل د فلسطین په لورد کتلو جرئت هم نه لاره ، دبیت المقدس په ګډون دمسلمانانو ټول دیني مراکز ازاد وو دنړۍ په هیڅ برخه کې چا په اسلامي هیواد یا ښار یرغل نشوای کولی ولې سملاسي عثماني ځواکونه هلته رسیدل پخپل ټول ځواک یې دمسلمانانو څخه دفاع کوله په دې وجه نوره اسلامي نړۍ په ارام زړه خوبولې وه یواځې ترکانو خپلې وینې داسلام دسرلوړۍ او مسلمانانو ددفاع لپاره بهولې

نوپه دې وجه دنړۍ کفري هیوادو ته عثماني خلافت دزغملو نه و، ځکه په شتون کې چا مسلمانانو ته په خیرنو سترګو نشوای کتلی په دې وجه هغوی دیوډیر لوی سازش او پلان په جوړولو سره عثماني خلافت ړنګ کړ او مسلمانان یې د خپل نړیوال سیاسي برم او قیادت نه محروم کړل

دا چې ۲۰۲۳ز کال رانیږدې دی، نړۍ کې ددغه جبري تړون یا معاهدې دپای ته رسیدو نیټه هم رانیږدې کېږي لیکن کفري هیوادو دمختلفو توطیئو په جوړولو سره شاید وغواړي څو دغه تړون له پای ته رسیدو وژغوري ځکه هغوی سره ندیښنه شته چې هسې نه بیا دعثمانیانو جهادي جزبې را پورته نه شي اوبل وینې چې ترک قوم بیا دیوهوښیار قاید (طیب اردوګان) په رهبرۍ کې دخپل تیربرم بیا مندلو په لور درومي طیب اردوګان چې په کوم جرئت او بیباکۍ سره په نړیوالو قضایاوو کې برخه اخلي یا دمسلمانانو دحقوقو ترجماني کوي اغیار ترې ډار یږي، دغه وجه ده چې دوه کاله وړاندې یې کوښښ وکړ چې په ترکیه کې دپوځي بغاوت په رامنځته کولو سره داردوګان دبریاوو لار بنده کړي لیکن ترک ولس دپوځي کودتاه په وړاندې خپلې سینې سپر کړې او هغه یې ناکامه کړه.

طیب اردوګان ۲۰۲۳ کال قرب ته په پاوایي: چې د ۲۰۲۳زکال وروسته به ترکیه هغه ناروغه ترکیه نه وي!! بلکې ترکیه به یونړیوال ځواک وي او پخپل ټول باور او وس به نړۍ کې دمسلمانانو ددفاع لپاره کار کوي.

بل پلو میډیا چې تل دمسلمانانو سره عناد او کرکه لري هغه مسلمانانو دراتلونکي څخه ډاروي او د درواغجن تبلیغ په مټ یې مرعوبوي لیکن مسلمانان باید مرعوب او ونه ډارشي دخپلو نړیوالو حقوقو ترلاسه کولو لپاره پورته شي په دې لړ کې داسلامي هېوادو دواکمنو ترمنځ دطیب اردوګان کردار دستاینې وړدی چې دنړۍ ابر قدرت هېوادونه ننګوي او ترکیه دخپل پخواني برم په لور بیول غواړي، په دې وجه داسلامي نړۍ هر باشعوره مسلمانان د هغه هڅې ستایې او ملاتړ یې کوي باید دنورو اسلامي واکمن دهغه تقلید وکړي او دخپلو خلکو ددفاع لپاره دامریکا، اسرایل او نورو زبرځواکو په وړاندې په میړانه او زړورتیا سره خپل غږ پورته کړي.

د اسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه

■ ابو الخیر عارف محمود
■ دریمه برخه

دابن جریر طبري مذهب:

درنو لوستونکو! دطبري تاریخ مصنف (ابن جریر طبري) په باره کې مشهوره ده چې نوموړی سني او شافعي المسلک و، دا خبره په طبقات شافعیه او درجال په نورو کتابونو کې راغلې، لیکن په یاد ولرئ چې په همدي نامه او ولد یو بل شخص هم تیر دی ، څوک چې رافضي- و، په دې وجه درجَالُ علماوو له دې سپیناوي سره یوځای لیکلي : ابوجعفر محمد بن جریر بن رستم طبري رافضي و، دهغه هم ګڼ تصانیف شته چې دهغو نه یو (کتاب الرواة عن اهل البیت) دی دحافظ سلیماني ددې کلام چې: کان یضع للروافض مصداق هم دی دی

علامه ابن قیم لیکلي په ابن جریر طبري (سني) (د مسح الرجلین دقول) شبه وه، په دې وجه چې ابن جریر په پښو باندې دمسح کولو قایل دی، حقیقت دادی چې هغه دده نه علاوه یوبل جلا شخص و چې شیعه و او هم د دواړو خپل نومونه او دپلرو نومونه یو و ما دشیعه مذهب داصول وفروع په باره کې دابن جریر شیعي کتابونه لیدلي

حافظ ابن حجر وایي: دابن جریر په باره چې په پښو باندې دمسح کولو کوم حکایت کېږي تري مراد محمد بن جریربن رستم رافضي دی ځکه دا دهغه مذهب دی (نه داهل سنت)

چون د دواړو په نوم، ولد او کنیت یو شان دي په دې وجه ډیرلوی شمیر خواص هم تیروتی دي دپیژندلو طریقه داده چې د دواړو دنیکونو نومونه جلا، جلا دي دسني ابن جریر دنیکه نوم دی یزید او درافضي ابن جریر دنیکه نوم دی رستم

پخپله د شیعه مصنفینو او اصحاب رجال څخه بحر العلوم طباطبائی ، ابن الندیم علی بن داود حلّی ، ابوجعفرطوسي، ابوالعباس نجاشي او سید خویي اونور و دابن جریر بن رستم طبري په شیعتوب باندې تصریح کړي نو لنډه داچې د دواړو په نوم، ولد او کنیت کې تشابه شته ده ، ددې تشابه څخه په ګټه پورته کولو شیعه علماوودابن جریر شیعي ګڼ کتابونه ابن جریر سني ته منسوب کړي چې په اړه یې ډاکټر ناصر بن عبد الله بن علی قفازي په اصول مذهب الشیعة الامامیة الاثنی عشریة نقد لیکلي: روافضو دغه تشابه په غنیمت ګڼلو سره دابن جریرطبري سني لورته ځیني داسې کتابونه منسوب کړي چې ورڅخه د دوی دمذهب تائید کېږي څنګه چې ابن الندیم الفهرست په ۳۳۵مخ دکتاب المسترشد فی الامامة نسبت ابن جریر طبري سني ته کړی، حال داچې هغه دابن جریر شیعي تصنیف دی ، ګورئ طبقات أعلام الشیعة فی المائة الرابعة ص: ۲۵۲، ابن شهر آشوب، معالم العلماء ، ص: ۱۰۶ نن هم روافض دځینو داسې خبرو نسبت امام طبري ته کوي دکومو نه چې د دوی دمذهب تائید راځي حال داچې هغه ددینه بري دی وګورئ الأمیني النجفی ، الغدیر: ۱-۲۱۶-۲۱۴. روافضو ددې طرزالعمل په وجه ابن جریر سني په

ژوند کې دسختو مصايبو سره مخ کړی و تردي پورې چې ځينو عوامو هغه په رفض باندې متهم کړ څنګه چې ديته ابن کثير اشاره کړې وګورئ: البداية والنهاية: ١١- ١٤٦مخ

دبحث موضوع:

اوس زموږ دبحث موضوع علامه ابن جريربن يزيد طبري شافعي او دهغه تاريخ دی ځکه چې نوموړی د لوړې درجې عالم ګڼل کيږي په خاص ډول د درې ګونو قرنونو په اړه هغه نوم او کتاب کوم تعارف ته حاجت نلري پخوانيو او وروستنيو ټولو مؤرخينو تري استفاده کړې

دطبري تاريخ اجمالي جايزه:

ددې ټولو ځانګړتياوو باوجود په تاريخ طبري کې ځای په ځای دصحابه کرامو رضي الله عنهم په اړه داسې بې اساسه او درواغ روايتونه مروي دي چې دهغو هيڅ يوه معقوله او مناسب ه توجيه نشي کيدای، سره ددې چې دصحابه وو رضي الله عنهم په عدالت باندې دقرآن وسنت کې شته قطعي نصوصو او دامت اجماع ته په پام منصف مزاج لرونکي علماء په امام طبري او په خاصه توګه دهغه په تاريخ کې روايت شويو دغسې روايتونو په اړه کلام کولو ته اړشول، چون طبري تاريخ دلويو دروغژنو، متهم بالکذب راويانو له روايتونو څخه ډک دی دمثال په توګه: دطبري تاريخ د روايتونو دجايزې اخستلو لپاره ډاکټر خالد علا ل کبير صاحب په تاريخ طبري کې دشته ثقه او غير ثقه راويانو يوه اجمالي خاکه وړاندې کړې، چې په ترڅ کې يې هغه ليکي: چې په تاريخ طبري کې دهغه دولس (١٢) مرکزي راويانو دروايتونو جايزه اخلو چې په هغوی کې اووه(٧) راويان کذاب يا متهم بالکذب دي او پنځه راويان ثقه دي

د دروغ ويونکو او متهم بالکذب روايتونو اجمالي خاکه:

محمدبن سائب کلبي (١٢) روايتونه، هشام بن محمدکلبي (٥٥) روايتونه ، محمد بن عمار څلورسوه څلويښت (٤٤٠) روايتونه سيف بن عمر تميمي اووه سوه (٧٠٠) روايتونه، ابو مخف لوط بن يحيی شپږ سوه دولس روايتونه، هيثم بن عدي شپاړس(١٦) روايتونه، محمد بن اسحاق بن يساريوسل څلورشپيته(١٦٤) روايتونه دي ددې ټولو مجموعه کوم چې مؤرخ طبري پخپل تاريخ کې نقل کړي نولس سوه نهه نوي (١٩٩٩) ده

دثقه راويانو دروايتونو اجمالي خاکه:

د زبيربن بکار اته (روايتونه ، محمدبن سعد يو سل څلوشپيته (١٦٤) روايتونه، موسی بن عقبه اووه (٧) روايتونه، خليفه بن خياط يو(١) روايت، وهب بن منبه شپږ څلويښت (٤٦) روايتونه دي، دتاريخ طبري ددې پنځو ثقه راويانو دروايتونو جمله دوه سوه شپږويشت (٢٢٦) روايتونه کيږي

نو ګواکې په طبري تاريخ کې دوه سوه شپږ ويشت (٢٢٦) ثقه روايتونو په مقابل کې د هغو اووه دروغژنو او متهم بالکذب راويانو (١٩٩٩) روايتونه شته چې د دواړو له تناسب څخه اندازه لګيږي چې دتاريخ طبري پشان قديم او مستند منونکی تاريخ چې کله داحال دی نو دتاريخ دنورو کتابونو به حال وي

دعلامه طبري اعتراف:

دپورتنيو خبرو تائيد پخپله علامه طبري دخپل تاريخ په مقدمه کې له هغه اعتراف څخه هم کيږي کوم کې چې هغه په ښکاره توګه ويلي: چې هغه پخپل کتاب کې دپرته نقدو تمحيص نه دمختلفو فرقو او ډلو دراويانو روايتونه دهغوی داسانيدو سره يوځای راوړي چې دلته دلوستونکو دباور لپاره دعلامه طبري هغه عربي عبارت وړاندې کوو په کوم کې چې محض دسند سره پرته دنقدو تمحيص نه دروايتونو دراوړلو اعتراف کړی دی:

فما يكن فى كتابى هذا من خبر ذكرناه عن بعض الماضين مما يستكره قارئه أويستشنعه سامعه من أجل أنه لم يعرف له وجها فى الصحة ولا معنى فى الحقيقة فليعلم أنه يؤت فى

ذلک من قبلنا ، وانما من قبل بعض ناقیله الینا وانا انما أدینا ذلک علی ما أدی اِلینا

درنولوستونکو! ایا یواځې دسند سره وچ و لامده ، غث و سمین ، ثقه وغیر معتبر هرډول روایتونه نقلول محض دکوم مصنف لپاره کوم معقول عذر ګرځیدای شي؟ او په هغو باندې ذاتي رایه وړاندې کولو په ځای موږ دمحققینو علماوو رایې رانقلوو او فیصله انصاف ته دژمنو لوستونکو لپاره پریږدو

دعلامه ذهبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ او حافظ ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ اعتراف

په دې کې هیڅ شک نشته چې ابن جریر طبري دجرو ح تعدیل دایمه وو په نظر کې ثقه دی، لیکن دهغه په باره کې دتشیع لورته دمیلان لرلو قول هم مروي دی هم دیته په پام علامه ذهبي او حافظ ابن حجر دنوموړي دتوثیق ترڅنګ دشعیت په لور میلان لرلو اعتراف کړی او لیکلي یې دي: ثقة صادق فیه تشیع یسیر وموالاة لا تضر. شاید دهغوی دواړو حضراتو دکلام مقصد دا وي چې دعلامه طبري پخپل تاریخ کې داسې روایتونه پرته دنقد و کلام نقل کړي چې دهغو نه دتشیع په لور میلان ښکاري له دې وجې ددې تصریح وروسته دطبري هغه ټول روایتونه چې دهغو نه دشیعه ګانو دمخصوصو افکارو تائید ښکاري هغه غیر معتبر ګرځولي.

دعصر دمحقق مولانا محمد نافع رَحِمَهُ ٱللَّهُ تبصره:

په تاریخ طبري کې منقول دمعتضد عباسي رساله چې مؤرخ طبري د۲۸۴ ه لاندې پرته دکوم نقد او تحقیق وتمحیص او کلام نقل کړي په کومه ګې چې هغه دحضرت ابوسفیان رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ او دحضرت امیر معاویه رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ دواړو په باره کې دلعن وطعن کولو دجواز لپاره کوم مواد وړاندې کړي او پکې یې دلعن و طعن موجبات یې درج کړي دي په دې رساله باندې تنقید کړی دی دالطبري دحکمت عملي لاندې محقق عصر او عبقري شخصیت حضرت مولانا محمد نافع فاضل دارلعلوم دیوبند په فوائید نافعه کې چې کوم څه فرمایلي هغه من و عن وړاندې کوو:

دغور کولو وړ داده چې دصاحب التاریخ محمد ابن جریر الطبري لپاره دعباسیانو لخوا ورکړای شوي مواد او غلیظ مواد یې من وعن نقل کړي او پخپل تصنیف کې یې دځایولو لامل څه و؟ او هغه دکوم مجبوریت له مخې دادخیر کار سرته ر سولی ؟ ګواکې الطبري دغه مواد پخپل تاریخ کې په را وړو سره راتلونکې نسلونه خبر کړل او دلعن وطعن کوم دلایل چې عباسیانو مرتب کړي دهغو نه دراتلونکو نسلونو دخبرولو ثواب یې حاصل کړ؟ نوشیعه او روافضو دیادې رسالې موادو ته په پام پخپلو کتابونو کې حضرت ابوسفیان او حضرت امیر معاویه رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ باندې مطاعن لیکلي او شدید اعتراضونه یې کړي په حقیقت کې طبري په مسلمانانو کې دانتشار خورولو لپاره او د درز اچولو لپاره ډیر عجیب تدبیر او حکمت عملي غوره کړی دکوم څخه چې دصحابه وو مخالفینو ته یوډول رهنمایي په برخه شوې او هغوی دخپل عداوت سرته رسولو لپاره یو دول تیار شوي مواد په لاس ورغلل ، ځیني خلک په دغو دلایلو دنظر کولو وروسته متذبذب شول ، یوشمیر کتونکي له صحابه وو رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ متنفر شول او دځینو لوستونکو رړونه مات شول داموي صحابه وو رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ څخه منحرف شول ، پکاروه الطبري دغه مواد دومره په تفصیل سره نه وای راوړي بلکې یواځې دیو واقعې دتاریخ په توګه یې اجمالاً یاده کړې وای څنګه چې نورو مؤرخینو دغه واقعه اجمالاً راوړې او دلایلو دتفصیل لورته ندي لاړ او که دکومې اړتیا په وجه یې ذکر کړې وي نوبیا ددغو موادو بطلان ته اشاره او کلام پکار و څو لوستونکي په غلط مفهوم اخیستو کې مبتلی نشي خو الطبري دا سې ندي کړي دلته معلومیږي چې دتاریخ الطبري صاحب دصحابه کرامو په باره کې پخپله دسوء ظن ناروغ و (لکل امرئ مانوی جزاه الله تعالی علی حسب مرامه) نوربیا...

د الخندق عملیاتو نشراتي انعکاس

احمد

د طالبـانو سـړني الخنـدق عمليـات لکـه چې پـه پوځي لحاظ فوق العاده بريالي عمليات ګڼل کيږي په هماغـه انـدازه يې پـه نشـراتي لحاظ هم پـراخ انعکـاس لرلی دی.

پـه لومړۍ ورځ يې د نشـرولو اعلان د ورځې د مهم خبـر پـه حيث تقريبـا د اکثريت نړيوالـو او ټولـو محلي رسيو د سـر ټکی و او تـر تنفيذ وروسته يې هم ورځني پـرمختګونـه پـه پراخـه پيمانـه د خبـري رسنيو لخـوا منعکس کيږي.

د الخندق عملياتو په دغه نشراتي انعکاس کې تر ټولـو مهـم رول خپلـه د طالبـانو د پـوځي او نشــراتي چاروا کو د نه ستړي کيدونکو هڅو دی چې په ډير دقت سره دا عمليات څاري او هـره لويـه او وړه پيښـه يې پـه ټول تفصيل له کورنيو او نړيوالو رسنيو سره شريکوي.

امـارتي ويندويان د هيـواد لـه هـري برخې څخه د الخنـدق عمليــاتو ټــول جزئيــات د خپلــو موظفــو کـارکوونکو پـه وسـيله لـه ترلاسـه کولـو سمدستي وروسته د کورنيو او بهرنيو رسنيو لـه خبريالانو سـره کـوم چې وار تـر لـه مخـه يې د هغـوی ادرسونه ترلاسـه کړي شريکوي او هـم يې خپلو اړونده رسنيو الامـاره ويب پاڼې او نورو ملو ويب سايټونه ته ليږي.

د هغـه ترڅنـګ دواړه امرتـي وينـدويان هـريـو محتـرم ذبيح الله (مجاهـد) صـاحب او قاريصـاحب يوسـف احمـدي يـې پـه خوالـه رسـينوکې د خپلـو مربوطو اکاوتټونو په وسيله نشروي.

د دې ترڅنـګ ځيني مهم او امتيـازي عمليات د سيارو نشراتي ټيمونو په وسيله په عملياتي ساحه کې د پر مختلليو ويډيويي کامرو پـه وسيله عکاسي کوي او په هماغه لحظه يې هم لـه نورو رسنيو سره شريکوي او هم يې د امارت د مرکزي ويب پاڼې له لاري نشروي.

پـه دښـمن بانـدې د الخندق عملياتو د نشراتي انعکاس اغيز:

لـه شکه پرتـه چې پـه معاصـرو پـوځي او سياسي مقـابلو کـې مطبوعـات هغـه مـوثره وسـيله ده چې پـه رواني او تبليغاتي لحاظ د جانب مقابل پـه ځپلو او لـه منځه وړلو کې خاص رول لري.

د يرغلګـرو پـه وړانـدې د مجاهـدينو مطبوعـاتي جګړې د امريکا او ناټو پـه څير مجهز دښمن تـر اغيز لاندې راوستی او پوځي قومندانان يې په دې اعتراف کوي چې طالبان په نه امکاناتو د امريکا ، ناټو او کابل رژيم په نسبت د خپلو عملياتو او فعاليتونو په نشراتي پوښښ کې ډير بريالي دي.

طالبان د خپلو عملياتو د نشراتي پوښښ لپاره لـه ټولو نشراتي وسائلو څخه کار اخلي ، همدغه وسائل د امريکايـانو ، نـاټو او کابـل رژيـم د امنيتـي او دفـاعي ځوکونو لخوا هم کارول کيږي چې خامخا يې د طالبـانو د پـوځي پرمختګونـو او د دولتـي ځواکونـو د مـاتي او شکست خبرونه تر ستر ګولاندې تيريږي.

لـه نظامي لحاظه مورال د يوه پوځي لپاره تـر ټولـو لويه معنوي وسله ده.

خو کله چې د رژیم مربوط یو عسکر په خپل محاصره پوځي مرکز کې د نشراتي وسائلو له لارې په خپل ګاونډ کې د نورو دولتي ځوکونو د وژل کیدو او یا هم خپل مرکز له لاسه ورکولو خبر ویني روحاً یې مورال را لوېږي او د مقابلې هغه معنوي وسله چې دی ورباندې جګړه کوي خود بخوده له لاسه ورکوي.

اوس چې ځیرک ټلیفون د یوې ممکنه نشراتي وسیلې په توګه له هرچا سره شتون لري د رژیم په هرځای کې محاصره عسکر هم له خپلې کورني او خپلوانو او حتی دولتي منسوبینو سره د همدې وسیلې په زریعه اړیکې ټینګوي او همدا راز د همدې ټلیفون په زریعه د خپل ماحول او هیواد له سیاسی او پوځي جریاناتو ځان خبروي.

د طالبانو فرهنګي چارواکو فیس بوک، ټویټر، یوټیوب، ټلیګرام او حتی په ځینو سیمو کې ایف ایم راډیو ګانې په داسې ډول عیار کړي چې د رژیم د منسوبینو په شمول هرڅوک په اساني سره د دوي له مربوطو نشراتو استفاده وکړي.

دغه نشراتي فعالیت علاوه په دې چې دښمن یې په رواني لحاظ سخت اغیزمن کړی، مجاهدینو ته یې د هغوي د تسلیمي لارې چارې یې ډیرې اسانه کړې دي.

د هیواد په جنوب لویدیځه حوزه کې د مجاهدینو وروستي فتوحات تر ډیره د هغوی د نشراتي منظم فعالیت محصول و.

لهذا د امارت نشراتي چارواکو ته په کار دی چې نور هم د رسنیز فعالیت د لاموثریت لپاره په دې برخه کې کوټلي ګامونه واخلي او په هرځای کې د مهاجمینو مجاهدینو ترڅنګ د هغوي د هجومي فعالیتونو د منظم پوښښ لپاره یو مجهز تصویري ټیم هم اماده ولري چې د مجاهدینو ټول هجومي فعالیتونه په ژوندی بڼه د جهادي نشراتو له مینه والو سره شریک او د دښمن نور هم په تبلیغاتي لحاظ تر خپل اغیز لاندې راولي.

ولسي غمیزي

او په اړه یې دوه ګوني چلند

قاري حبیب

دا اوس په اجتماعي رسنیو کې په یوه دود اوښتې ده، کله چې مجاهدین په کوم ځای کې برید وکړي او دولتي عسکرو ته تلفات واړوي، نو دولتي رسنۍ، د حکومت فیسبوکي پلویان او د ملي امنیت انټرنیټي مستخدمین ټوله هڅه کوي تر څو د خپلو عسکرو تلفات د ولسي خلکو د مرګ ژوبلې تر عنوان لاندې پټ کړي. نو ځکه سم دستي اوازه ګډه کړي چې هلئ په پلاني ځای کې طالبانو ټول عام خلک وژلي، ولسي- خلک یې قصدا په نښه کړي دي. او بیا د خپلو همداسې ادعاوو د تثبیت لپاره فوټوشاپ شوي عکسونه هم نشر کړي، چې د خلکو وینې په سرکونو بهیږي. مګر د دا ډول عکسونو په اړه بیا بیا ثابته شوې ده چې هغه د عراق، شام او د نړۍ د نورو سیمو له جګړو سره تړاو لري، خو حکومت پلوي فعالین او رسنۍ ترې د مجاهدینو د بدنامۍ لپاره په پراخه کچه استفاده کوي.

خو عجیبه دا ده همدا رسنۍ او د افغان انسان په ژوند دردیدونکي خبریالان په هغه ورځ بیا ګونګ وي او هیڅ هم نه وایي کله چې امریکایي ځواکونه بمبار کړي وي، سلامت کلي یې په بل مخ اړولي وو، روغتونونه یا مدارس یې په نښه کړي وي او یا هم دولتي عسکرو په ړندو هاوانو د بې چاره کلیوالو ژوند اخیستی وي یا دې ورته د امریکایي یا داخلي عسکرو لخوا کومه بله غمیزه رامنځته شوې وي.

د بشر د حقوقو د دې دروغجنو مدعیانو او له اشغالګرو سره دپیلیو رسنیو د دغه دوګانه چلند یو ښه ثبوت په ننګرهار ولایت کې د وروستیو ورځو پېښې دي. په ننګرهار کې تر دې پخوا چې هرکله داسې پېښه شوې چې د اتهام ګوته یې مجاهدینو ته نیول شوې نو رسنیو په خورا قوت را اخیستې او د مدني فعالانو په نوم ډلو او اشخاصو هم په اجتماعي رسنیو کې خورا ډېره هوا ورکړې ده.

مګر د رمضان المبارک په دې لومړیو هفتو کې په ننګرهار کې هره شپه د سپیشل فورس په نوم داخلي او خارجي چاپه مارانو اولسي خلک شهیدان کړي وي. د دې عامه وژنو له مهمو پېښو یوه د چپرهار پېښه وه چې ګڼ شمیر ولسي- خلک په کې ووژل شول، دغه ولسي- خلک که څه هم د مشرانو جرګې د مشر فضل هادي مسلمیار نږدې خپلوان وو خو دا چې د امریکایي او داخلي سپیشل فورس عسکرو لخوا وژل شوي وو، رسنیو هم دغه غمیزه جدي ونه بلله او په اصطلاح تله یې پرې تېره کړه.

د جوزا د میاشتې په یوولسمه نیټه د ننګرهار په هسکه مینه ولسوالۍ کې امریکایي الوتکو دروند بمبار وکړ چې ګڼ شمېر ولسي خلک یې شهیدان او یا هم ټپیان کړل. د تولنیزو رسنیو له لارې د سیمې خلکو وویل چې تر 30 پورې ولسي-وګړي د هسکې مینې په شابیو او لوی پاپین سیمه کې شهیدان شوي چې ډېر یې د شابیو د بمبار دي، زخمیان هم لري او شهیدان اوس هم په سیمو کې تر خاورو لاندې پاتې دي. پژواک خبري آژانس وویل بهرنیو ځواکونو هغه مهال ملکي وګړي په نښه کړل کله چې هغوی غوښتل په کلیو له بمبار وروسته خپلې سیمې پرېږدي خو دوهم ځل د الوتکو د بمبارۍ هدف وګرځېدل او غمیزه رامنځته شوه.

خود اشغالګرو لخوا د عاموژنو په دې تورتم کې د نوې کولو خبره دا ده چې د دې مستمر قتل عام په اړه نه خو رسنۍ ډېر څه وايي او نه هم د فیسبوک رحمدلان د ماتم تورې جامې اغوندي. تر اوسه مې د هیڅ فیسبوکي په وال ونه لیدل چې لیکلي یې وي (ننګرهاره په غم در شریک یو) حتی هغه چې ځانونه د عاطفې ګوډي بولي، انسان د هستۍ محور او تر هر څه بر بولي، هغوی هم د کلیوالو ننګرهاریانو په قتل و قتال ګونګې روژې نیولې دي.

دا چې دغه د غربي فکر پیروان ولې د انسانیت د قتل عام په اړه دوه ګونې چلند لري او حتی که په فرانسه کې څوک په نایټ کلب د برید په مهال ووژل شي دوی یې ماتم لمانځي خو د خپلو بیچاره او غریبو هیوادوالو به مرګ ژوبلو هیڅ باک نه کوي. زما په د دوی د دې چلند ریښه په غربي طرز تفکر کې ده. د غربي طرز تفکر له مخې هغوی انساني حقوق یوازې د هغو خلکو لپاره غواړي چې د دوی د غربي انسانیت په معیار برابر وي.

فردریک نیچه یو الماني فیلسوف دی چې د غربي طرز تفکر له مؤسسینو او سترو مشرانو څخه بلل کېږي. فردریک نیچه د نړۍ د انسانانو لپاره دوه ډوله عدالت په رسمیت پېژني، یو د پرمختللې نړۍ د انسانان یا د ده په اصطلاح د سوپر مینانو لپاره عدالت دی چې د کمزورو یا د دوی په خبرو بې تهذیبه خلکو استثمار او هر ډول ابزارول ورته جائز بولي. او بل هم د بې وسه او یا په اصطلاح وروسته پاته خلکو لپاره عدالت دی چې باید د سوپر مینانو د جبر تر چړې لاندې تریکې ونه وهي او هر ډول اوامر یې پر ځای کړي.

هغوی په دې فکر دي چې انساني حقوق یوازې د هغه چا لپاره دي چې غربي فکر یې منلی او په نوي تهذیب رنګېدلی وي، له داسې خلکو نه علاوه نور د دریمې نړۍ وروسته پاته خلک دوی د هرزه بوټو او مضرو حشراتو له قبیلې بولي چې هره نوع استثمار، قتل او له منځه وړل یې د دوی په نزد روا کار دی.

اروپایانو خو د همدې تفکر په اساس په استعماري دوره کې د امریکا، استرالیا او نورو سیمو ځایي بومي اوسیدونکي په ډلییز ډوله له منځه یووړل او بیا یې د هماغو قتل عام شویو ځایي اوسیدونکو په ککرو د نوي تمدن ستنې ودرولې او اوس د بشري حقوقو د ټیکه دارۍ دعوه لري.

همدا اوس د همدې غربي غربي طرز تفکر په اساس د یوه اسرائیلي وینه تر سلو فلسطینیانو قیمتي ده. که په اسلامي نړۍ کې په سلګونو خلک ووژل شي نړیوالې غربي رسنۍ یې خبر نه را اخلي مګر که په کوم غربي هیواد کې څوک په چاقو هم ووهل شي نو بیا څو ورځې وربانډې راپورونه چلیږي او د موضوع د څیړلو لپاره بحثونه په لار اچول کیږي.

د دې دوه ګونې چلند علت همدا دی چې غربیان او د هغوی محلي پیروان له لویه سره انساني ټولنې ته په دوه ګونې نظر ګوري. هغوی دخپل فکر د خلکو لپاره انساني حقوق، سوله، پرمختګ او هر څه غواړي، مګر د مخالف فکر د خلکو لپاره یوازې جګړه، قتل عام، بمبار، نارامي، ناروغۍ او بدمرغۍ غواړي. نو بناء ویلی شو چې دغه دانساني حقوقو د شعار بدرګه کوونکي په اصل کې د انسانیت تر ټولو ستر دښمنان او ظالمان دي چې باید ټولنه او هیواد یې له شره خلاص کړای شي.

اي د حقې لارې لاروېه! واوره!

■ ليکوال: باهر حقپال

دا امکان نه لري چې حق دې ډګر ته را وتلی او څرګند شوی وي، خو باطل دې يې په مقابله کې نه وي دريدلای. دا امکان نه لري چې د ريښتيا او نيکۍ غږ دې بدرګه شوی وي، خو څواب کې دې يې دروغ او بدۍ نه وي را پورته شوي. دا هم امکان نه لري چې د انسانيت د ژغورني تحريک دې په غوځښت راغلی وي، خو د دوی د ښکنځلو او تورنولو لپاره دې کومه پخ فکره او وحشتپاله ډله نه وي ګمارل شوي. زما وروره!

دا متضاد شيان هرو- مرو شتون لري، خو ترسره کونکي يې توپير لري. ته چې څان حق ته تسليم بولې دا متضاد او ټکر فکرونه به برداښتوې. دوی ته به نه ماتيږې او نه به د دوی د ماتولو په فکر کې خپل هدف له لاسه ورکوې. څان هدف ته رسوه، همدا د دوی اتومات ماتيدل.

زما وروره! چانس مه ور کوه چې مسير دې ستا د هدف په له منځه وړلو سره ټکنی کړي. تا دې و ننګوي، خو هدف دې له ننګونو وژغوره. ته دې له منځه ولاړ شي خو له هدفه دې لاسونه تاوکړي لره.

زما داعي وروره...!

د حق او باطل معرکه چې کله هم را منځ ته کيږي، بنستيز روش يې يو وي. هلته که زمانه بدله وي، که جغرافيايي چاپيريال نوی منځ ته راغلی وي او که د لوبيدونکيو اشخاصو نومونه بدل وي؛ خو ټاکلی رول يې نه بدليږي.

د ورته پيښو په اړه ګڼې ډلې مخي ته راځي چې بيلا- بيل ډول رو لوبوي

۱ _يوه ستاسي په څېر داسي سپيڅلې ډله وي چې کره حقې لارې ته لارښوونې کوي.

۲ _دويمه بيا داسي وي چې د حقې لارې د لارښود لارښوونو ته انعکاس ورکوي او د خلکو تر غوږو يې رسوي.

۳ _دريمه يې بيا له اخلاص سره د اختلاف رول لوبوي. دوی خبره اوري، خو ځيني يې بيخي فکر نه کوي، ځيني فکر هم کوي خو د پوهي او شعور له کمښت سره مخ وي چې له امله يې له داسي ذهني ګنګسيت سره مخ وي چې حقيقت يې پکې له لاسه ورکړي وي.

۴_څلورمه ډله تر اخرې حده سرکښه او داسي حق دښمنه وي چې خپلو ګټو، خپل منصب او د خپل عادت له مخي له پيله بيا تر پايه تعصب په مخه کړي وي او ورځ تر بلې يې له دريځه د حقې لارې مخالفت بهيږي.

۵ _پنځمه د ناتوانو عوامو ډله ده چې د معاشرې د لوړې طبقو د خلکو له لاسه داسي لاندي وي چې هېڅ زړوره پريکړه

او فعال اقدام نشي۔ ترسره کواى، بلکې فکر يې د دوی د فکرونو غلام وي، د دوی ښه ورته ښه او بد يې ورته بد ايسي.

داعي! ته نورو ته له پوره بيدارۍ سره- سره اخرې ډلې ته بيخي ځيرک اوسه. په سوشل ميډيا کې وينو چې فکرونه يې آن په معمولي ليکنه هم تر دومره اغيز لاندې راتلاى شي چې خپلسرې پريکړه بيا نشي کواى. و مو ليدل چې ځيني ساده ګان په يوې خوږې خو له زهرو ډکې لکينې تېروتي دي او خپل دريځ يې ورته مات کړی. دوی باطل ته داسې چکچکې وهي ته وا د همدې لپاره زيږول شوي!!

همدا ستا د دښمن هدف دی چې فکرونه د ځان په ګټه وڅرخوي.

هو! دوی ستا په وژلو هومره نه يخيږي، څومره دې چې د مخالف فکره په روزلو يخيږي. دومره دې په له منځه وړلو نه خوښيږي، څومره دې چې د فکر په تېتولو خوښيږي.

زما ملا وروره...!

ته زموږ د ټولنې ريښتونی مربي يې. تا موږ په حق او ريښتونولی پيژنو. واوره! که د دعوت په لاره کې دې لوړې ژورې مخې ته نشوې. که دې د لارښونو د لړۍ په ډګر کې خنډونه او ګګليچونه نه و کَ◌َرل شوي. که د هدف په ترلاسه کولو کې اغزن او له غنو ډک ماحول ته نه وي ننوتی. که د مسلک په لار کې پر لارشکونکيو او تيريګرو نه وي اوښتی. که د حق په راخپلولو کې د سپکاوي، تورنو، تکفير، دروغګويۍ، تشدد او... د تورونو طوفان دې مخې ته نه و شريدلی. که دې د حقګويۍ په لاره کې د وژنې پلان نه و ترتيب شوی؛ نو پوی شه چې لاره دې غلطه کړې، خپل هدف کې تېروتی يې. پوی شه چې »که اين راه که تو ميروی، به ترکستان است«. ستا اصلي لارښود محمد صلی الله عليه وسلم د نړۍ ستر داعي و. هغه ورته پيښې ګاللې دي. ته ورته بيدار اوسه. زړه مه ماتوه، بلکې د سترلارښود په مسير ګڼلو سره ځان ته ډاډ ښنه او دا سترې مزلونه په خواري کښو شيبو کې په مهارت را نغاړه.

ملا! مخالف دې مکار دی، خپلې بې کړنې پر تا در تپي. ستا وژنو ته بې دريغه کمپاينونه کوي. ستا نسل کشۍ پسې يې راخيستي. ملا! ايه آن په قتلونه يې وننګولي؟. ستا دريځ يې ندی در اشغال کړی؟. مسلک يې ډاکټري او يا ساينس وي خو په لاس کې يې د افتاء او قضاء مهر نيولی.

تا او ستا منبر ته يې کله درناوی کړی؟ کله يې په انسانيت تللی؟

که ريښتيا و وايم: دې خلکو ته ترور کړي. و يې شکنجلې. زنداني يې کړي. پښتنې حيا يې در لوټ کړه. خپله پريمانه کرکه يې درته وکړله. ستا په خلاف له وحشۍ امريکا سره يې لاسونه يو کړ. او...

خو ژوند هم له تا غواړي. ته يې له پر کيدو سره- سره تر مړ کيدو و رسولې. لا هم دې نه پريږدي. په ډاګه يې که و وايم: دوی امريکنۍ پاليسۍ ته له ايمانۍ عقيدې او افغانۍ مينې، زيات درناوی لري؛ ځکه خو يې دشمنۍ پر افغانيت را څرښي.

ستا له دريځه قربان شم. خپل دريځ دې وساته. د باطل پر وړاندې غلی کيږه مه، کنه باطل به د حق په نوم تېر کړي. ځيرک اوسه، ځيرک اوسه او ځيرک اوسه!

زما طالبه وروره! مه پريږده چې د اصطلاحاتو په بدلون سره دې معنويات تر پښو لاندې کړي. بيدار شه! چې له وسيلې درته هدف ساز نکړي، کنه د هدف پرځاى به دې وسيلې کې نښتې ساتي او هدف به دې له لاسه ورکړی وي.

زما د مسير ملګريه! د دوی د پوچو تبليغاتو او تورونه ځواب د توريو په ترتيبولو نه، بلکي د حق په عملي کولو و وايه. ځان پر تقوی وپوښه، بس دوی مات دي. شرعي احکام د ژوند زينت وګرځوه، بس دوی پړ دي. اعلاء کلمة الله تبليغ کړه، بس د دوی فکرونه تېتيږي. مخالف فکره دې، په سالمه مباحثه قانع کړه، بس د دوی زړونه چوي.

زما عامي وروره! د دوی ژړاوې غرضي، اوښکې لباسي او پوستونه کمپايني دي. ګوره چې خپله سادګي او صداقت مو د دوی پر چالاکۍ و نه غولوي. مکار او بيخي مکار دي.

که دطالب دتوري شرنګ نه وي

پوهیږئ چې امریکایان به (درباري ملایانو) سره څه وکړي؟

خبیر احمدم

دجوزا په ۱۷ نیټه دکابل رژیم ډنډوره چیانو دجعلي اونمایشي- سولي دځلولو په خاطر سنیوته هغه یولړصحني اوانځورونه وروښودل چې ګواکې دهیواد دوه نیم زرو تنو ملایانونن دلویی جرګي په تالارکې په متفقه ډول فتواصادره کړه چې دکابل رژیم اوحامیانو (امریکایانو) په خلاف جګړه ناروا، فدایی بریدونه حرام اوطالبان دي هغې سولي اوجوړې ته چې تجویزیې دکابل رژیم مشر (اشرف غني) کړی اماده شي.

دغونډې برخوال چې اکثریت یې دکابل ښار دجوماتونو دولتي ملا امامان اودحج اوقافو مامورین اودیوشمیر پوهنتونو استادان وو له دغه ګټه ګوری پرته چاکوم داسې زبده اوجیددیني عالم په یاده ناسته کې ونه کوت چې ولس یې په تقوا، دیانت اوبې طرفی ګواهي ورکړي، بلکې راټول کړل شوي ملایان له تیرو۱۷ کلونوراهیسې- دناټو، ایساف اوامریکایي دسترخوان کې تغذیه اوسیرابه کیږي پټ اوښکاره لوړمعاشونه اخلي اوهریویې څوځایه دندي اووظیفي لري

نوله دغسې بې بندوباره درباري اوکرایي شده ملایانو، پروفیسورانواواستادانوڅخه همدغسې هیله اوتوقع کیده اوکیږي چې دمادیاتو، چوکی اونورولالچونوپه خاطرهروخت چې اړتیاورته پیښه شي اوباداران یې ورته حکم وکړي ارومروبه په خپلو ضمیرونوپښنې ږدي .

دغه تش په نامه استادان اوروحانیون له تیرو ۱۷ کلونو راهیسې- دسولي شورا، حج اوقاف وزرات، دعلماوو شورا اونورو شیطاني میکرافونو څخه همیشه داناري وهي چې طالبان باید جګړه ودروي، فدايي بریدونه حرام دي اودکابل رژیم په مقابل کې جنګ ناروا دی؛ د استعمار دغوتالیڅتوی وه ورځ هم دالفظ اوتوری له خپلوحنجروراونه ویست چې اخیرداجنګ اوجنجال جوړاومخي ته راغلي ولي دی او دکوموموخواومقاصدولپاره افغانان اوپاک ځړی قشر- (طالبان) مجبوریږي چې خپلې قیمتي ککری دامریکایانو او دهغوئ دمزدورانوپه مقابل کې قربان کړي؟

دوئ په یوې غونډه اوناسته کې هم داخبره ونکړه چې امریکایان اشغالګردي زمونږ دمقدساتواوملي نوامیسو توهین اوسپکاوی کوي، مدارس، مساجد، ودونه، جنازی، روغتونونه اوکلي باڼدي په قصدي ډول هدف ګرځوي بمونه پري غورځوي، دعاموخلکوپه کورونواوجونګړوچاپي ور وړي شهیدانوي وي اووحشي زندانونوته یې له ځانوسره بیایی!!

که دکابل دغونډې له ملایانواواستادانووپوښتوچې داڅه حکمت اودلیل دی چې دافغانستان په یوه کونج اوکنارکې چې کوم حقپال عالم دافغانستان دخپلواکی غږ پورته کړي اوصرف دومره ووايي چې امریکایان اشغالګردي په بیدردی افغانان وژني، مدرسي اوجوماتونه یې ورانوي؛ نوپه همدغه جرم یې امریکایي وحشیان اوجواسیس دغه عالم په هماغه شپه په هرقیمت چې وي پیداکوي باګرام اویادکابل دامنیت زیرخانوته یې دننه کوي اوپه کلونوکلونویې درک ورکوي خوبیاپه عین حال کې دکابل دغه په اصطلاح دوه نیم زروملایانوته هیڅ نه وايي بلکې په هغه سربیره هریوه ته په میاشت کې یولک یولک

افغانی معاش هم ورکوي اوبیایې دلویې جرګې تالارته هم دعوتوي!! نوښکاري چې ددغه لوی توپیرترشاحتما څه راز اونیاز شته؟

که رینښتادوئ دیني عالمان وي اودنیکلسون حلقه بګوش غلامان ونه اوسي نو لږترلږه خوبه یې دخپلې فتواپه یوه جمله کې داکرښنې ځای کړي وای چې دسولې په خاطردې هغه پنځه شپږزره علمای کرام، مشایخ اوطالبان چې په څرخي پله اوباګرام زندانونوکې له کلونو کلونو راهیسې- پراته دي پرته له قیداوشرطه ازادکړل شي اویادي امریکایان نوردعاموخلکو په کورونو او جونګړو بمونه اوډرون بریدونه نکوي؛ خو یوه دغسې کرښه اوجمله یې هم پکې ځای نشوای کړای، دامریکایانوپه ۱۷ کلن وحشت اوبربریت یې خاوري واړولي اویونوعه برائت یې ورکړدجنګ اوجګړې عامل یې هغه څوک یادکړچې په هیوادکې خارجي اشغال اوامریکایي دیمکراسی ته غاړه نه ږدي اودالله په ځمکه دالله نظام اوحاکمیت غواړي

ای دکابل رژیم درباری روحانیونواواستادانو! زمادي قسم په الله وي چې که همدغه دطالب دتوري شرنګ اوداتلو فدایانوپاکي ویني، دهغوئ دوجودسوځیدلي برخې اوکټري کټري اندامونه نه وي اوالله مکړه طالب له خپلې جهادي مبارزې لاس واخلي پوهیږی چې بیابه همدغه امریکایان اودغرب ایجنټان چې نن تاسې ورته فتواوي ورکوی له تاسې سره به کومه معامله کوي؟

یقین ولری چې په پیل کې به په ټولو ګیري درخریي، پټکي به موپه ګندونوکې درته غورځوي اویویوبه مو له دولتي شعبو اوجوماتونوڅخه په دې جرم شړي چې تاسي مسلکي اودیمکراته پوهه نلري دهغواودغوبشري حقونوناقضین یي اوټولنه له پرمختګ څخه راګرځوی اوله هغه ورسته به داعش درباندي مسلطوي!!

حقیقت دادی اوهربادرکه افغان چې خپلواک ضمیرولري په دې خبره یې سرخلاص دی چې امریکایانودافغانستان جګړه بایللي، دافغانانوکرکه اونفرت یې په مقابل کې اوج ته رسیدلی، ټولې ستراتیژی اونیرنګونه یې پوچ اوبې نتیجې ختلي اوس یواځې همدغه حربه ورپاتي ده چې دسولې اوجوړې ترعنوان اوشعارلاندې افغانان مصروف کړی اودخپلې خوښې اوخودساخته فتواووپه زریعه اویادکمونیستانودوخت د (شؤن اسلامي) دملایانوپه څیرچې ببرک کارمل اونجیب هم ساتلي اوجوړکړي وو داړخ ورباندې تود وساتي چې ګواکې امریکایان دکابل رژیم ترسیوري لاندې غواړي چې له طالبانوسره سوله اوجوړه وکړي

په حقیقت کې داټولې خبرې دروغ، پوچ تبلیغات دي، الله مکړه چې که طالبان هرڅومره تنزل هم وکړي اود ګلبدین په څیرله هرڅه څخه ورتیرهم شي امریکابه بیاهم همدلته موجوده وي افغانستان به دسیمې دټکولوپه جنګي میدان تبدیلوي، داعش یې له سوریې اوعراق څخه تیارراوستی دهمدې لپاره دی چې داسلامي امارت معتدله تګلاره پرې وځپي دهغوئ قوت الله مکړه ورختم کړي اوبیایې چې څه خوښه وي دداعش په شکل کې به یې سرته رسوي؟.

دکابل ورستی غونډې ته یوه درانه لیکوال مفتي (حسان) صاحب دخپلې تبصرې په لړکې غوره جملې کارولي چې زه یې هم دخپلې لیکنې دحسن اختتام په توګه یوځوکرښې دلته رانقلوم هغه وایي:

امریکایان اومزدوران یې که په دې فکرکې وي چې خپل دوه نیم زره معاش خواره یې راټول کړل اودخپلې خوښې فتوایې ترینه واخیسته اوکوم کنډوپړې ډک کړي، دوئ دې پوه شي چې شپږ زره علماء کرام یوازې په پول چرخي کې بندیان دي، هغه ستاسو په لاس کې دی، د هغو څخه پوښتنه وکړی چې ستاسو څه نظر دی؟ که هغوی د دغه دوه نیم زره علماوو فتوی رد کړه، بیا خو به یې مني چې طالبان پر حق او کابل رژیم او اشغالګر پر باطل دي؟ شپږ زره خو پر دوه نیم زره ډیر زیات دی، که د نورو بندیخانو علماء پر جمع کړو شمیر یې تر لسو زروهم اوړي.



دظالم حاکم په مخ کې حق ويل

ليکوال: مفتي سعيد

دشام لوی عالم اوسترمحدث امام اوزاعي رحمه الله چې زموږدامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله همعصرؤ، اودعباسي سفاح خليفه عبدالله عباسي په زمانه کې يې ژوندکاوه. عبدالله سفاح دعباسي خليفه ګانوله ډلې څخه يومتمرداوظالم خليفه ؤ، چې اته ديرش زره مسلمانان يې شهيدان کړي ؤ. ده دبني اميه ؤحکومت رنګ کړاودبنی عباسيه ؤدحکومت ډبره يې کېښوده. دبني اميه ؤجومات ته يې آسونه داخل کړل اوپه سفاح ونومول شو. يوه ورځ خپل قصر ته ننوت اوويي ويل: آياداسې څوک شته چې زمادحکومت مخالفت به کوي؟ ورته وويل شو: يوکس شته چې ستاخلافت نه مني اوامام اوزاعي يې بولي. هغه ستاحکومت نه مني، نويې امروکړچې دی راولی، هماغه ؤچې امام اوزاعي يې ده ته حاضرکړ. امام اوزاعي په داسې حال راغی چې غسل يې وکړاودخپلوجامونه لاندې يې کفن واغوست اوله کورنه دقصرپه خواروان شو. سفاح عبدالله خپلووزيرانواوعسکروته امروکړچې دقصرنه دباندې دواړوخواووته دوه ډلې عسکرپه ښې اوچپ اړخ کې دامام اوزاعي دويرولو لپاره ودروئ اوپه لاس کې تورې ورکړي، په داسې حال کې چې تورې يې اوچتې نيولې وي. بيايې امروکړچې امام اوزاعي راولئ. امام اوزاعي په وقاراودبدبه کې راغی اوله ځان سره يې وويل: والله مارأيته الاکأنه ذباب أمامي. يعنې قسم په الله داسې راته ښکاريده لکه مچ مې چې مخ کې وي. نوموړی وايي چې کله قصرته ننوتم نوماداسې فرض کړه چې ځان مې په الله خرڅ کړ. حاکم ورته وويل: ته امام اوزاعي يې؟ ده ورته په ډيروقاراوسکون سره وويل: خلک وايي چې زه امام اوزاعي يم. حاکم زيات غصه شواودده دوژلوقصديې وکړ اوبيايې ورته وويل: ای اوزاعي! ته زموږپه دې عمل کې څه وايې چې ماداالله تعالی بندګان اوداښارونه له دغوظالمانو بني اميه ؤڅخه خلاص کړل. آياداجهاددی اوکه نه؟ ده ورته وويل: ای اميره! رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: انماالاعمال بالنيات وانمالکل مرء مانوئ.

حاکم په دې ځواب اوريدوسره سخت په قهرشواوخپله امساېې پرځمکه ووهله. بيايې ورته وويل: دبني اميه ؤپه هغووينوکې ته څه وايې کومې چې ماتوی کړې دي؟ نوده ورته وويل: حدثني فلان عن فلان عن جدک عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: لايحل دم مرء مسلم يشهدان لااله الاالله واني رسول الله الابأحدی ثلاث: النفس بالنفس والثيب الزاني والمفارق لدينه التارک للجماعة. په دې ځواب اوريدلوسره حاکم نورهم په قهرشو.

امام اوزاعي هم خپل پټکی له سرنه راکوزکړترڅوچې دتورې په وهلوکې مانع نه شي. وزيران

هم لړشاته شول اوخپلې جامې يې راټولې کړلې، ترڅوچې دده وينه ورته ونه رسيږي. حاکم بياورته وويل: په دغومالونوکې څه وايې کوم چې ماله خلکوڅخه اخيستي دي اوپه هغو کورونوکې څه نظرلرې کوم چې ماله خلکونيولي دي.

امام اوزاعي ورته وفرمايل:

ان كانت فى ايديهم حراماً فهى حرام عليك ايضاً وان كانت لهم حلالاً فلاتحل لک الابطريق شرعى وسوف يجردک الله يوم القيامة ويحاسبک عرياناً كماخلقک فان كانت حلالاً فحساب وان كانت حراماً فعقاب.

يعنې: هغه مالونه که ددوی په لاسونوکې حرام ؤنوستاپه لاس کې هم حرام دي اوکه ددوی په لاسونوکې حلال ؤنوتاته دهغومالونواخيستل نه دي روامگرپه شرعي طريقه اوزرده چې الله تعالی به تالره لوڅ لغړخپل ځان ته دحساب لپاره ودروي. دامالونه که تاته حلال وي نوحساب به يې درسره وکړي اوکه حرام وي نوعذاب به يې ووينې. په دې ځواب اوريدلوسره دحاکم غصه نوره هم زياته شوه اوامام اوزاعي داکلمات په خپله ژبه تکرارول چې: حسبى الله لااله الاهوعليه توكلت وهورب العرش العظيم.

په پای کې يې دپيسويوه هميانۍ راواخيسته اودامام اوزاعي مخکې يې وغورځوله اوبيايې ورته وويل: دادرسره واخله. امام اوزاعي دغه هميانۍ په خپل ځای پريښوده اولاس يې وروړاندې نه کړ. په وزيرانوکې يوه وزيرورته اشاره وکړه چې داهميانۍ درواخله. امام اوزاعي دوزيرله لاس نه راواخيسته اوبيايې دوزايرانوپه مخکې داسې وغورځوله چې روپۍ ترينه په ځمکه وغورزيدې اوپه هسکه غاړه دپاچاله دربارڅخه راووت اوويې ويل: الله تعالی مې عزت نور هم زيات کړ. ويل کيږي چې کله امام اوزاعي وفات شونودغه حاکم يې قبرته راغی اوويې ويل: والله انى كنت أخوفک كخوف اهل الارض، وماخفت غيرک والله انى كنت اذارأيتک رأيت الاسد بارزاً. يعنې: قسم په الله زه له تادومره ويريدم چې دومره له ټولوانسانانوڅخه نه ويريدم اوله تاپرته له بل انسان څخه نه ويريږم. ته به مې چې وليدلې مابه ويل چې زمری مې وليده.

کاشکې دامام اوزاعي په څېرنن ورځ هم داسې حق پرست عالمان پيداشي. که چيرې عالمان دغسې دظالموحاکمانوته طمع ونه کړي اوهغوی ته حق ووايي، نوچيرې به حاکمان هم په ظلم اوبې انصافي کولوجرأت ونکړي.

بئس العالم عندباب الحاكم

ونعم الحاكم عندباب العالم

تازه اسرائیلي وحشت

او د اسلامي کانفرانس بېړنۍ غونډه

شهید زوی

دروان ۲۰۱۸م کـال دمـئ پـه ۱۴ مـې نېټـې پـه زرونـو فلسطیني ځوانان ، مېرمنې کوچنیان اوبوډاګان دجبر اوظلـم هغه دنګ اوقوي کنکریټي دېوال ته راټول شوي وو کوم چـې غاصب اسرائیلي دولت دخپلې قبضې دساتنې اودفلسـطیني مسـلمانانو دنقـل اوحرکـت دڅـارنې لپـاره پـه ناقانونـه ډول ودرولی دی.

دافلسطیني مسلمانان دتل ابیب نه بیـت المقـدس تـه دامریکا دسفارت دانتقالولوپر ضد د اعتراض کولوپـه موخـه راټول شوي وو ؛ داهغه وخت و چې دامریکا دولسمشر ټرمپ لور اویهودي زوم داسرائیلي حـاکمانو سره یوځـای پـه بیـت المقدس کې دامریکادنوي سفارت دپرانستلودمراسـموپه اړه جوړ شوي جشن کـې خنـداګانې کـولې؛ موسـکاګانې تبادلـه کېدلې او په داسې جوش اوجزبـې یـې دخوښـیو اظهارکـاوه لکه کوم دښمن هېواد یې چې همدا نن فتح کړی وي ؛ دلتـه داسرائیلیانواوامریکایانو شریـک دخوښیوجشـن روان و اوپـه همدې وخت کـې هلتـه دغـزې او اسرائیلـوترمنځ دېـوال تـه راټولوشویومسلمانانوباندې اسرائیلي وحشي فوځیانو دګولیـو باران جوړ کړی و ؛ اسرائیلي فوځي نښه ویشتونکو یو یوځوان ،مېرمن، بوډا اوکوچنی په نښه کاوه .

هلته د امریکا نوي پرانستل شوي سفارت کې دخوښۍ جشن په ختمېدو وو ؛ یو بل ته مبارکۍ ورکول کېـدې؛ چکـې وهل کېـدې او دلتـه پـه همـدې وخـت کـې پـه خوشـبېوکې اسرائیلي فوځیانو ٦١ بې وسلې فلسـطیني مظلـوم مسـلمانان ووژل او۲۷۰۰ تنان یې ټپیان کړل .

داسرائـیلي فوځیـانو دابربندوحشـت ټـولې نـړۍ پـه خپلوسترګو ولیداوټوله نـړۍ یـې وحشـت بـولي خـو امریکـا اواسرائیل دټولې نړۍ په سـترګو کـې دخـاورو اچولـو هڅـې کوي اولا هم وایې چې دا هر څـه اسرائـیلي فوځیـانو دخپلـې دفاع په موخه کړیدي .

اوس هیڅوک نشته چې دامریکا او اسرائیلونه وپوښـتي چـې پـه اسرائیلوکـوم نظـامي ځـواک حملـه کـړی وه ؟ کـه مظاهرچیـان دټـانکونو اوعصرـي وسـلوسره راغـلي وو یـا پـه اسرائیلي فوځیانوددوئ له لورې یو ډزشوی و ؟

که داهیڅ نه وو نو دا څرنګه دفاع ده ؟

داخو ښه په زړه پورې دفاع ده چې پر اسرئیلي فوځیانو یوه مرمۍ هم نده فایر شوې خـو دوئ پـه زرونـومرمۍ فـایر کړیدي اوپه زرونوعام بې وسلې خلک یـې پـرې ویشـتلي دي اوبیا هم داخپله دفاع بولي ؟!

په فلسطین کې دغاصب اسرائیلي دولت کـړنلاره ډېـره ساده اوروښانه ده ،یانې فلسطیني مسـلمانان دخپلـو کورونـو اوځمکونه ویستل او وربانـدې قبضه کول اوخپلې قبضې ته د دوام ورکولواوله ځان سره دقبضه شویوځمکو دساتلو په موخه دنـګ اومضـبوط دېوالونـه ودرول ؛ اوچـې فلسـطینیان ددې قبضـې دختمولوغوښـتنه کـوي ؛ یـاخپلوځمکو اوکورونـو تـه دبېرته راستنېدوخبره وکړي اودظلم اوجبر ددېوال له منځـه وړل وغواړي نو پرې هوایي اوځمکنۍ حملـې کـول اوپـه ګـڼ

شمېر کې يې ښه په بې دردۍ او وحشت وژل اوداهرڅه بيا خپله دفاع ګڼل اوددې سره دامريکا تائيد هم ملګری کول .

ټرمپ دامريکا په تـاريخ کـې ترټولـو زيـات داسرائيلـو دوست ، خواخوږی اوهر وحشت تـه يـې جـواز ورکـونکی او تائيدونکی ولسمشر دی ؛ ټرمـپ داسرائيلـو هـر وحشـت لـه پامـه غورځـوي اودامريکـا پخوانيـو ولسمشرـانو بـه چـې داسرائيلو وحشت په رسمي ډول غنـدلو هغـه هـم نـه کـوي ځکه چې دټرمپ تګلاره په منځني ختيځ کې دلويـو جنګونـو رامنځته کولوته لار برابرول اوداسيمه دلـوېې بربـادۍ سره مخامخ کول دي .

دآزادۍ غوښـتنه اوس دفلسـطيني مسلمانانوسـترجرم دی ؛ اسرائيل او امريکا غـواړي چـې فلسـطينيان دهغـه آزاد فلسطيني دولت دغوښتنې نه تېر شي چې دغاصب اسرائيلي دولت درامنځته کېدوپر مهال يې ورسره وعده شوی وه .

بيت المقدس ته دامريکا سفارت انتقالول له ځان سره داروښانه پيغـام لـري چـې ددوه ازادو دولتونـو دحـل خبـره اوس زړه خبره ده چې امريکا ترې منحرفه شويده ؛ اوس بـه يواځې يواسرائيلي دولت وي چې فلسطينيان بـه يـې ځانونـه اتباع ګڼي اوهغه هم ددرېمې درجې اتباع ؛ ددې انتقال لپاره چې خاص دمۍ ۱۴مه نېټه ټاکل شوې وه نـو ترشـا يـې همـدا هدف و ځکه چې يوه ورځ پس يوم نکبه وه.

هغه امريکا چې په نړۍ کې دبشر دحقوقو چغې وهـي او ستړې دعـوې کـوي دمـۍ پـه ۱۴مـې نېټـې يـې دمظلومـو فلسطينيانو پرجسدونو دخپل سفارت ودرولـو لـه لارې ټـولې نړۍ ته داهم ښکاره کړه چې په وړاندې يې دکمزورو ولسونو دځانونو هيڅ ارزښت نشـته او پـدې اړه يـې ټـولې خـبرې او دعوې غولونکې او له نفاق نه ډکې دي.

دمحترمولوسـتوالوپه علـم کـې بـه وي چـې پرمظلومـو فلسـطيني مسـلمانانوخو پـه خپـل تېـر ۷۰ کلـن تـاريخ کـې دسترووحشتونو نـه ډکـې ډېـرې ورځـې تېـرې شـويدي خـو فلسطينيان چې کومه ورځ يوم نکبه بـولي اوديـومِ نکبـه پـه نـوم يـې لمـانځي دا دمـۍ مياشـتې ۱۵ مـه نېټـه ده ؛دانېټـه دفلسـطين داوسـني او راتلونکـو نسـلونو لپـاره هيڅکلـه هـم دهېرولـو نـده ځکـه چـې د ۱۹۴۸ م کـال پـه همـدې نېټـې داسرائيلـو پـه نـوم غاصـب او نـا قانونـه خونخـوار دولـت دفلسطيني مسلمانانو نه پرقبضه شوې ځمکه رامنځتـه او پـه همدې يوې ورځ کې ۸ سوه زره فلسـطيني مسـلمانان دخپلـو کورونو نـه وويسـتل شـول ،چې د اوږدې دربـدرۍ نـه پـس دفلسطين ګاونډيو هېوادونو مصر،اردن،شام او لبنـان تـه پـه هجـرت کولـو مجبورشـول او ۷۰ کلونـه پـس هـم ترننـه دا فلسطينيان او ددوئ دريـم نسـل ددې هېوادونـو پـه مهـاجر کمپونوکې دفقر ،خوارۍ اومشقت نـه ډکـې دهجـرت شـپې ورځې تېروي.

دا ورځ پـه فلسـطيني تـاريخ کـې پـه يـوم نکبـه يـانې دفلسطيني تاريخ د لويې تبـاهۍ او بربـادۍ تـوره ورځ ګڼـل کېږي چې يـو لورتـه پـردې خـاورې دصهيونسـتانو تسـلط رامنځته شو او بل لور ته دومـره لـوړ شـمېر فلسـطينيان لـه خپلو کورونو وويستل شول.

دفلسطين مظلوم مسلمانان هرکال دسترو مظـاهرو پـه ترڅ کې دا ورځ دتـورې ورځ پـه نـوم لمـانځي تـر څـو ددوئ دحقوقو د ترلاسه کولو لپاره دنړيوالې ټولنې توجـو راجلبـه او بېرته خپلو کورونو ته ددوئ راستنېدلو ته لار برابره شي.

دتېرهرکال په څېر داځل د۲۰۱۸ م کال يـوم نکبـه هـم فلسـطيني مسـلمانانو لمانځلـه ؛فلسـطين تـه دفلسـطينيانو دبېرته راستنېدو غوښتنه يې کوله اوداځـل چـې داشـغال ۷۰ کلونه پوره کېدل نو دنړيوال احساس دراويښولو په موخـه دا احتجاج خوراستر اوتاريخي و.

دغاصب اسرائيلي دولت له لـورې دغـزې او لويـديځې ترانګې ترمنځ دجبرودرول شوي ديوال ته دتېـرو ۷ اوونيـوو راهيسې دغزې مظلوم مسلمانان راټـول دي او دټولـو يـواځې يوه غوښتنه او ناره ده چې فلسطين ته راستنېدل !او القـدس ته راستنېدل !

خو ددې غوښتنې او نارې په مقابل کې دمارچ د ۳۰ مې نېټې نه وحشي اسرائيلي فوځيانو پرهمدې فلسطيني لاريون کونکو بې رحمانه ډزې پیل کړې ؛په دې لاریون کونکو دډزوسره سم تمه کېدله چې نړيواله ټولنه به داسرائيلو ددې وحشت په مقابل کې غبرگون وښايي خومتأسفانه چې نړۍ ددې ټول حالت ننداره کوله او وحشي اسرائيلي فوځيانو په ۷ اونیو کې له ۷۰ زیات فلسطینیان شهیدان او له ۷ زرو زیات ټپیان کړل.

خو دمځ په ۱۴ مې نېټې دامريکا پـه سر پرستۍ کې دوحشي اسرائيلي فوځيانو وحشت بيخي ستر و؛ پـدې نېټـې امريکا دتل ابيب نه القدس تـه خپل سفارت انتقالولو او دټولـو بـین المللي اصـولو خـلاف يـې القـدس داسرائيلـو دپلازمينې پـه صـفت عمـلاً اعلانولـو چـې ورسره دمخالفت ښکاره کولو او دبين المللي اصولو دې مخالف کار دمخنيوي لپاره لازيات فلسطيني مسلمانان دجبر ديوال ته راجمع شول او ددې ناوړه عمل پرضد يې نارې پورته کړې چې پرې وحشي اسرائيليانو ډزې پيل کړې اويـاد قتل عـام رامنځتـه شو.

اسرائيل دغزې دکوم مسلح حرکت سره نـدي مخـامخ بـس پـه ۱۹۴۸م کـې دخپلوکورونونـه دويستل شويو۸ سوه زروفلسـطينيانوخپلو کورونوتـه دبېرتـه راسـتنېدواودغزې د۱۲کلنې محاصرې دختمولوغوښتنه ده ؛ ددې غوښتنې لپاره راټول شوي ټول تش لاس دي اوله ډېروپرته بـل هـيڅ پـه لاس کې نه لري .

غزه چې ۴۰ کیلومتره اوږدوالی او له ٦ نـه تـر ۱۲ کیلـو متروپورې پلنوالی لري دتېرو ۱۲ کلونوراهيسې داسرائيلو لـه لورې دمحاصرې په حال کې ده ؛ دهوا ، وچې اوسمندر ټـولې لارې يې بندې دي ؛ دغزې دامسـلمانان پـدې پوهېږي چې مقابله يې دنړۍ ديوداسې بې رحمـه غاصب دولـت سره ده چې دنړۍ ترټولو عصري وسلې په لاس کې لري اوټول لويديځ يې ترشا ولاړ دی ؛ فلسطيني مسلمانان په تشو لاسونودهمدې سترطاقت مقابله کوي اودانساني احسـاس ؛ همـت اوجـرأت بې ساري تاريخ جوړوي ؛ له حـد نـه زیـاتو دتکليفنونـو ډکـو حالاتو کې ژوند تېروي ؛

دوحشي اسرائيلي فوځيانودگوليومقابله په خپل لوړعزم ؛ انقلابي ولـولې اوعـالي همـت سره کـوي ؛ هـره ورځ خپـل شـهيدان ورونـه دفنـوي او بېرتـه سرحـد تـه راټـولېږي او داسرائيلي غصب ،سـفاکيت اوجارحيـت پرضـد احتجـاج تـه دوام ورکوي ؛دوئ هره ورځ ددې عزم او ارادې سره احتجـاج ته راوځي چې شايد دغفلت نه ډک نړيوال احساس رابيدار او ورته د اسرائيلو وحشت په نظر راشي .

که څـه هـم دملگروملتونـو داداري دروان وحشـت پـه مقابل کې یوڅه په حرکـت کـې راغلـه اودامنيـت شـورى ۱۴ غړويوپرېکړه لیک تصويب کړ خو امريکا ددې اداري پرېکـړه لیک په ډېر غرور ترپښو لاندې او ددې اداري سخت توهين يې وکړ.

تېر کـال دملگـرو ملتونـو پـه جـنرال اسـمبلۍ کـې يـو پرېکړه لیک تصويب شوی و چې د ۱۹۳ هېوادونو له جملې نه ۱۲۸ هېوادونــو دامريکـا پرېکــړه رد کـړی او داسرائيلــو دپلازمېنې په صفت يې دبيت المقدس له منلو انکار کړی و.

دبرتانې،فرانسـې،او المـان پـه څېـر دامريکـا مهـم اتحاديان هم پدې ۱۲۸ هېوادونـو کـې شامل وو خـو امريکـا ددې دومره سترې نړۍ دمخالفت او دملگرو ملتونو داداري دحيثيـت هـيڅ پـروا ونـه ساتله؛ددې اداري دغـړو دقـاطع اکثريت له مخې تصويب شـوی پرېکـړه لیـک يـې پردپـوال وويشت او ښه په غرور يـې دمـځ پـه ۱۴ مـې نېټـې پـه بيت المقدس کې په داسې حال کې خپل سـفارت پرانيسـت چـې وحشي اسرائيلي فوځيان د فلسطيني مسلمانانو په قتـل عـام اخته وو.

رښتیا دا ده چې امريکا پدې اقدام دټولې اسلامي نړۍ سره خپلـه دښـمني ښکاره او ټولـه اسلامي نـړۍ يـې خپلـه دښمنه کړه او دتاريخ يو نوی تورباب يې پرانست.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې القدس یا بیت المقدس په دوه شرقي او غربي برخو ویشل شویدی؛ غربي برخه یې اسرائیلو د ۱۹۴۸م په جنگ کې قبضه کړې وه او شرقي برخه یې په ۱۹۶۷ م کې دعربو او اسرائیلو ترمنځ درامنځته شوي جنگ په نتیجه کې ترخپلې قبضې لاندې راوسته.

په ۱۹۸۰ م کې اسرائیلو ټول بیت المقدس دخپلې پلازمېنې په صفت اعلان کړ خو دامریکا په ګډون ټولې نړۍ د اسرائیلو ددې پرېکړې سره خپل مخالفت ښکاره کړ چې دټرمپ ترراتللو دامریکا هر ولسمشر دمخالفت په همدې پرېکړې ټینګ پاتې شو.

رښتیاچې فلسطیني مسلمانانو په تشو لاسونو دبیت المقدس دازادۍ لپاره ډېره اوږده مبارزه وکړه؛القدس تل په فلسطین کې دراپورته شویو انقلابي تحریکونو او هرې انتقاضي عنوان ګرځېدلی خو صهیونیزم ته له حده زیات وفادار دامریکا اوسني ولسمشر ټرمپ چې دتېر ۲۰۱۷م کال ددسمبر په ٦ مې نېټې القدس داسرائیلو لپاره دپلازمېنې په صفت ومانه نو مظلومو فلسطینیانو په ډېر لوړ احساس دانتقاضې یو نوی تحریک پیل کړ چې تراوسه پدې تحریک کې ۱۴۰ فلسطیني مسلمانانو خپل سرونه قربان کړل او په زرونو ټپیان شول خو چې اسلامي نړۍ او په ځانګړي ډول داسلامي کانفرانس په نوم داسلامي نړۍ ګډ تنظیم پدې اړه مناسب غبرګون ښکاره نکړ نو خبره دې ته راورسېده چې دادی امریکا په بیت المقدس کې خپل سفارت هم پرانست.

داسلامي هېوادونوګډتنظیم اسلامي کانفرانس د۱۹٦۹ م کال داګست په ۲۱مې نېټې هغه مهال رامنځته شوچې شریرو یهودیانو ټول مسجد اقصی ته داور اچولو هڅه کړې وه چې له امله یې مسجد ته ډېر تاوان رسېدلی و ؛ په پیل کې دا د۲۴ هېوادونوګډکانفرانس و ؛ ورو ورو یې غړي زیاتېدل چې اوس یې ۵۷ واړه اسلامي هېوادونه غړیتوب لري ؛ هسې خوددې تنظیم درامنځته کېدواهداف زیات دي خو داچې درامنځته کېدولامل یې مسجد اقصی و نودمسجد اقصی اوبیت المقدس نه دفاع اود فلسطین دستونزې حل ددې تنظیم دسترو مسئولیتونوڅخه دی اوددې ستونزې دحل په نوم یې ګنې سرمشریزې غونډې هم رابللې دي خومتأسفانه چې دملګرو ملتونو د اداري په څېر دا تنظیم هم دفلسطین دستونزې دحل اودفلسطیني مسلمانانو دحقوقوپه ترلاسه کولوکې ناکام دی .

دتېر ۲۰۱۷م کال ددسمبر په ۱۳مې نېټې دترکې ولسمشر طیب اردګان چې اوس داسلامي کانفرانس مشر ـ ي هم په غاړه لري په ترکې کې یې ددې تنظیم غونډه هغه مهال راوغوښته چې دامریکا ولسمشر ټرمپ بیت المقدس دغاصب اسرائیلي دولت لپاره دپلازمېنې په صفت ومانه اوترڅنګ یې دتل ابیب نه بیت المقدس ته دخپل سفارت انتقالول هم اعلان کړل چې اوس یې دمئ په ۱۴ مې نېټې عملي هم کړ؛ دټرمپ داعلان سره سم دطیب اردګان له لورې داسلامي کانفرانس ترچتر لاندې داسلامي هېوادونو دمشرانو غونډه رابلل ډېر پرځای اقدام و خودې غونډې چې کومه پرېکړه وکړه هغه ډېره ناهیلې کونکې وه.

دغونډې هدف دامریکا په مقابل کې دبیت المقدس داصل حیثیت رامخې ته کول اوددې حیثیت ساتل و خوکومې پرېکړې چې رامخې ته شوې نوپکې دا وچې ختیځ بیت المقدس دفلسطین ابدي پلازمېنه ده .

حال داچې یواځې ختیځ بیت المقدس نه بلکې په تاریخي لحاظ ټول بیت المقدس دفلسطین پلازمېنه وه اوهمدا دفلسطینیانو اوټولې نړۍ دمسلمانانوغوښتنه ده اودهمدې لپاره دتېرو۷لسیزو راهیسې دمظلومو فلسطینیانو مبارزه روانه ده .

په ۱۹۴۸م کې چې غاصب اسرائیلي دولت لویدیځ بیت المقدس قبضه کړ اولاترننه یې په قبضه کې دې ، ددې پرېکړې له مخې یې ددې کانفرانس له لورې له یوې خوا قبضه ومنل شوه او له بل لورې یې دروببی. قبلې دتشخص

په اړه دفلسطینیانو او د نړۍ دمسلمانانواحساسات هم مجروح کړل .

که اسلامي کانفرانس دا تاریخي اشتباه نه وای کړې اوداېي ویلي وای چې بیت المقدس دفلسطین ابدي قبله ده نوشاید نن امریکا بیت المقدس ته دخپل سفارت دانتقالولو جرأت نه وای کړې .

دیادلو وړ ده چې دکانفرانس ځني غړو هېوادونو ددې پرېکړې سره خپل مخالفت ښکاره کړ خوچې اکثریت په بل لور ونو مخالفت ګټه ونکړه

د۱۴۵ مئ دعامه وژنې په مقابل کې بیا ددې کانفرانس مشر- طیب اردګان داسلامي هېوادونو دمشرانو غونډه راوغوښته ؛ غونډې کې ایله د ۵۷ اسلامي هېوادونو ۱۸مشرانوګډون وکړ نور ټول یې دهېوادونونمایندګان وو ؛ که داسلامي کانفرانفرانس دې غونډې ته نظر وکړونو داهم ګټوره نه ښکاري ځکه چې داسې هیڅ یکې نه ښکاري چې امریکا دې ته اړ کړي چې دبیت المقدس نه خپل سفارت بېرته تل ابیب ته منتقل کړي ؛فلسطیني مسلمانان به هم پدې پوه ووچې داسلامي کانفرانس سره نورخپلې هیلې تړل ندي پکار نوځکه خویې ددې کانفرانس دغونډې پرمهال هیڅ ډول هیله مندي ښکاره نکړه .

بس پدې غونډې کې یواځې دامریکا غندنه وشوه خوپه مشرانوکې یوهم دامریکا سره د دیپلوماتیکو اړیکو دپرې کولوخبره ونکړه او نه یې دا وویل چې په خپلو هېوادونو کې به د امریکا سفارتونه بند کړو او تر هغې به ورته د بیا فعالیت اجازه ورنه کړو ترڅو یې چې دبیت المقدس نه خپل سفارت بېرته تل ابیب ته نه وي انتقال کړي.

طیب اردګان اسرائیلي دولت ته دمسلمانانوپه قتل عام دترورېست دولت لقب ورکړ خودایې ونه ویل چې دایوغاصب ، جعلي اوناقانونه دولت دی ؛ ترکې خوورځې دمخه دفلسطیني مسلمانانوپه قتل عام خپل سفیر له اسرائیلو راغوښتی اوداسرائیلوسفیر یې له خپل هېواد نه ویستلی و؛ اوس پدې غونډې کې دنړۍ مسلمانانوتمه لرله چې ترکیه به دجرأت نه کار واخلي ؛ دتل لپاره به داسرائیلوسفارت بندکړي وداني به یې ونړوي اویابه پردې ودانۍ دفلسطین بیرغ رپاند کړي اودفلسطین دائمي سفارت به یې وګرځوي خو متأسفانه چې داسې یې ونکړل ،ولې ؟ځکه چې ترکې اسرائیل په رسمیت پېژندلي دي ؛ ددواړو ترمنځ هرکال دملیاردونو ډالرو سوداګریزه راکړه ورکړه کېږي او دغاصبو اسرائیلو دغازو لویه اخستونکې هم ترکیه ده .

که اسلامي نړۍ عملاً دفلسطیني مسلمانانوترشا ودرېګي او خبره یواځې دامریکااو اسرائیلو دغندنو اوتش په ژبه دفلسطیني مسلمانانودتائید پورې محدوده شي نوډېره ګرانه به وي چې ړومبۍ قبله اوبیت المقدس آزاد اوراخپل کړو .

خو امریکا او اسرائیل باید پدې پوه شي پرېکړې اواقدامات یې ددوئ لپاره خورا له تاوان نه ډک دي اوقبضه به یې په یو صورت کې هم دوام ونه مومي .

د تاریخ په اوږدو کې بیت المقدس۴۴ځل قبضه شوی اوبیا آزاد شوی ؛ هرځل اشغالګر له شرمه ډکې ماتې سره مخامخ شوي اووروستۍ فتحه ددې داصلي وارثانویاني فلسطیني مسلمانانو په برخه شوی .

اوس هم فلسطینان په لوړعزم اوډېر جرأت دبیت المقدس دآزادۍ لپاره جنګېږي اوپه هیڅ صورت دبیت المقدس له ازادۍ نه تېرېدونکي ندي ؛ ددوئ ددې لوړو عزایمو په مقابل کې به هیڅکله هم بزدله امریکا ټینګه نه شي اوهغه ورځ به خامخاراشي چې امریکا به دډېر ذلت سره یوځای له بیت المقدس نه کډې بارکړي اوبیابه په عمر دالقدس نوم وانخلي او بیت المقدس به دتل لپاره دآزاد فلسطین همېشنۍ پلازمېنه شي.

انشاءالله تعالی

د امام ابوحنیفه زیرکتیا

لیکوال: محمدگل سعید

یوځل دوخت خلیفه دامام ابوحنیفه رحمه الله، دامام شعبي رحمه الله، دامام سفیان ثوري اودیوبل فقیه عالم دنیولواوبیایی د ځان په وړاندې دحاضرولوحکم وکړ، خلیفه غوښتل چې ددوی څلوروڅخه یوتن دخپل خلافت لپاره دقاضی القضات په توګه وګماري، خو دې څلوروواړو دخلیفه دظلمونو او یوشمیر نورو ناروااوو له وجې ځانونه درسمي دندو داخیستلو یامنلو څخه ګوښه نیولي ؤ. دخلیفه له امرسره سم هغوی څلورواړه پولیسو ونیول، اودخلیفه په وړاندې یې دحاضرولولپاره روان کړل، تریواوړدمزل لنډولو وروسته چې په یوه ځای کې ددمې کولو لپاره لږ غونډې تم شول، نو هغه فقیه عالم دقضاء حاجت په پلمه دتم ځای څخه لږ لرې لاړ، کله یې چې ولیدل چې دپولیسوله سترګوپناه دی، نود هغه ځای څخه یې منډې کړې، اووتښتیده. پولیس دهغه په انتظارکې ؤ، خوهغه بیرته راستون نه شو، په پاتې درې تنوکې امام ابوحنیفه رحمه الله خپلودواړوملګروته مخ کړاوورته ویې ویل: ماجوته کړه چې هلته دخلیفه په وړاندې به څه کیږي، هغوی وویل: وایه هغه څنګه؟

امام ابوحنیفه رحمه الله وویل: هغه داسې چې زه هلته لاړشم، نویوه داسې خبره یاوینابه کوم چې دهغې خبرې یاوینابه دخلیفه منصورسره ځواب نه وي چې په دې توګه به زه پرهغه بری وموم اوځان به ترې وژغورم، اوشعبي به هم دخلیفه څخه دځان ژغورنې لپاره څه حیله اوپلمه جوړه کړي. البته سفیان ثوري ته به دخلیفه په دام کې ونښلي؛ چې بیاپه ریښتیاهم داسې وشول، کله چې هغوی درې واړه ښاغلي دخلیفه په وړاندې حاضرکړای شول، نوامام شعبي خلیفه ته وروړاندې شواوترې و یې پوښتل: ښاغلیه! داولادواومیرمنې دې څه حال دی؟ ددې مانۍ اودربارڅه حال دی؟ داصطبل (غوجل) دې څه حال دی؟ داسونواوخرودې څه حال دی؟ خلیفه منصور ته زیاته دتعجب وړښکاره شوه، هغه داسې چې هغه تن چې غواړم دټول هیواداوخلافت قاضي القضات شي تردې پورې ناپوهه دی چې دمجلس اداب نه پیژني، اودډک دربارپه منځ کې له ماڅخه زمادخرواواسونوحال پوښتي، په زړه کې یې له ځان سره وویل: داخوددې منصب لپاره اهل اوحقدارنه دی، نوامام شعبي ته یې وویل: ته ولاړشه! اونه غواړم چې ته دې زمادخلافت قاضی االقضات شې.

نوهغه وُچې امام شعبي په دې توګه ځان خلاص کړ او ولاړ، بیاخلیفه منصوردحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله لورته متوجه شو، اوویې ویل: ای ابوحنیفه! سرله نن ورځې څخه مې ته دقاضی االقضات په توګه وټاکلې، امام ابوحنیفه رحمه الله له خپله ځایه پورته شواوخلیفه ته وروړاندې شواووې ویل: زه ددې دندې اومسئولیت دسرته رسولواهل اولایق نه یم.

خلیفه منصوروویل: نه.....! نه......! ابوحنیفه یواځې ته ددې اهل یې.

امام ابوحنیفه رحمه الله وویل: جناب خلیفه! دلته دوه خبرې دي، دااوس چې ماڅه وویل دې کې به زه یاریښتونی یم یادرواغژن، که تاسومې ریښتونی منی، نوبیاتاسوپه خپله فیصله وکړه اوتسلیم مو کړه، چې زه ددې منصب اودندې اهل نه یم، اوکه درواغژن یم نو بیا درواغژن تن ته څوک دقاضی القضات دنده نه سپاري. خلیفه منصورحیران پاتې شو، که وایي چې ابوحنیفه تاصحیح وویلې، نو هم ابوحنیفه بري دی، اوکه وایي چې نه! تاصحیح نه بلکه غلط دې وویلې نوهم بري دی، نوهغه وُچې امام ابوحنیفه رحمه الله خلیفه منصور (چې په عباسي خلفاؤکې ترټولوزیرک، مدبراوهوښیاربلل کیده) لاځوابه کړ.

عالمان دین یا مجریان فرمان ترامپ؟

ابوصهیب حقانی

روز دوشـــنبه ۱۳۹۷/۳/۱۴ هـــش در کابـــل در همایشی ظاهرا بزرگ و به ادعای رسانه های اداره کابل نزدیک به سه هزار عالمان دین در تالار لویه جرگه جمع گردیده و به اصطلاح علیه جهاد و مجاهدین (که با جان و مال خود)، بر ضد کفار خون آشام امریکایی و ائتلاف قدرتهای جهانی مبارزه می کنند؛ فتوا صادر کرده و به قول شان جهادی که مجاهدین علیه امریکا در جریان دارند جهاد ندانسته و خلاف اصول شرعی دین مبین دانستند.

جای بسی تاسف است در کشوری که ملیون ها شهید داده، ملیونها معلول داده، ملیون ها خانه، بی سرپرست و فقیر و در به در شده و در برابر هر استکباری در هر زمان بخاطر دین خودشان جانفشانی های بی نظیر انجام داده و در اصطلاح کشورهای خاور میانه به کشور جهاد و مبارزه معروف است؛ چنین کسانی پیدا شوند که نه به لباس مردم عادی بلکه به لباس پاک و مقدس روحانیت بیایند یکجا، علیه جهاد به نفع استعمار جهانی فتوا صادر کنند!

تجارت هر چیز را دیده و شنیده بودیم، نیز گاهی به قیمت های ناچیز، کالا و اجناس مختلف النوع را به حراج و فروش می گذارند؛ ولی تجارت دین و قرآن را با این گستاخی و بی باکی ندیده بودیم که کسانی از جنس عالم دین بیایند علیه دین به نفع دشمنان دین فتوا صادر کرده و به آن خون های پاک، به آن مبارزه مقدس، به آن جانفشانی های بی نظیر اینگونه اهانت کنند؛ و دشمن ذلیل و زبون چنان در جنگ عاجز گردد که بیاید عالمان دین را علیه مبارزان استعمال کند.

جای تاسف است که یک تعداد به کلاه و مندیل های سفید و عباء و قباهای بظاهر زیبا، به محاسن این عالمان دین فروش فریب خورده و خوش شوند که گویا اکنون فتوا صادر شد که جنگ افغانستان هر چه باشد جهاد نیست و چیزیکه طالب از آن به عنوان جهاد یاد می کند جهاد نیست، در آن جمع که من یقین دارم اولا هیچ عالم حقگوی اشتراک نکرده و در ثانی بالفرض و المحال اگر اشتراک کرده باشد برایش اجازه نطق در مورد حقیقت جهاد و جنگ جاری افغانستان داده نشده؛ جای افسوس دارد که آن ریش سفیدان نا ریش سفید و عالمان به نام دین جهاد مقدس را زیر سوال بردند در حالیکه بر هیچ آدم عاقل و مومن خردمند پوشیده نیست که در مورد جهاد فعلی کمترین شک و تردید به خود راه بدهد؛ چه اینکه اگر این مبارزه مقدس نیست پس آن همه عالمان دین، حافظان قرآن، شیوخ حدیث و تفسیر که در خط اول جنگ با امریکایی ها در سنگرهای داغ جهاد به سر برده، شهید، زخمی و یا اسیر می گردند جز در دفاع از شرع و به دستور قاطع شارع دیگر چه عامل و انگیزهء می تواند داشته باشد؟

به عبارت دیگر از آن جمع بظاهر عالمان دین باید پرسیده می شد که بفرمایند آیات خدا، احادیث نبوی،

نصوص فقهی به ارتباط جهاد (که بخش اعظمی از قرآن، حدیث، فقه و تفسیر ما مسلمانها را تشکیل می دهد) در چه شرایط و زمانی بر امت اسلامی جهاد را فرض می داند؟؟؟

اگر این جهاد نیست که در برابر امریکا ایستاد شوی همان امریکائیکه به خون تک تک مسلمانان تشنه است، همان امریکائیکه پشتیبان اسرائیل غاصب قدس و فلسطین است، همان امریکائیکه قاتل ملت های مسلمان و بالخصوص افغانهای مظلوم است، همان امریکائیکه بر هیچ چیز ما مسلمان ها رحم ندارد، همان امریکائیکه امروز در هر کجای دنیا که مسلمانی در مظلومیت به سر برده و بر سرش بدترین جنایت های دوران صورت میگیرد سرانجامش به امریکا ختم می شود، اگر بر چنین امریکای متجاوز که ملتهای مسلمان را در این عصر و زمان به خاک و خون می کشد جهاد نیست پس جهاد چه وقت، علیه کی و در کجا فرض می شود؟؟؟

ایکاش دین خدا را به بازی نمی گرفتند، ایکاش این علمای دین همیشه چنین جرئت مند و دلیر در کنار دین می بودند و وقتی امریکا در گوشه کنار این سرزمین مسجد و مدرسه دینی را به خاک و خون می کشد نیز صدای شان را می کشیدند و فتوا صادر می کردند، ایکاش این عالمان دین از دین شرم کرده حداقل بنام دین و به آدرس دین علیه دین به این دروغگویی و جفا نمی پرداختند، کتاب خدا، سیرت رسول پاک - صلی الله علیه و سلم - فتوای فقهاء و ایمه دین را به تحریف و سخره نمی گرفتند و دستور ترامپ، کاخ سفید، پنتاگون و ناتو را ترجیح نمی دادند، حداقل با این حال اگر آبروی خودشان را بردند آبروی دین و عالم دین را نمی بردند؟!

یقینا اینها یا عالم دین نبودند یا اگر هم بودند بجای آنکه مبلغ دین خدا و احکامش باشند؛ مجریان فرمان کاخ سفید و امریکا بودند؛ ولی ایکاش می دانستند که با این فتوای سیاسی هیچ مسلمانی خام شان نگشته و فریب نمی خورند؛ زیرا فتوای که به امضاء و دستخط جنرال امریکایی رسیده و با تایید کاخ سفید و اداره کابل قرائت شود قابل قبول و باور هیچ مسلمانی نیست؛ چون این ملت تجربه دارد که هرگاه هر متجاوزی در این خاک عاجز آمده و تمام ابزار نظامی اش در برابر ایمان ملت، شکسته شده به ناچار دست به چنین حرکت مذبوحانهء زده که با ابزار دین به جنگ دین آمده، در حالیکه نمی دانند حتی همان ابزار نیز هرگز علیه دین کارساز نبوده و بلکه بالعکس مژدگانی فتح و پیروزی قریب الوقوع پیروان واقعی دین علیه اباطیل زمان را می دهد.

دیری نخواهد پائید که این آخرین حربه دشمنان هم بیکار و بی اثر جلوه کند و سبب روسیاهی و رسوایی شان گردد.

ان شاء الله تعالی و ما ذلک علی الله بعزیز

د علماوو له نامه څخه غلطه استفاده

د سترګو لیدلی حال

مولوي نصیر احمد روحاني

د تېرې ورځې غونډې په اړه چې د لویې جرګې په تالار کې د افغانستان د علماوو د فتوا قطعه نامې تر عنوان لاندې جوړه شوې وه، زه هم یو د همدې غونډې ګډونوالو څخه وم، باید هغه حقایقو ته اشاره وکړم چې د دواړو خواو مطبوعات په څرنګدو الفاظو ورباندې بحث نکوي.

-علماء په کوم نامه دې غونډې ته را غوښتل شوي وه؟

-دا ګډونوال علماء څوک او تعداد یې څومره وه؟

-علماوو په تالار کې په کومو اړینو مسایلو او موضوعاتو بحث وکړ؟

-مطبوعات ولې کمرنګه ښکارېدل؟

-دا فتوا او قطعه نامه چېرته او چا لیکلې وه؟

-چاودنه په کومو علماوو او په کوم وخت کې وشوه؟

-علماء په کوم نامه دې غونډې ته را غوښتل شوي وه؟:

زما خپل حال، د سهار سبا ناري څخه وروسته یو ملګري دوست چې د پوهنې وزارت اسلامي تعلیماتو په معاونیت کې دنده لري، ټېلیفون یې راته وکړ وای جناب مولوي صیب سبا د اوه بجو څخه تر دولسو بجو د لویې جرګې په تالار کې د علماوو یوه ډېره رنګینه غونډه ده ګډون پکې وکړه!

پوښتنه مې ترې وکړه د غونډې اجنډا او چا ترتیب کړې؟
ځواب یې راکړ: ما ته هم مالومات نشته خو نن په دفتر کې ملګرو راته وویل چې سبا د لویې جرګې په تالار کې د علماوو یو غونډه ده تاسو هم په کې ګډون وکړئ او ملګرو دوستانو مولوي صاحبانو ته هم د ګډون خبر ورکړئ، ځواب مې ورکړ سمده: زه په دې آند وم چې کېدایشي د روژې مبارکې میاشت ده د کوم حسن قراءت او یا ورته کومه بله علمي سیمینار غونډه به وي.

سهار اوه نیمې بجې مو ځان تالار بېروني دروازې ته ورساوه په دې وخت کې په لار او سرک هېڅ موانع کشمکش نه وه موجود، د دروازې عسکرو تالاشي ډېره جدي خو په ډېر ښه سلوک سره پای ته ورسېده، د عسکرو دا ښه سلوک ما ته شکونه راپیدا کړل چې نن ولي نظامي عسکرو په تالاشي کې دومره ښه سلوک کوي، چې زه هېڅ کله هم ورسره مخ شوی نه وم، تالار ته نږدې دهلېز کې موجود ولاړ مؤظفین کسان د ګډون والو ظاهري څېرو ته په کتو بند پاکټونه ورکول، تالار ته دا خل شوم په خپلو ملګرو مولوي صاحبانو مې سترګې ولګېدې سره جرګه شو مال یارانو څه کیسه روانه ده؟

وای کیسه خرابه ده خو لمړی دې بند پاکټ وګوره چې څه او څومره پیسې پکې دي، بند پاکټ مې پرانسته لمړی مې سترګې په یاده فتوا قطعه نامې ولږېدې چې لیکلي یې وه" فتوای متفقه علمای کشور در رابطه با وضعیت موجود افغانستان" مال ملګرو پلورل شوي یو خو قیمت مو هم ندی مالوم چې پر څو؟

یو ملګري رابندي غږ کړ چې خیر مه ورخطا کېږه قیمت دې په دې بل بند پاکټ کې شته سمدلاسه مې دا بل پاکټ هم پرانسته ومې کتل چې لس زره افغانی پکې بندې دي، یو ملګري راباندي غږ کړ چې خیر د پکول همدمره قیمت وي، مال تاسو پر څو پلورل شوي یئ: وای زما پکړی ده زه په پنځلس زره افغانی او دا بل ملګری چې په موږ کې لږ پند او چپن لري، دی په شل زره افغانیو پلورل شوی، د ملګرو مې وپوښتل چې تاسو په کوم نامه او څنګه رابلل شوي یئ؟ او په هغه ملګري چې زه یې دعوت کړی وم غږ کړ چې یار زما سره دې دوکه وکړه زما ستا څخه دا امید هیله نه وه، وای مولوي صیب په الله قسم چې زه هم خبر نه وم ځکه دا زموږ سره لمړی کړنه وه،

قطعه نامه مې ولوسته چې يو اړخيزه او مشکلات په کې ډېر وه، هېڅ اساسي موضوعات چې افغانستان پکې ښکېل دی نه وه څېړل شوي، لکه په افغانستان کې د خارجيانو شتون، د شپنيو عمليات، سوله په کوم شرايطو آو څنګه سوله او داسې نور اړين موضوعاتو شتون درلود.

د هر ګډونوال څخه چې پوښتنه کوم په څه نامه او څنګه دعوت شوی يې؟ اکثريت ګډونوال په مختلفو بهانو را بلل شوي وه، په ملګرو مې غږ کړ چې ستاسو خوښه زه درنه ولاړم هغوی هم په يو خوله ځواب راکړ چې موږ هم در سره يو، د تالار دروازې ته په رسېدو امنيتي عسکر رابندي غږ کړ: ” کجا ميري” مال صيب زموږ سره خيانت شوی موږ د غونډې له اجنډا څخه نا خبره وو” واي بروبرو فعلا اجازيه بيرون برآمدن نيست؟ ” د خپلو ملګرو سره بېرته تاوشو، هر ګډونوال چې راځي همدا پوښتنه ورسره مل ده واي څنګه چل دی لکه چې خبره خرابه ده، د ګډونوالو تعداد په زياتېدو وه، يو څو شېبې وروسته غونډه رسما د قاري عبيدالرحمن په تلاوت پيل شوه.

–دا کډونوال علماء څوک او تعداد يې څومره وه؟:

د تالار ګډونوال په درې برخو وېشل سوي وه.

لمړی: هغه بې طرفه ناخبره علماء چې زما په څېر يې هېڅ دولتي دنده هم نه درلوده.

دويم: هغه دولتي علماء چې اکثريت يې د سولې کمسيون او حج اوقاف وزارت کې دندې درلودې.

درېيم: هغه شاړ تش په نامه کسان چې نه يې پر مخ ګېرې درلودې او نه هم چېرته د ديني مدرسې ترڅنګ تېر شوي وه، سپينې پټکۍ يې پر سر کړې وې چې اکثريت ګډون وال له همدې جملې کسانو څخه وه، د تالار تنظيم کونکو کسانو کوښښ کاوه چې په ظاهري څېرو برابر ګډونوال په لمړيو او کامرو ته مخامخ څوکيو کېنه وي، او د دريم ډلې ځای ناستی په وروستويو څوکيو کې وه، تر څو تالار د ګډونوالو څخه ډک وښيې، ټول تعداد د ګډونوالو اته سوه شا او خوا ته ورسېده، داچې اوس اعلان د درې زره او دوه زره کېږي ما ته ډېر د خندا وړ او جالب خبره ښکاري.

–علماوو په تالار کې په کومو اړينو مسايلو او موضوعاتو بحث وکړ؟:

د غونډې د پيل سره سم علماوو شور غالمغال جوړ کړ چې موږ ته دې د بحث وخت راکړای شي په ياده قطعه نامه کې زيات مشکلات دي چې وربانديې آزاد بحث وکړو، په دې کې يو سپين ګيری مولوي صاحب چې په پښتو ژبه يې خبرې کولې په څوکې ودرېده وويل: ما ته د خبرو کولو وخت راکړئ تر څو په اړينو او بېطرفه مسايلو بحث سره وکړو، په دې کې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استاد او پلخشتي مسجد خطيب ملا امام عنايت الله بليغ او داسې نورو کسانو هم د خبرو کول وخت وغوښت، د تالا انانسر غږ وکړ چې خير مولوي صاحبانو لږ حوصله وکړئ تاسو ته د خبرو کولو اجازه شته وخت درکوو مه ورخطا کېږئ، لږ وروسته يې استاد عنايت الله بليغ ته بلنه ورکړه، استاد په مختلفو موضوعاتو مختصر بحث وکړ او په ښکېلو ډلو يې د روژې مياشتې په خاطر د اوربند غوښتنه وکړه، خو د خارجيانو شتون ته يې ډېره مختصر اشاره وکړه چې په افغانستان کې د ټولو ناخوالو اوبد بختيو عاملين دا خارجي ځواکونه دي، يو بل مولوي صيب ته يې هم وخت ورکړای شو خو هغه هم د استاد بليغ په څېر د حکومت په رسمي دنده بوخت ملا وه، د هېواد مخلتفو پېښو ته يې مختصر اشارې وکړې لکه د قندوز په حافظانو بمبار، د زمبق څلور لارې او د جمهوريت روغتون ترمخه، او وې ويل چې د افغانانو لوی ارمان هغه په وطن کې سوله راتلل دي او له دولت څخه يې وغښتل چې د يادې غونډې په څېر دې علماوو ته وخت او اختيار ورکړای شي ترڅو يادو پېښو او ناخوالو ته د حل لار پيدا کړي، خو اساسي موضوعات چې د خارجيانو شتون او داسې نورو مهمو مسايلو ته يې هېڅ کومه اشاره نه درلوده.

په غونډه کې هېڅ يو بېطرفه عالم ته وخت ورنکړای شو چې دوی خپل نظريات شريک کړي، انانسر ووېل: مولوي صاحبانو د وخت کمښت پخاطر موږ ته به ګرانه وي، چې هر مولوي صاحب ته د خبرو کولو وخت ورکړو، خير تاسو دا قطعه نامه په غور له ځان سره وواياست ستاسو نظرونه او اعتراضات د احترام وړ دي، زموږ سره يې شريک کړئ چې وربانديې غور

وکړو، ګډونوالو مختلفو موضوعاتو ته، په کتو خپل نظریات اوعتراضات ولیکل چې ما هم په خپله اعتراض نامه کې ځنې مسایلو ته اشارې وکړې، د خارجیانو شتون، د شپنیو عملیات، د خارجیانو بمبار، په محاکمو کې د شرعي احکامو سم نه تطبیق اوداسې نورو اړینو مسایلو ته په کتو خپل اعتراضات او وړاندېزونه ولېږل.

له دې څخه وروسته اتانسر غږ کړ: چې تاسو ته به اوس د دوه کسانو لخوا یاده قطعه نامه په پښتنو او دري ژبو ولوستلای شي، یاد کسان راغلل او د قطعه نامې په لوستلو یې پیل وکړ، ځنې ګډونوالو د اعتراض لاسونه وچت کړل، وې غوښتل چې په یاده قطعه نامې دې ورسره بحث وشي، او ځنې نور بیا زما په شمول د تالار څخه وتلو لار غوره کړه، د تالار دروازې څخه بهر عسکرو کوښښ وکړ چې زمږ د وتو مخه ډب کړي، دا چې د وتونکو کسانو تعداد زیات وه، عسکرو ونشو کړای چې د دوی وتو مخه ډب کړي.

-مطبوعات ولي کمرنګه ښکارېدل؟:

د غونډې له پیل څخه په ټول تالار کې دوه درې کامرو شتون درلود چې د هغوی ظاهري څېرې هم د ژورنالستانو په څیر نه وې، زیاتره کامریي انځورنه د تالار د منتظمینو لخوا اخیستل کېده، کیداسې د مطبوعاتو کمرنګی یو علت دا هم وي چې په تالار کې تېر شویو حقایق د بېطرفه مطبوعاتو څخه بهر ته ظاهر نشي، لکه د استاد بلیغ هغې مامولي خبري چې د خارجیانو مسلې ته یې اشاره کړیوه په هیڅ رسنیو کې ما تر دې دمه نه دي اورېدلي او نه هم د ګډونوالو اعتراضاتو او د دوی لیکونه ته کوم خبر ورکړلای شو.

-دا فتوا قطعه نامه چېرته او چا لیکلې وه؟:

قطعه نامه وړاندې له ګډونوالو څخه په تیاره کمپیوتري او چاپ شویو ورقو کې ترتیب اوپه بند پاکټونو کې په ګډونوالو وویشل شو، هیڅ ګډونوال په دې خبر نه وه چې دا قطعه نامه چېرته په کوم ځای کې او لیکوالان او بحث کونکي یې څوک دي، د قطعه نامې د لمړۍ صفحې څخه نیولې تر پای پوره یې هغه شرعي نصوصو ته په کې اشارې شوې وې، چې جګړه په مکمل ډول په خپلو ارادو د مسلمانانو په مینځ کې وي، باید سوله هم د مسلمانانو په لاس وشي، په دې کې نه د سولې شرطونه او نه هم چې د سولې مصلحین څوک وې، او نه هم د خارجیانو شتون او داسې نورو اړینو مسایلو ته چې د افغان جګړې اساسي عاملین دي اشارې موجود وې، زیات احتمال دا وه چې کیداسې یاده قطعه نامه د سولې کمسیون کسانو په لاس لیکل شوې وې، ځکه د غونډې رهبري هم د دوی پر غاړه وه.

-چاودنه په کومو کسانو او په کوم وخت کې وشوه؟:

کله چې د یادې قطعه نامې لوستل پیل شول ګډونوال په دې وپوهېدل چې د دوی شتون په یاده غونډه کې هسې سمبولک بڼه لري او دوی نه د هیڅ کومې پرېکړې حق او توان لري هر څه لا تر مخه برابر شوي، دوی د ناخوښۍ او د اعتراض په ډول له تالار څخه پښې سپکې کړې او بهر ووتل، کله چې بهر راووتو، د سرک څلور طرفه قوي کمربندنو مې سترګې ولګېدې، تر کوټه سنګي چوک پورې پر پیاده پښو لاړو، ښار ته رسېدو سره سم یو دوست ملګري تلیفون را وکړ، چېرته او له چاودنې څخه پخیر روغ ووتې، هک حیران شوم چې داسې قوي تالاشیو او کمربندونو څخه ځان وژونکی څنګه هدف ته ورسېده.

د چاودنې وخت:

د غونډې پای وخت دولس بجې ښودل شوی وه، خو غونډه لا روانه وه پای ته نه وه رسېدلې چې په یادو اعتراض کونکو یولس بجو شا او خوا چاودنه وشوه، د چاودنې سره سم موږ او نورو خلکو ته شکونه پیدا سوه، چې دا چاودنه چا او ولې په دې بېطرفه کسانو وکړه؟

اوس دوه درې ورځې تېرې شوې، د یادې چاودنې مسولیت نه هیڅ کومې وسلوالي ډلې پرغاړه اخیستی او نه هم تر دې دمه دولت د مجرمینو کوم مالومات ورکړل، چې دا علماء چا او ولې شهیدان کړل؟

دا شکونه اوس په حقیقت بدل شوي چې د یادو معترضینو شهیدانو علماو د قتل عاملین خپله دولت دی، دا د علماوو سره د دولت ډېره بې انصافي وه، چې هم یې له دوی نومونو څخه غلطه استفاد او هم یې شهیدان کړل. اوس پر علماوو هم د مړ او هم پر ژوندي کیسه ده.

د طالبانو الخندق عملیات

ولې تر توقع زیات بریالي دي؟!

مختار

د بهرنیو او دولتي ځواکونو خلاف د الخندق عملیاتو په ترڅ کې د طالبانو وروستیو پرمختګونو په نړیوالو رسنیو کې پراخ انعکاس کړی دی.

رویټرز خبري آژانس په خپل وروستي رپوټ کې لیکلي چې د ټرمپ د پوځي ستراتیژۍ په ترڅ کې امریکایي بمبارونو پر طالبانو کوم اغیز نه دی کړی؛ بلکې د هغوی جګړه لا تونده شوې او پر لیسې ډول یې د افغانستان په ډېرو سیمو کې دولتي مرکزونه تر خپل واک لاندې راوستي دي.

همدا راز د افغانستان لپاره د امریکایي مرستو او بیا رغونې د څار ادارې په خپل وروستي رپوټ کې ویلي چې د افغانستان په اړه د ولسمشر ډونلډ ټرمپ تګلاره د اټکل پر خلاف د مخالفینو په ځپلو کې ناکامه او طالبان یې په مقابل کې د پرمختګ په حال کې دي.

دغه اداره وایي، چې د امریکایي او افغان چارواکو د توقع خلاف د طالبانو ستر او واړه بریدونه په تونده سره روان دي او افغان حکومت یوازې پر پنځه شپېته سلنه خاوره واکمن دی.

د طالبانو په پرمختګونو د غربي رسنیو پورتنیو رپوټونو ته په کتو سره داسې ښکاري چې د هغوی (طالبانو) الخندق عملیات په غیر متوقع ډول بریالي او جانب مقابل یې له وار خطایي سره مخ کړی دی.

دا چې امریکایي او دولتي ځواکونه ولې د الخندق عملیاتو د کابو کولو توان نه لري لامل یې په لاندې لیکو کې لولو:

پردې او بې موراله جګړه:

اساسي خبره داده چې په افغانستان کې جګړه د امریکایي ځواکونو لخوا پیل شوې او د پرمخ وړلو ابتکار یې هم ټول د هغوي په لاس کې دی.

سره له دې چې امریکایي او د هغوي نور بهرني ایتلافي جنګیالي له نظامي لحاظه ښه مجهز خو نه د افغانستان له اراضي سره بلد دي او نه په افغانستان کې د جنګېدلو انګیزه لري.

فقط هغوی ته د امریکایي چاروا کو لخوا ویل شوي چې تاسو په افغانستان کې په اصطلاح د تروریستانو په خلاف د جنګېدو ماموریت لرئ، خو ډېر ځله هغوی خپله لیدلي چې د دوي په بریدونو کې

بیوزله ولسي- وګړي، بوډاګان، ښځي او آن ماشومان وژل شوي، او کله خو لا داسې هم پیښ شوي چې د دوي په هوایي بریدونو کې هغه دولتي سرتیري کوم چې د دوي مدافعین دي په بیرحمي سره وژل شوي دي.

د طالبانو خلاف جګړه کې داخلي ځواکونو فقط د هغو اجرتي جنګیالانو په حیث کارول کاریږي چې نه یې د جګړې صلاحیت په لاس کې دی او نه هم د هغې لپاره هیڅ کومه انګیزه لري.

هــــو! د هغــوي پـه منځ کـې ځینـي کســان شـته چــې د قومي او مذهبي تعصب په لحاظ په ځینو سیمو کې له سیمه ییزو خلګو څخه د غچ اخیستنې په روحیې جنګیږي.

دا ډول عملیات د ولسمشري د سلب صلاحیت شوي مرستیال جنرال دوستم لخوا د ملي یووالي حکومت د جوړیدو په مهال د هیواد په شمال په تیره فاریاب، سرپل، جوزجان، او بغلان کې د ځایي خلګو خلاف تر سره شول چې په موقتي ډول یې ځینې سیمي له محلي خلګو تصفیه خو وروسته هغه سیمې هم بیرته په کلي ډول د دولت له واکمنۍ وایستل شولې.

نور د هیواد په هره سیمه کې چیرته هم چې دولتي ځواکونه د طالبانو خلاف جنګیږي فقط له بهرنیو ځواکونو څخه دبې صلاحیته مدافعینو په حیث جنګیږي، بې صلاحیته په دې معنی مثلا که نن د امریکایي ځواکونو لخوا د هلمند ولایت د تخلیه کولو او پریښودلو پریکړه وشي افغان ځواکونه په هیڅ صورت نه د دې واک لري چې د بهرنیو ځواکونو د پریکړې مخالفت وکړي او نه هم په پوځي لحاظ د دې وړتیا لري چې یوه ورځ دي د

امریکايي ځواکونو له هوايي حمایت پرته د طالبانو د بریدونو په مقابل کې مقاومت وکړي.

د تیرې اونۍ د فراه جګړه يي یوه ژوندۍ بیلګه ده که د امریکايي ځواکونو هوايي حمایت نه وای فراه ښار به نن هم د طالبانو په ولکه کې و.

د جګړې په ډګر کې نه همغږي

د ملي یووالي حکومت د ولسي جرګې او په فراه ښارکې د عیني شاهدانو په حواله ویل کیږي چې په فراه باندې د طالبانو د وروستۍ جګړې په مهال د فراه ولایت والي او اړونده ځوکونو يې پرته له دې چې له طالبانو سره مقاومت وکړي خپل ځان د فراه ولایت مرکزي لیوا ته رسولی او د دې ولایت امنیه قوماندان او ځواکونو په یواځې سر د طالبانو مقابلې ته پرې ایښې وو.

دا وضعیت یواځې په فراه ښارکې نه؛ بلکې په مرکز کابل کې د حکومت له غبرګومشرانو ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله نیولې بیا د هر ولایت تر والي او امنیه قوماندان پورې جریان لري.

د فراه تر جګړې دوه ورځې مخته چې له بدخشانه تر فاریابه د ولسوالیو د سقوط تسلسل پیل شو او په سلګونو دولتي سرتیري ورکې مړه و ژوبل شول ډاکټر عبدالله د وزیرانو د شورا په مجلس کې په غوسه ناکه لهجه وویل چې مونږ په لوی لاس امنیتي سرتیري د مرګ کندې ته ورټیل وهو او مسؤلیت يې په غاړه نه اخلو.

ځکه په دغو بحراني شرائطو کې په دولتي سطحه مونږ هیڅ داسي تدابیر نه لرو چې د خپلو امنیتي سرتیرو د ژغورنې او خوندیتوب لامل شي، له څو اونیو راهیسي نه امنیت شورا او نه هم د ولسمشر په رهبري د امنیتی چارواکو غونډه دائره شوې چې د هیواد د ورستی پیښو په اړه ورکې لازم تصامیم ونیول شي ...

خو په عین همدي ورځ د ولسمشر ویاند ښاغلي چخانسوري د اجرائیه رئیس د خبرو په تردید کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل چې اجرائیه رئیس د ولسمشر او امنیت شورى له پریکړو ناخبره او ښاغلی غني د هیواد وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توګه هروخت غونډې کړي او د هیواد په بیلا بیلو برخو کي پوځي چارواکو ته لازمه اوامر صادر کړي.

په محاربوي اجراآتو کې نظامي هماهنګي د محاربي له اول نمبر لومړیتوبونو څخه ده، خو د ملي یووالي په نوم حکومت د منسوبینو او امنیتي چارواکو ترمنځ د عین محاربي په حالت کې د هماهنګي په ځای ښکاره مخالفت موجود دی.

یعني د طالبانو خلاف جګړه کې نه د امریکا او ناټو ترمنځ محاربوي همغږي شته، نه د امریکا او ملي یوالي حکومت ترمنځ او نه هم خپله د داخلي ځواکونو ترمنځ، چې دې کار د طالبانو الخندق عملیاتو ته په ټول هیواد کې له توقع پورته د بریالیتوب چانس برابر کړی دی.

د طالبانو اوربند او څو خبرې

میوند سادات

دډیرې خوښۍ ځای دی چې طالبانو او مخالفې ټلوالې یې داوربند اعلان وکړ، په څلویښت کلن جنګ کې دا لومړی ځل دی چې په ګران هیواد کې سرتاسري دزبندي اعلانیږي. الله تعالی دې زموږ له هیواده د یرغل ،جګړې، فساد او ټولو ناخوالو ویږ تغر ټول کړي.امین

دطالبانو او حکومت په اوربند کې ډیر توپیر شته، دبېلګې په توګه دطالبانو داوربند ډیره لویه ځانګړتیا داده چې دجګړې ابتکار له طالبانو سره دی، یعنې که طالبان وغواړي دحکومت ترواک لاندې سیمو آن کابل کې هم په ډیرو حساسو ځایونو کې دقیق بریدونه کولای شي. نو په دومره قوي موقف کې د دز بندۍ اعلان سولې ته دطالبانو ژمنتیا په اثبات رسوي. برعکس دطالبانو د مخالفې ټلوالې اوربند سولې ته ژمنتیا نه په ګوته کوي،ځکه ورځ تربلې یې دواک ساحه محدودیږي. په پوځي او رواني لحاظ دتهاجمي عملیاتو توان نه لري، په دفاعي حالت کې راګیر دي، نو اور بندیې چندان اغیز او اهمیت نشي درلودلای . لکه څنګه چې د جګړې نوښت له طالبانو سره دی، داوربند ابتکار هم دطالبانو په برخه شو.

یرغلګرو او دکابل حکومت دخپلو ناکامیو، ظلم، هراړخیز فساد او خالص جګړییز سیاست دپټولو په موخه له بیلابیلو لارو، دسیسو او دوکو څخه کار اخیستی او لا هم پر همدې سیاست ټینګار کوي. دوی ریښتنې سوله نه غواړي، د سولې له نامه څخه دځان په درنه او دطالب په سپکه ابزاري استفاده کوي. دغني داوربند اعلان د سولې لپاره نه ، بلکې دطالبانو پر ضد دمنفي ذهنیت د رامنځته کولو په موخه یو تکتیک دی،څو دطالبانو مدبر او پر ولس مین مشرتابه دزبندۍ په اعلان سره یو داچې سولې ته وفاداري په ډاګه کړه او بله داچې دمخالف اړخ له لوري دخلګو دتېر ایستلو دسیسه یې شنډه کړه.

طالبانو دحکومت برعکس دزبندۍ له اعلان سره دا هم ویلي چې:

د یرغلګرو پر ضد به جهادي ګوزارونه روان ساتي.

هغه جنګي اسیران به چې بیا ددوی پر ضد وسله نه پورته کوي خوشي کوي.

جنایې او جنګي بندیانو ته به سهولتونه برابروي.

خپلو جنګیالیو ته یې سپارښتنه کړې چې دولسي- مرګ ژوبلي دمخنیوي په خاطر له ولسي- تجمعاتو څخه داحتمالي بمبار له امله لیرې واوسي.

اوداچې دحکومت غیر مسلح کسان کولای شي دطالبانو دواک سیمو ته سفر وکړي.

له حکومت څخه دخلګو هیلې:

د یرغلګرو او حکومت په زندانونو کې زیاتره بندیان ولسي وګړي دي، دوی یوازې په دې تور چې طالبانو ته یې ډوډۍ ورکړې او یاله طالبانو سره د خپلوۍ اړیکې لري، نیول شوي او په کلونو کلونو بې محاکمې دتورو تمبو شاته ساتل شوي دي.همدا کسان ژر ترژره باید خوشي شي چې دخپلو بچیانو او والدینو سره داختر خوښۍ ولمانځي.

طالبان چې کوم بندیان خوشي کوي هغوی دحکومت عسکر وو، نو حکومت هم باید دولسي زندانیانو دخوشي کولو سر بیره هغه بندیان هم زاد کړي چې واقعا طالبان دي او طالبانو په لیکو کې جنګیدلي دي. په دې سره به طالبانو اعتماد نور هم زیات شي.

لکه څنګه چې طالبان اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو ته ژمن دي، رښتنې سوله او دمظلوم ولس سوکالي یې لوی ارمان دی.حکومت هم باید سولې ته ژمنتیا ثابته کړي، د سولې څخه ابزاري استفاده ونه کړي، رښتنې سولې ته ژمن شي،په عمل کې داسې ګامونه واخلي چې سولې ته رسیدل پرې ممکن وي. درښتنې سولې ارمان مو هله پوره کیدای شي چې هیواد کې مو پردی لښکرې نه وي، ځکه او فضاء مو په خپل اختیار کې وي.

که اشرف غني رښتیا سولې ته لیوال وي، نو باید تر هرڅه وړاندې دیرغلګرو سره امنیتي تړون لغوه کړي او اشغالګرو ته ووایې چې زموږ له پاکې خاورې ووځي.

د غلامۍ په رنځ بیمار

صدیق خوستوال!!!



چې څوک د غلامۍ په رنځ بیمار وی لکه ته
هغه د خپل اولس لپاره عار وی لکه ته

غلام شې اربکی شې یا جاسوس شې د پردیو
وهلی چې د مور او پلار ازار وې لکه ته

ده زه یم چې اولس راکوې ناز له ډیرې مینې
آنه یم چې اولس پر اوګو بار وی لکه ته

کرېږی او دردېږی ارام ساه اخیستځ نشې
خورلځ چې هر چا طالب ګزار وې لکه ته

چې څوک دې یرغلګرو داشغال سره ملګرې
هغوې بیا د کفارو صف کې شمار وی لکه ته

دا زه یم چې ملګری مې صدیق بولې صادق یم
آنه یم چې ملګرې ترې بیزار وی لکه ته

Shahamat

د اختر په ورځوکې مجاهدينو ته د مشرتابه هدايات

بسم الله الرحمن الرحيم

د دې لپاره چې د اختر په نيکمرغه شپو ورځو کې مو هيوادوال په اطمئنان سره د اختر لمونځ او نور مراسم تر سره کړي، د اسلامي امارت مجاهدين دې لاندې هدايات په جدي توګه عملي کړي.

۱ ــ ټولو مجاهدينو ته هدايت ورکول کيږي چې د کوچني اختر په اوله دوهمه اودريمه ورځ دې په ټول هيواد کې د داخلي مخالفينو پرضد تعرضي عمليات ودروي، خو که په مجاهدينو تعرض وشي کلکه دفاع دې کوي.

۲ ــ خارجي اشغالګر له پورته حکم څخه مستثنی دي، د هغوی په وړاندې خپل عمليات جاري وساتئ که هرځای او هروخت مو وليدل، تر کلکو ګوزارونو لاندې يې ونيسئ.

۳ ــ د نظامي کميسيون مسئولين او د ولاياتو واليان دې په خپلو اړوندو بنديخانو کې هغه بنديان تشخيص کړي او په اړه دې يې د مشرتابه مقام ته معلومات ورکړي چې کوم په اينده کې د دښمن په صف کې د نه دريدو تضمين ورکولای شي او د مجاهدينو پرضد د فعاليت نه کولو ژمنه کولای شي، تر څو يې له زندان څخه د خلاصون په اړه مشرتابه تصميم ونيسي.

۴ ــ د اسلامي امارت په بنديخانو کې چې څومره بنديان دي، هغه که جنايي وي که جنګي، د اختر په شپو ورځوکې دې مجاهدين د خوښيو سهولتونه او د امکان په صورت کې له کورنيو سره د ملاقاتونو زمينه ورته مساعده کړي.

۵ ــ مجاهدين دې د عام ولس په داسې تجمعاتو کې ګډون نه کوي چې هلته د دښمن له لوري د بمبار خطر وي، ترڅو يې زموږ ظالم دښمن په بهانه ګرزولو سره په عام ولس ړندې بمبارۍ ونه کړي او د خلکو د تلفاتو سبب ونه ګرځي. والسلام

د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا

۲۴/ ۹/ ۱۴۳۹هـ ق

۱۹/ ۳/ ۱۳۹۷هـ ش